﴿ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّداً فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ ﴾

رواه البخاري و مسلم

تنبيه المسلمين

من

الأحاديث الموضوعة

والخرافات في الدين

د موضوعي احاديثو او خرافاتو

څخه ځان ساتل

أبو يزيد عبدالقاهر خراساني حفظه الله

تنبيه المسلمين

من

الاحاديث الموضوعة والخرافات في الدين

تاليف

الشيخ ابويزيدعبدالقاهرخراساني حفظه الله

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نـــــوم:	تنبيه المسلمين من الأحاديث الموضوعة والخرافات في الدين
د مؤلف نـــــوم:	أبو يزيد عبدالقاهر خراساني حفظه الله
د چاپ شمېـــره:	۱۰۰۰ توکه
د صفحو تعداد:	۱۸۱
خپروونکـــــی:	ابطال الاسلام خپرندويه اداره

د چاپ حقوق مؤلف سره محفوظ دي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي تكفل بحفظ كتابه المنزل الى يوم الدين وجعل الاسناد خصيصة في هذه الامة المسلمة وهيئالها علماءَ حفظة جمعوا ونقلوا احاديث رسول الله ﷺ الصحيحة ، وزادو وابعدوا عن حياض السنة النبوة اقوال الغلاة والزنادقة ، ومكائد الوضاعين والكذابين ، والصلاة والسلام على خير خلقه محمد واله واصحابه ومن اهتدى بهديه وانتصر لسنته واعتصم بحبل الله المتين.

امابعد:

د الله تعالى فضل او احسان په مونږ او ټولو خلکو باندې دومره ډير دي چې شميرل يې مشکل دي چې يو فضل يې په مونږ دين اسلام دي چې دنورو اديانو په نسبت دهر قسم خرافاتو او منګړت روایاتو نه محفوظ دين دی شريعت محمدي يې دهر قسم افتراء دمفترينو او کذب دکذابينونه محفوظ ساتلي دې او د دين دحفاظت لپاره يې ناقدين او جهابذه علماء پيداکړي دي چې د دې صفاء او سپين دين نه دفاع په ختمولو دخرافاتو او په دين کې دهر قسم بدعاتو رسوماتو وکړي ترڅو چې شريعت محمدي ﷺ نقيه (پاک) پاتي شي داسې دين چې شپه يې لکه دورځي ده په وضوح اوبيان سره ، او بل احسان دالله تعالى داهم په مونږ کړي چې د دې دين دپاره يې په هر قرن کې مجد دين پيداکړي دي چې د دين نه دفاع او ددجالينو او يهودي ايجنټانو دمخنوي دپاره يې په دين کې پوه حاصله کړه دا دی ن به هميشه وي ترڅوچې قيامت قائم شي. دفتنوپه دې دور کې چې د دين اسلام صرف نوم پاتي دي اسلام نه څوک پيژني او نه ترينه

خبر دي د دين نه دجهل په وجه خلک په ارتداد کفر جمهوريت کې اخته شول مرتد طاغوتي حکومتونه رابانديې مسلط دي د دين اصلي چېره هيڅا ونه پيژنده تردي چې علماء هم خپل دين په تقليدي انداز کې پيژندلي عقيدي يې دکفر او دهريت دي په مدارسو کي هم دعقيدي ديوکتاب نوم هم چيرته نه شته ديونان دفلاسفه و کتابونه پکې دالحاد او دهريت دترويج دپاره ويل کيږي او نوم ورته بيا دعقائدو کتابونه اخلي فرقه پرستي مذهبي تعصب او تنظيم پرستي دې انداز ته رسيدلي ده چې دهر تنظيم اودهري فرقي او مذهب ځانته اسلام ځانته عقائد ځانته مدارس لري . کل حزب بمالديهم فرحون.

هرکله چې مونږ عوام الناس خوپريږده چې علماء ځانته وايې په مساجدوکي خطيبان هم دې وليدل چې عواموته داسې خرافات اوګمراه کن اقوال بيانوي چې د دې ورسره هم کوم تعلق نه وي دعقائدو او عباداتو په برخه کې يې عوام الناس په کفر او شرک کې اخته کړل خپله خوګمراه ؤ نوهر کله چې مقلَد وخويده نو مقلدئي په طريق اولى سره خويدلي دي لهذامونږ دداسې کتاب اراده وکړه چې په دين کې دروغجن روايات دروغجني قصې نوموضوعي مشهور احاديث په عقائدو او عباداتو کې خلکوته په ګوته کړو د دې دپاره چې خلک ترينه ځانونه وساتي ترڅوچې يې دين هماغسي بيضاء نقيه پاتي شي او فائده ورته ورکړي او دي کتاب ته مو نوم کيښود (تنبيه المسلمين من الاحاديث الموضوعة والخرافات في الدين) الله تعالى دې وکړي چې عامو مسلمانانوته ترينه فائده ورسيږي او زمونږ دپاره ذريعه دنجات ددارينوو ګرځي آمين يا رب العالمين.

فصل

په رسول الله ﷺ باندې ډيرو دروغجنو احاديث ترلي چې دهغې دپاره يې منکر او باطل اسنادونه هم جوړکړي دي اوپه دين کې په ترغيب او ترهيب کې بعضو کې سختي او بعضو کې اساني ذکرکړي ده بعضو کې مبالغه کړئ خو چې څومره ورته خپلو نفسونو دغه دروغ ښه ښکاره کړئ هماغسي يې کړي دوی درب العالمين نه يره نه ده کړي نه ښکاره او نه پټه خو الله تعالى به دوی ته بدله ورکړي په اندازه د دوی د دروغواو خرافاتو په دين کې.

١ - سهل بن السري وايې: احمد بن عبد الله الجويباري - محمد بن عکاشه الکرماني او محمد بن تميم الفريابي په رسول الله ﷺ باندې دلسو (١٠) زرونه زيات احاديث په دروغو جوړکړي دي (الموضوعات لابن الجوزي جـ ١ صـ ٤٨).

٢ - حماد بن زيد وايې: زنادقه و په رسول الله ﷺ باندې څوارلس زره احاديث په دروغوجوړکړي دي - ابن مهدي وايې: ما ميسره بن عبد ربه ته وويل دکوم ځائ نه دې دا احاديث راوړي چې - من قراء کذا فله کذا ومن صام کذا فله کذا ؟ نو ميسره بن عبد ربه وويل د دې دپاره چې خلکوته ترغيب د دې ورکړم (الموضوعات لابن الجوزي جـ ١ صـ ٤٠).

٣ - ابوعصمه نوح بن ابي مريم المروزي ته چا وويل دا دې دکوم ځای نه کړي - عن عکرمة عن ابن عباس في فضائل القرآن سورةً سورةً - يعنې دابن عباس نه ته دهر سورت فضائل بيانوي اوعکرمه د اصحابو سره

خو دا نه شته ؟ نو نوح وويل هر کله چې ماخلک وليدل چې د قرآن نه يې اعراض کړي ؤ او دا بوحنيفه په فقه او دابن اسحاق په مغازيو باندې مشغول شوي ؤ نو دا احاديث مي جوړ کړل د ثواب په نيت . (الموضوعات ج ۱ ص ۴۱).

تاسف اوڅيله: دفتنو او جهل په دې دور کې ډير افسوس دا دي چې علماء داسې خرافات او اباطيل اومناکير په دين کې ګوري چې انتشار پيدا کوي کتابونه د دې خرافاتو هم ورځ په ورځ زياتيږي خاص کر دوعظ او خطبو په کتابونو کې چې هيڅ يو کتاب به نه وي چې د خرافاتونه به خالي وي . ښکاره به په رسول الله ﷺ په منير باندې دروغ ويل کيږي په نورو آنبياء عليهم السلام باندې به هم د دروغو قصې ورتپل کيږي خو هيڅا نه خود دې رد وکړو او نه يې عوام په دې اګاه کړل فضلوا واضلوا ، مونږ به روسته ان شاء الله تعالى دهغه کتابونو شناخت هم وکړو چې اوسني عصر کې په مساجدو او مدارسو کې هغه ويل کيږي حالانکه په هغې کې بې شماره خرافات او قصص بې بنياده موجود دي . په دين کې دروغ ويل په رسول الله ﷺ باندې عظيم جرم دي چې کفر ته مفضي کيږي . رسول الله ﷺ فرمائي: من كذبَ عليَ متعمداً فليتبوء مقعده من النار. (صحيح البخاري ومسلم وغيرهما وهو حديث متواتر. تحذير الخواص من الاكاذيب القصاص ص ۷۸).

ترجمه: (چاچې په مادروغ وترل قصداً پس ده په اورکې ځانته ځای جوړکړو)

فصل

زمونږ سلفو د دين لپاره بې ساري کوششونه کړي احاديث يې سنداً اوريدلي دهغې يې تنقيح تصحيح او توثيق په کوشش سره کړي هم د دې وجې نه يې په مياشتو مياشتو سفرونه د يو حديث د پاره کړي خپل کورونه او اهل يې پريښي او دهر دروغجن او کذاب او وضاع حديث يې پريښي اوپدې باره کې يې ډير کوشش کړي. او پدې باره کې کتابونه مسانيد تاليف کړي او دهر حديث وجه دضعف او صحت يې بيان کړي. درجالوپه معرفت دهغې په طبقاتو او درجاتو کې هم کتابونه ليکلي دي څوک چې به متهم بالکذب يا بالوضع ؤ دهغه حديث به يې پريښوده او يا به شيعه او کذاب او مجاهر بالبدعة او بالکذب ؤ دهغه کتاب به يې سيزه او خلکوته به يې دهغه شناخت کوه تردي چې دهغه حديث به يې دهغه دطريقي او لاړې نه پريښوده لکه چې امام احمد بن حنبل او نورو حفاظو به دا کارکولو. لکن هر کله چې دغه دهدايت ډيوي مړي شولي خوکتابونه يې پاتي دي چې خلک دهغې په رنړا چليږي دزماني په تيريدلوسره د دين دښمنان شيعه ګانو، سبائي فرقي، او ديهودي جوړې شوي طريقي صوفيانو او نورو قُبُورينو د دين دغه شعاع ته ونه کتل او ډير په بې شرمۍ سره يې زمونږ د دين خاکه بدله کړه او زمونږ په دين کې په ادابو کې په اخلاقو کې داسې خرافات او قصې او زړه راښکونکي واقعات راننويستل چې دمحمدي ﷺ شريعت نه يې روګردانه کړل په خرافاتو يې سرکړل بدعات رسومات شرک او بدعت په اسلام ونومول شول د دين لاړې يې خړې کړې په خرافاتو يې علماء هم اخته کړل دحق دلاړې نه

يې منحرف کړل صحيح احاديث يې پريښودل دسلفو دغه کوششونه يې شاته وغورزول - په مدارسو کې په دې دور کې احاديث صرف دتبرک دپاره ويل کيږي نور اعمال يې په فقه او نوروبې بنياده اقوالو او خرافاتو بناء دې تردي چې نن اکثر مدارس دعلم القرآن او حديث نه خالي دي ، نه خودحديثو دياد ولو کوشش کوي او نه يې عمل کې راولي.

فصل

موضوعي حديث : داهغه دروغجن حديث دی چې په رسول الله ﷺ په دروغو جوړ شوي وي چې ورته المختلق او مصنوع هم وايې ځکه واضع ددې حديث دا حديث جوړ کړی دی نو ځکه ورته مصنوع او مختلق وايې: موضوعي حديث يا خو په اقرار واضع پيژندل کيږي او يا په قرينه دحال دراوي او مروي نه هم معلوميږي - امام ربيع بن خيثم وايې: دحديث دپاره داسې رنا وي لکه دورځې چې مونږ يې پيژنو او داسې تياره وي لکه دشپې چې مونږ يې انکار کوؤ (تحذير المسلمين صـ ۴۴) واضعين دحديثو بعضې داسې دي چې دغانه يې جوړ کړي وي او اسنادئي رسول الله ﷺ ته کړي وي او بعضې بيا داسې دي چې دبعضي زهادو او حکماء کلام نقل کوي او يا اسرائليات داهل کتابو نه نقل کوي نو دهغې نه حديث جوړ کړي.

علامه بدر الدين محمد بن سلامه الماردیني (رح) وايې: الموضوع ما صح انه مکذوب - يعنې موضوع حديث هغه دی چې کذب او دروغ يې ثابت وي.)

دموضوعي حديث علامات

۱ – دعلامه ابن القيم (رح) نه پوښتنه وشوه: چې آيا دموضوعي حديث پيژندل ديوقانون او ضابطې په لحاظ ممکن دي بغير د دينه چې سندئي وکتل شي ؟ نو هغه جواب ورکړو . حاصل دجواب دادي چې د دې معرفت هغه چاته اسان دي چې درسول الله ﷺ دسنتو نه واقف وي تردي چې صحيح حديث دوجود دغوښې سره يومزاج جوړشوي وي درسول الله ﷺ احوال پيژني بياوايې دموضوعي حديث علامات ډير دي چې بعضې دادي :

۱ – داحديث به مشتمل وي په داسې بي قانونه او بي اصله خبروچې داسې خبرې د رسول الله ﷺ معصوم شان سره لائق نه وي او نه هغه ويلي وي چې دابياډيرې خبرې دې

۲- چې دهغې تکذيب حِس کوي لکه حديث دبانجان او مسورو (العدس).
۳ - داسې کلام چې دهغې پوري تړوقي کيدي شي لکه احاديث دوريجو او احاديث دانارو او ختکي.

۴ - بعضې هغه احاديث چې دهغې نقض په صريح او صحيح احايثو سره کيږي پس هر هغه حديث چې مشتمل وي په فساد ظلم عبث اودباطل په مدح باندې يا په نوم دحق او يانور داسې ، نو رسول الله ﷺ دهغې نه بري دې .

۵ – په هغه احاديثو کې چې دا دعوه کيدي شي چې ګويا رسول الله ﷺ يو ښکاره کار دتولوصحابه کرامو په محضر کې کړي او دغه صحابه کرامو د دې حديث په کتمان اتفاق کړي نو دا به موضوعي وي .

۶ – هغه احاديث چې دانبياء عليهم السلام دکلام سره مشابه نه وي او بيا خاص کر درسول الله ﷺ دکلام سره چې هغه وحي ده (لکه دا حديث چې دري شيان په نظر کې زيادت پيدا کوي . شين شي ته کتل . دارنګ اوبو جاري ته کتل او ښائسته مخ ته کتل. (المنار المنيف صـ۲۲).

۷ – هغه احاديث چې في نفسه باطل وي نو دغه بطلان دلالت کوي چې داکلام درسول الله ﷺ، نه دی (لکه حديث دالمجرة) يعنې هغه منګي چې دعرش نه لاندې دي او دافعی مارد خولونه ډک دي.

۸ - هرهغه احاديث چې په هغې کې تاريخ دهغې اشياؤ ذکر وي لکه داسې اذا کانت سنة کذا وکذا وقع کيت وکيت – واذا کان شهر کذا وکذا وقع کيت وکيت . يعنې چې کله فلاني کال شي نو دا دا واقعات به پيدا کيږي يا فلانی مياشت شي نو فلاني فلاني کار به واقع کيږي – داقسم احاديث دباب تول دروغ او په رسول الله ﷺ افتراء ده.

۹ – بعضې هغه احاديث چې په هغې کې حديث زيات مشابه وي دبيان داطباء اوحکماؤ لکه دا حديث اکل السمک يزيد الجسد – يعنې دماهي خوراک بدن غټوي .

۱۰ – بعضې دهغه احاديثو نه چې شواهد صحيحه دهغې په بطلان دلالت کوي لکه حديث دعوج بن عنق الطويل – چې پدې سره واضع د دې حديث طعن لږوي په اخبارو دانبياء عليهم السلام باندې.

۱۱ – بعضې دهغه علاماتو دحديث موضوعي نه داهم دي چې دصريح دقرآن نه مخالف وي لکه احاديث دمقدار ددنيا - چې اوه زره (۷۰۰) زره کاله ده.

۱۲ – بعضې دعلاماتونه داهم دي چې په الفاظو دحديث کې رکاکة او قبيحوالی وي چې اوريدل يې هم بدګڼي طبيعت يې هم دفع کوي لکه حديث په ذم دجولاګانو او يا نوروکسب ګرو کې او يا احاديث د ذم دحبشي – سوډان او يا احاديث د ذم دخُصيان او يا ذم ديومملکت.

۱۳ – بعضې دعلاماتو نه يوه داهم ده چې سنت صحيحه ددغه حديث بطلان او نقض راولي لکه حديث : من سمي محمداً او احمداً لم يدخل النار – يعنې دچا نوم چې محمد او احمد کيښودل شو نو هرګز به اورته داخل نشي.

۱۴ – بعضې دعلاماتونه داهم ده چې دحديث سره داسې سپک او کوټه او بې کاره الفاظ وي چې ته يې پيژني چې دا حديث باطل دي لکه داهل خيبر نه جزيه نه اخستل . يا بل حديث چې رسول اللهﷺ دصوفيانو مجلس کې اودريدل او بيا ګډشو تر دې چې قميص يې وشليدو) دالله تعالى لعنت دې وي د دې حديث په جوړونکي باندې څومره لوی جراءت يې په دې دروغو

کړيدي - (وګوره المنار المنيف والاسرار المرفوعة لملا علي القاري صـ۴۲۴).

۱۵ - امام فخر الدين رازي(رح) ليکي: بعضې دموضوعي حديث علامه داهم ده چې د دغه حديث روايت وکړي شي په داسې زمانه کې چې داحاديثو کتابونه تدوين شوي وي او بيا په دغه مدونه کتابونو کې وکتل شي خو داحديث بيا نه دکوم محدث په سينه او نه په امهات الکتب الحديثيه کې پيدا شي اوهر چې په زمانه دصحابه کرامو کې يا هغې ته نزدي زمانه کې چې کله تدوين دحديثو نه ؤ شوي نو بيا جائز دي چې روايت وکړي يو د دوی نه چې دبل محدث سره نه وي (وګوره تنزيه الشريعة المرفوعة لابن عراق جـ ۱ صـ ۷).

فصل

د موضوعي حديث اسباب

امام ابن الجوزي (رح) ليکلي دي چې هغه راويان چې په موضوعي احاديثو کې واقع دي پنځه (۵) قسمه دي

اول قسم : هغه قوم چې په هغې زهد اوتقوی دومره غالبه وي چې دوی دحفظ دصحيح احاديثو او تميز کولو نه غافل وي ،نو بعضې د دوی نه خپل کتابونه ضائع شوي او يا سوي وي او يا يې خبس کړي بيا نو دې دخپل حفظ نه حديثونه بيانوي نو په کې غلط شي نو دوی کله دمرسل روايا تونه مرفوع جوړکړي کله موقوف روايات مسند وګرځوي کله په اسناد کې قلب وکړي او کله حديث په بل حديث کې داخل کړي.

دوهم قسم : هغه قوم دی چې په علم نقل کې پوره مهارت نه لري نو خطاء او فحش يې په روايا تو کې زيات شي.

دريم قسم : هغه ثقات محدثين دي لکن په دوی باندې په آخري عمر کې اختلاط راغلي وي نو په روايا تو کې ګډوډي پيدا کړي.

څلورم قسم: هغه قوم چې په هغې غفلت غالب شوي وي نو دا قسم خلک بيا په ډيرو قسمونو دي بعضې داسې دي چې څه ورته څوک وايې هغه قبلوي اووايې. نود داسې خلکو اولاد بيا روايت کوي او يا موضوعي حديث جوړوي تدوين يې کوي خو علم نه لري اوبعضي د دوی نه داسې وي چې احاديث نقل کوي اګرکه اوريدلي يې نه وي په دې ګمان چې دا به

جائز وي لکه چې بعضو د دوی ته وویل شول چې داصحیفه تا اوریدلي ده نو هغه وویل نه – لکن صاحب دصحیفي مړ دي نو دهغه په ځای یې روایت کوم.

پنځم قسم : هغه قوم دی چې د دروغو حدیثو قصد یې کړي وي – بیا دا خلک دریم قسم دي.

اول: هغه قسم دي چې خطا نقل کوي خو په دې نه پوهیږي چې دا خطا ء او موضوعي حدیث دې نو هرکله چې دوی پوه شول چې دا حدیث موضوعي دي خو بیاهم په خپله خطا اصرار کوي د وجي د دینه چې د دوی نسبت غلط ته ونه شي

دوهم: هغه قوم دی چې د ضعفآؤ او کذابینو نه روایات کوي او پدې پوه وې چې دا دروغ دي نو دوی تدلیس وکړي دهغې داسماؤ نو دروغ ددغه مجروحینونه دي او دغه قبیح خطاء ددغه مدلسینونه ده او دوی هم په مرتبه دکذابینو کې دي ځکه حدیث کې راځي چې : من روی عني حدیثاً وهو یری انه کذب فهو احد الکاذبین – یعنې چاچې زما یو حدیث روایت کړو او دي وینې چې دروغ دې نو دې یو ددروغجنونه دې).

دریم: داسې قوم چې ددروغو صریح قصدئي کړي وي دانه چې دوی خطاء شوي وي او داهم نه چې دوی ددروغجنو نه روایات کوي نو داقسم خلک کله په اسناد کې دروغ وایي نو دهغه چانه روایت کوي چې ترینه یې اوریدلي نه وي – اوکله احادیث پټوي چې نورو روایت کړي وي – اوکله احادیث وضع کوي – اودا وضاعین اته (۸) قسم دي.

وضاعين اته (۸) قسم دي

اول قسم: هغه زنديقان چې د شريعت د فساد قصد او اراده لري او په هغې کې د شک اچولو په زړونو د عوامو کې او يا په دين کې تلاعُب او لوبې کول غواړي.

دوهم قسم: داسې قوم دی چې موضوعي حديث جوړوي د خپل مذهب د نصرت د پاره لکه معتزله – روافض او نوري ډلې (يا لکه بعضې متحنفه چې دا حديث يې جوړ کړي چې ابوحنيفه سراج اُمتي) روسته به د دې تفصيل راشي.

دريم: داسې قوم دی چې موضوعي احاديث يې ترغيب او ترهيب کې جوړ کړي دي چې د دوی په ګمان خلک په خير باندې تيز کړي او د شر نه منع کړي چې دا بيا د شريعت معطل والی دی.

څلورم: داسې قوم دی چې دهري ښې خبرې د پاره يې سند ونه جوړ کړي دي.

پنځم: داسې قوم دی چې ديو غرض د نيوي په بنياد موضوعي حديث جوړوي چې بعضې پکې تقرب لټوي سلطان (پاچاه) د وخت ته – بعضې بيا جواب د سوال کونکي د پاره موضوعات جوړوي. او بعضې بيا په ذم د هغه چاکي چې خپله يې اراده د بدي وي د دغه شخص يا يو مذهب سره نو موضوعي حديث ورته په ذم کې جوړ کړي.

شپږم: بعضې پکې داسې قوم هم وي چې د دې دپاره احاديث جوړوي چې دي نآشنا خلکو ته ښکاره شي د دې دپاره چې خلک ترينه طلب وکړي او وايې وري.

اوم: بعضې پکې داسې قوم دی چې حفظ پري سخت شي نو داسې څه ووايې چې مقصود يې حاصل شي لکه قصاص چې دغانه قصې کوي –

اتم: هغه قصه ګو چې موضوعي احاديث يې يادکړي وي لکن صحيح احاديثو باندې اکتفاء نه کوي. وګوره الموضوعات جـ ۱ صـ **۳۵ – ۵۴** بتصرف يسير.

فصل

بعضې مشهور وضاعين

۱ – امام ابن الجوزي (رح) وايي: کذابين او دروغجن په احاديثو کې ډير خلک دي چې لوی لوی يې دا دی.

۱ – وهب بن وهب القاضي -۲ محمد بن السائب الکلبي - ۳ محمد بن سعيد الشامي المصلوب -۴ ابوداود النخعي - ۵ اسحاق بن نجيح الملطي - ۶ غياث بن ابراهيم النخعي - ۷ المغيرة بن سعيد الکوفي - ۸ احمد بن عبد الله الجويباري – ۹ مامؤن بن احمد الهروي - ۱۰ محمد بن عکاشة الکرماني - ۱۱ محمد بن تميم الفريابي – ۱۲ محمد بن زياد اليشکري. (تنزيه الشريعة المرفوعة جـ ۱ صـ ۱۱ والموضوعات جـ ۱ صـ ۴۸).

۲ – امام نسائي (رح) وايي: چې معروف دروغجن په جوړولو دحديث څلور دي – ۱ ابن ابي يحيى په مدينه کې ۲-الواقدي په بغداد کې ۳- مقاتل بن سليمان په خراسان کې ۴- محمد بن سعيد چې په المصلوب مشهوردي په شام کې (الموضوعات وتنزيه الشريعة جـ ۱ صـ ۱۱).

دموضوعي حديث حكم او دهغې نه ځان ساتل

۱ – امام نووي (رح) وايې: فمن روى حديثاً عُلم وضعه او ظن وضعه ولم يُبين حال روايته وضعه فهو مندرج في الوعيد - ولافرق في تحريم الكذب عليه الصلاة والسلام بين ماكان في الاحكام وبين مالاحكم فيه كالترغيب والترهيب والمواغظ وغيرذلک من انواع الكلام فكله حرام من اكبر الكبائر واقبح القبائح باجماع المسلمين – وقد اجمع اهل الحل والعقد على تحريم الكذب على احاد الناس فكيف بمن قوله شرع وكلامه وحي والكذب عليه كذب على الله تعالى – (شرح مسلم للنووي جـ ۱ صـ ۷۰).

ترجمه: پس هغه څوک چې موضوعي روايت کوي او يائي وضع پيژني او ګمان وکړي چې داحديث موضوعي دي خو د روايت حال بيان نه کړي نو دي به په هغه وعيد کې راځي (کوم چې دروغجن باره کې راغلي دي) چې هيڅ فرق نشته په دروغ جوړولو په رسول الله ﷺ باندې په باره داحکاموکي او يا په باره دترغيب او ترهيب کې وي يا په وعظ او يا نورو کې دانواعو دکلام کې چې داټول حرام او لويه ګناه او قبيح کار دي په اجماع دمسلمانانو باندې – اجماع دامت ده چې په يوشخص دخلکوباندې دروغ حرام دي نو په هغه چابه څنګه وي چې دهغه قول شريعت دي کلام يې وحي ده او دروغ په هغه لکه په الله تعالى دروغ دي.

۲ – علامه جلال الدين سيوطي (رح) وايې: اطبق علماء الحديث على انه لايحل رواية الحديث الموضوع في اي معنى كان الامقروناً ببيان وضعه

بخلاف الضعيف فانه تجوز روايته في غير الاحكام والعقائد – (الاسرار الموضوعة في الاخبار الموضوعة للقاري صـ ۴۲)

ترجمه: علماء دحديث په دې اتفاق دی چې دموضوعي حديث روايت حلال نه دي په هره معنی کـه وي مګر چې دهغې بيان وشي په وضع باندې په خلاف دضعيف حديث چې دهغې روايت جائز دي خو چې احکام او عقائدوکي نه وي.

۳ –علامه السخاوي (رح) وايي: روى الثوري عن حبيب ابن ابي ثابت انه قال من روى الكذب فهو الكذاب ولذا قال الخطيب: يجب على المحدث ان لايروي شيئاً من الاخبار المصنوعة والاحاديث الباطلة الموضوعة فمن فعل ذلک فقد بآء بالاثم المبين ودخل في جملة الكذابين. انتهى فتح المغيث جـ ۱ صـ ۲۳۵

ترجمه: سفيان ثوري دحبيب ابن ابي ثابت نه روايت کړي هغه وايي چاچې دروغ روايت کړه نو دې هم لوی دروغجن دې – د دې وجي نه خطيب بغدادي وايي: په محدث دا واجب دي چې هيڅ موضوعي حديثونه او باطل روايات نقل نه کړي چاچې دا کار وکړو نو په ښکاره ګناه اخته شو او په دروغجنوکې داخل شو).

۳ – امام حافظ ابو خطاب بن دحيه (رح) وايي: فتحفظوا عباد الله من مفترٍ يروي لكم حديثاً موضوعاً يسوقه في معرض الخير فاستعمال الخير ينبغي ان يكون مشروعاً من النبي ﷺ فاذا صح انه كذب خرج من المشروعية وكان مستعمله من خدم الشيطان لاستعماله حديثاً على

رسول اللهﷺ لم ينزل الله به من سلطان – انتهى (الباعث على انكار البدع والحوادث صـ ۳۲ للحافظ عبد الرحمن بن ابي شامة)

ترجمه: اى د الله تعالى بنده ګانو ځانونه وساتئ دهغه دروغجن نه چې تاسوته يو موضوعي حديث روايت کړي دخير کار په باره کې نو دخير کار بايد چې درسول اللهﷺ نه مشروع وي نو چې کله دا ثابت شي چې دا دروغ دي نو د مشروعيت نه ووتلو چې استعمال کونکي يې د شيطان خادم دي ځکه چې ده په رسول اللهﷺ هغه دروغ وترل چې الله تعالى پري کوم دليل نه دي راليږلي.)

اُمت محمديﷺ ته چا خرافات او اسرائيليات نقل کړي؟

مخکې ذکر شول چې شريعت محمديﷺ يو داسې صفا دين دي چې ليلُها کنهارها خو بياهم د دين دښمنانو دا برداشت نه کړل نو بعضې خرافات او ارسرائيليات يې په دې کې رائج کړل چې دغه خرافات او اسرائيليات دي اُمت ته بعضې بنکاره خلکو نقل کړي دي الله تعالى دي ورته عفوه وکړي چې بعضې يې دادي – علامه صديق حسن خان وايي: کروايات کعب الاحبار ووهب سامحهما الله فيما نقلاالى هذه الأُمة من بني اسرائيل من الاوابد والغرائب والعجائب مماكان ومما لم يكن ومما حُرف وبُدل ونُسخ – (تحذير المسلمين صـ ۵۹)

ترجمه: لکه روايات د کعب الاحبار او وهب بن منبه ، الله تعالى ورته عفوه وکړي په هغه څه کې چې دوى دي اُمت ته نقل کړي دبني اسرائلونه هغه نااشنا غرائب او عجائب - هغه چې ؤ او چې کوم نه ؤ او هغه چې تحريف شوي بدل شوي او نسخ شوي واقعات)

فصل

هغه کتابونه اورسائل چې په موضوعاتو مشتمل دي

کله چې دمفسرینو تفاسیر وکتل شي نو دهریو مفسر ځانته مشرب او منهج وي چې بعضې صرفي بعضې په نحوي بعضې بیا منطقي بعضې بیا دصوفیانو په اشاراتو مشتمل وي خو دابه د نشت برابروي چې هغه مفسر داویلي وي چې زه به خپل تفسیر داسرائلیاتو او موضوعاتو نه پاک ساتم - هغه مفسرین چې داوعده یې هم کړي وي چې خپل تفسیر به دخرافاتو او موضوعاتو نه پاک ساتم بیا هم یې په خپل تفسیر کې دخپلي وعدي خلاف وي نو موضوعات او خرافات به د یو آیت په تفسیر کې ذکر کوي.

البته بیا بعضې مفسرین دموضوعاتو او اسرائلیاتو نقد کوي خو هم ډیر کم چې بعضې ددغه تفاسیرونه دا دی.

۱ - تفسیر محمدبن جریر الطبري المتوفی سنه ۳۱۰ هـ: ددې تفسیر مشهور په جامع البیان في تفسیر القرآن سره دي او دیته تفسیر بالماثور وایي چې امام ابن جریر پکې ډیر اخبار او قصص اسرائیلي سنداً کعب الاحبار او وهب بن منبه او ابن جریج او نورو مسلمانانو داهل کتاب نه نقل کوي لکن ډیر کم نقد پري کوي او اکثر همداسې بې تنقیده پریږدي چې دایو لویه خطائي ده سامحه الله عنه - لهذا محقق ته باید د دې دسند دراویانو

تحقيق په کار دي او بغير دتحقيق نه دده اسرائيلي روايات او قصې ونه مني.

۱ – دمثال په ډول دسورة بني اسرائيل ۷ آيت - دسورة الکهف ۹۴ دسورة هود ۳۸ آيت دسورة ص ۳۴ آيت دسورة مريم ۸ آيت دسورة احزاب ۲۷ آيت دسورة ص آيت ۲۱ نه تر ۲۴ پوري – امام ابي جرير بعضې اسرائيلي قصې او خرافات ذکر کړي ولي نقدئي پري نه وي کړي البته په بعضو ځای ونو کې نقد هم کړي دا مونږ ځکه ذکر کړه چې عصمت صرف خصوصيت درسول الله ﷺ دي نو بايد چې هر عالم دي ديو روايت په ذکر کولو کې پوره تحقيق کوي.

۲ – **تفسير دمقاتل بن سليمان المتوفى سنه ۱۵۰هـ** : داتفسير هم ډير مشهور دي لکن په دې کې هم ډير خرافات عجائب او غرائب قصې دي چې عقل يې هم باطلوي په ډيرو ځای ونو کې يې بلاسند ذکر کړي او په بعضو کې سند ذکر کوي خو هغه هم دکذابينو او دوضاعينو لکه کلبي وغيره ، عن ابي صالح – سيوطي ليکلي دي چې کله کلبي مريض شو نو خپلو ملګروته يې وويل کل شيءٍ حدثتکم عن ابي صالحٍ کذب – يعنې هر هغه حديث او روايت چې ماتاسوته دابوصالح نه بيان کړي هغه دروغ دې . په دې تفسير کې ډير خرافات دي.

دمثال په ډول: دسورة (ق) په اول تفسير کې وايې – ق جبل من زمرة خضر آء محيط بالعالم مخضرة السماء منه الخ.... يعنې (ق) يو غر دي دشنوزمردو چې په ټول عالم يې احاطه کړي چې داسمان شنوالي هم دده نه دي .)

نورخرافات يې په تفسير دسورة ص آيت ۳۲ – مريم ۱۷ – مطففين ۱ سورة دهر آيت ۲۰ احزاب آيت ۳۷ سورة صبح آيت ۵۲ - ۵۳ – سورة ص – ۲۱ – ۲۴ سورة الكهف ۷۴ سورة النمل ۱۸ – اونور خرافات چې ځان ترينه ساتل په كار دي وګوره الاسرائيليات في التفسير صـ ۱۴۸.

۳ – **تفسير الثعلبي**: الكشف والبيان عن تفسير القرآن – ابو اسحاق احمد بن محمد بن ابراهيم الثعلبي المتوفى سنه ۴۲۷هـ - داهم تفسير بالماثور دي خو بغير دسند نه – صاحب د دې واعظ ؤ او دواعظ شان هميشه په اخبار اواسرائيلي قصو باندې بناء وي دده يو بل كتاب په قصص الانبياء كې ليكلي دي چې هغې ته (العرائس) وايې چې مذكوره كتاب دداسې خرافاتونه ډك دي چې دهغې نقل كول هم خطرناك دي – دا د دې دليل دي چې ثعلبي واعظ ؤ او دواعظ په تفسير اكثر او قاتو كې اعتماد نه وي – دثعلبي په تفسير كې اسرائيليات خرافات ډير دي چې دتساهل نه يې كار اخستي دي چې بعضې دهغې نه عقل او شرع رد وي چې بعضې دمثال په ډول دادي.

۱ – دسورة بقره آيت ۲۴۸ – دسورة يوسف آيت ۱۷ – ۱۸ دسورة الكهف آيت ۱۰ او نور داسې خرافات چې عقل يې هم نه مني خوافسوس چې دغه تفسير بالكل چاپ شوى نه دى ترڅو زمونږ اسلامي معاشره دداسې كتابونونه پاكه شوي وي.

امام ابن تيميه (رح) وايې: والثعلبي في نفسه كان فيه خير ودين وكان حاطب ليل ينقل ماوجد في كتب التفسير من صحيح وضعيف وموضوع

– واما الواحدي تلميذ الثعلبي وهو اخبر منه بالعربية – وتفسيره وتفسير الواحدي البسيط والوسيط والوجيز فيها فوائد جليلة وفيها غث كثير من المنقولات الباطلة وغيرها = انتهى مقدمة في اصول التفسير صـ١٩ لابن تيمية.

ترجمه: ثعلبي په خپله ښه او ديندار ؤ لكن حاطب ليل وو چې هر څه به يې راغونډول نقل كول به يې هر هغه څه چې د تفسير په كتابونو كې موندل كه صحيح به وو او كه ضعيف او يا موضوعي = اوهر چې واحدي دده شاګرد ؤ نو دى د ثعلبي نه په عربي ښه يوه ؤ او د ثعلبي تفسير او د واحدي تفاسير البسيط وسيط او وجيز پدې كې ډير فوائد شته او پكې ډير وچ او لامده باطل روايات هم شته).

علامه كتاني وايي: ولم يكن له (الواحدي) ولشيخه الثعلبي كبير بضاعة في الحديث بل في تفسيرهما و خصوصاً الثعلبي احاديث موضوعة وقصص باطلة - انتهى (الرسالة المستطرفة صـ ١٩).

ترجمه: د واحدي او دهغه استاذ ثعلبي په حديثو كې ډير څه نلرل بلكي په تفسير كې هم څه نه لري او خصوصاً د ثعلبي په تفسير كې موضوعي احاديث باطلي قصې ډيرې دي).

٤ – **تفسير الخازن**: علاء الدين ابو الحسن البغدادي الشافعي المعروف بالخازن التوفى سنه ٧٤١ هـ : مفسر خازن هم كله كله ضعف د رواياتوته اشاره كوي خو ډيركم - اسرائليات ذكر كوي او كله كله عدم حجت ته هم اشاره كوي خو اكثر اوقاتو كې بغير د تنقيد او بغير د څه ويلونه پري

تيرشي چې دا لوی فساد دې دأمت سره او د دين سره او د قواعد د شريعت سره = او خازن ورته ځکه وايي چې دي خازن ؤ په دمشق کې د کتب السميساطية - خازن واعظ او صوفي ؤ دي وجي نه يې تفسير داسرائلياتو او خرافاتونه ډک دي خازن چې کله دې وآيات تفسير ذکر کوي نو يوه طريقه يې نه وي په مختلفو طريقو يې ذکر کوي خو افسوس چې دعقيدي متعلق خازن صاحب بيا هيڅ تعاقب په اسرايلياتو يا خرافاتو پسې نه کوي - دخازن اسرائليات او خرافات دمثال په ډول په لاندې آياتونو کې اوګورئ.

۱ - دسورة الكهف آيت ۱۰ دسورة ص آيت ۲۱ نه تر ۲۴ پوري - لکن دسورة په دې آيت کې په قصه مکذوبه د اوريا او داود عليه السلام رد کړي دی .دارنګه دده عدم تعاقب وګوره سورة الانبياء ۸۳ - ۸۴ وغيره **خلاصه**: خازن هم لکه دنورو متصوفه او واعظانو په شان دخرافانو او باطلو قصو دذکر کولونه خالي نه دي - والله اعلم.

۵ - **تفسير ابن عباس**: نن عصر کې چې کوم تفسير مشهور دي دتفسير ابن عباس په نوم داهم په ابن عباس ورتپل شوي تفسير دی چې نسبت يې ابن عباس ته صحيح نه دي ځکه مذکوره تفسير دابن عباس (رضي الله عنه) نه محمد بن السائب الكلبي چې ابن عباس (رضي الله عنه) په تفسير سره مشهور دي خو دي يو کذاب ؤ بلکي محدثينو دي په وضع متهم کړي دي - علامه سيوطي (رح) وايي: واتهمه جماعة بالوضع (الدر المنثور في التفسير بالماثور ج ۲ ص ۴۲۳) سفيان ثوري خپلو ملګروته وويل اتقوا الكلبي فقيل له انک تروي عنه ، فيقول: انا اعرف صدقه من كذبه - ميزان

الاعتدال جـ ۳ صـ ۵۵۷) يعني تاسو ځان دکلبي دروايت نه وساتي نو چاورته وويل ته خو ترينه روايت کوي ؟ نو هغه وويل زه يې رښتيا د دروغو نه پيژنم) دوی‌م دابن عباس (رضي الله عنه) تفسير دمحمد بن مروان السدي دکلبي شاګرد نه هم نقل دي چې دي هم دخپل استاذ په شان کذاب وضاع ؤ ذاهب الحديث متروک الحديث ليس بثقه ؤ - (ميزان الاعتدال جـ ۳ صـ ۲۳).

علامه سيوطي (رح) وايې اوهي الطرق عن ابن عباس في التفسير هي طريق الكلبي عن ابن صالح عن ابن عباس فاذا انضم الى ذلک رواية محمد بن مروان السدي الصغير فهو سلسلة الكذب (الاتقان في علوم القرآن جـ ۲ صـ ۲۲۴) ډيره واهي طريقه دابن عباس نه په تفسير کې هغه طريقه چې يکې کلبي عن ابي صالح عن ابن عباس ده خو چې کله ورسره دالسدي الصغير روايت يوځای شي نو بيا خو ددروغو سلسله ده).

خلاصه: لهذا ابن عباس (رضي الله عنه) په مروجه تفسير به کوم اعتماد نه شي کيدي البته دابن عباس نه چې کوم تفسير په صحيحينو او نورو معتمدو کتابونو کې په خپلو سندونو ذکر دي دا بهترين تفسير دی په هغې به اعتماد کيدي شي.

٦ - التفسير بالماثور المعروف بالدرر المنثور للسيوطي (رح): علامه سيوطي المتوفى سنه ۸۴۹ هـ نقريباً چې دي د (۵۰۰) تصانيفو مؤلف دي چې په اکثر وفنونو کې يې مهارت لرلو لکن متاسفانه چې حاطب ليل هم ؤ په خپل تفسير کې هر قسم روايات راجمع کړي بغير دنقدنه لهذا

تفسيرئي نقدته ډير محتاج دي لهذا مذكوره تفسيرهم لكه د امام الحاكم المستدرک چې تنقيح او تحقيق ته ضرورت لري لهذا همداسې په مذكوره تفسير اعتماد کول نه دي پکار – والله اعلم.

۷ – تفسير دملاحسين واعظ كاشفي هراتي. المتوفى سنه ۹۱۰هـ: دملاحسين واعظ كاشفي تفسير په فارسي ژبه کې ډير مشهور دي او خاص په افغانستان او ايران کې – دې شيعه توب ته مائل ؤ بلکي تفسير او نور کتابونه يې لکه مخزن الشهداء – انوار السهيلي چې اوګورې نو معلومه به شي چې دې يو شيعه او رافضي ؤ د دې وجي نه يې تفسير په باطلو او دروغجنو روایاتو مشتمل دې بلکي دشرک دالفاظو اظهار يې کړي. علامه حقاني په مقدمه دخپل تفسير کې ليکي چې دي په پټه شيعه ؤ چې دده تفسير اردو ژبي ته هم ترجمه شوي په نوم دتفسير القادري - لهذا دده تفسير نه ځان ساتل په کار دي – وګوره نيل السائرين صـ ۳۱۵ رقم الترجمه ۵۵۵).

۸ – تفسير يسير پښتو: داهم مولانا مراد علي کاموي ليکلي چې ډير مشهور هم دي خو متاسفانه چې دي هم لکه دبعضو حاطب ليل ؤ او هر څه يې په تفسير کې راجمع کړي اسرائيليات موضوعات او دروغجني قصې پکې په اکثريت ذکر دي چې هيڅ تنقيدئي پري نه دي کړي لهذا پښتانه ورونه دي دا تفسير په پټو سترګونه ګوري هسي نه چې هغه وعيد کې رانشي چې کوم باندې چې حديث د رسول الله ﷺ دلالت کوي. خوبيا هم په بعضو ځايونوکي يې ترجمه ډيره دنحو او صرف مطابق کړي – سامحه الله – والله اعلم.

۹ – تفسير كابلي: داتفسير هم په اصل کې اردو تفسير ؤ چې بعضې ديوبندي علماء ليکلي ؤ او بياعلماء پښتوته نقل کړه داهم په اکثرو ځايونو کې لکه داصل خطاء شويدي ځکه مقلّد چې وخويږي نو مقلد خو خامخا خويږي لهذا دا تفسير چې نن صبا ډير مشهور دي په پټو ستر ګو کتل نه دي په کار تحقيق تنقيد ته پکې ضرورت ډير دي . والله اعلم .

۱۰ – تفسير معارف القرآن: داتفسير په اردو پښتو ژبه کې چاپ دي اصل يې اُردو چې مفتي محمد شفيع ديوبندي ليکلي دي چې پکې يې دخپل مذهب ښه تائيد په خلاف دقرآن وسنت ډير کړي ډير موضوعي روايات اسرائيلي قصې پکې موجود دي لهذا داهم لکه دنورو تفاسيرو تنقيح او تنقيد ته ضرورت لري . والله اعلم .

۱۱ – تفسير الكبير للامام الرازي المتوفى سنه ٦٠٦ بهرات: داتفسير په ۱۲ جلدونو کې دي تفسير کې ډير فائدي هم دي لکن دي هم لکه دنورو تفاسير و په شان د ډيرو بلاګانو نه ډک دي حتى چې بعضې علماء وايې چې فيه كل شيءٍ الاالتفسير – عجيب غريب يې پکې جمع کړي منطق فلسفه وغيره پکې ډيردي درواياتو او تنقيد په لحاظ ډير مفلس دي لهذا د دې تفسير نه دقصې يابل واقعي ذکر کول به روسته دتنقيد او تحقيق نه قابل اعتماد وي – اګر که تفسير کې يې فوائد هم ډير دي .

۱۲ – تفسير روح المعاني: دعلامه الوسي داتفسير دنقد په لحاظ ښه تفسير دي په اسرائيلي قصو ډير رد کوي کله کله په بعضو مفسرينو باندې سخريه هم کوي چې بعضې دروغجني قصې روايت کوي دده نقد

په اسرائلي قصو او دروغجنورواياتو باندې بطور مثال وګوره په سورة بقرة آيت ۲۴۸ سورة هود ۳۸ مائده ۱۲ سورة النمل ۱۸ سورة ص ۲۱ الی ۲۴ – سورة ص ۴۱ قصه دايوب عليه السلام سورة البقرة ۱۰۲ وغيره لکن متاسفانه چې علامه الوسي دصوفيت نه متاثره شويده او دبعضو آياتونو په تفسير کې د صوفيت اشارات هم ذکر کړي لکه آيت دسورة بقرة ۲۰ سورة يوسف آيت ۸۰ سورة النمل آيت ۲۳ وغيره – بهر حال تفسير يې باوثوق تفسير دی الافي بعض المواضع غفر الله له – خو ما من احد يؤخذ من قوله ويترک الا رسول الله المعصوم ﷺ – والله اعلم .

۱۳ تفسير ابن كثير المتوفى سنه ۷۷٤ هـ: - دامشهور تفسير چې په تفسير القرآن العظيم مشهور دي دابن جرير دتفسير نه دا دوهم بهترين ناقد او محقق تفسير دی اګر که امام ابن کثير مؤرخ دي او مؤرخ په نقل داخبار او رواياتو کې تساهل کوي ولي بياهم حافظ ابن کثير چې دعلامه ابن تيميه شاګرد رشيد دې دنقد او تحقيق نه بغير يې يوه خبره هم نه ده ذکر کړي الافي مواضع يسيرة لهذا په تفاسيرو کې معتمد او محقق او دنقد تفسير ، تفسير ابن کثير دي – اکثرو ځايونو کې د دروغجنو قصو اسرائلي رواياتو نه ځان ساتي - لکن بياهم بشر دي خطاء ورته شته کله کله بعضې روايات اسرائلي ذکر کړي او تعاقب ورپسي ونه کړي لکه سورة بقره آيت ۲۵۸ – سورة طه آيت ۲۰ – او نور دډير کمو ځايونو کې – سامحه الله وغفرله - خوبياهم اذا بلغ الماء قلتين لم يحمل الخبث . والله اعلم .

خلاصه: نورتفاسير هم شته چې داسرائيلي قصو او موضوعي احاديثونه ډک دي لکه تفسير بيضاوي کشاف زمخشري مدارک دنسفي - تفسير مظهري دثناء الله پاني پتي المتوفى ۱۲۲۵ هـ تفسير صاوي او نور ډير چې په دوی به اعتماد نه شي کيدي مګر پس دتنقيد او تحقيق نه - ډير تفاسير داسې شته چې هغه مونږ پريښودل ولي داقاعده يادساتل په کار دي چې دهر چا قول به هله قبول وي چې په قرآن او سنت صحيحه وتلل شي چې داصولو دقرآن او سنت مخالف نه وي او سند يې صحيح وي هغه به قابل قبول وي ورنه اګرکه يو مفسر يامحدث يا شيخ لوی عالم هم وي خو معصوم نه دي لهذا په پتو سترګو ديومفسر يا عالم خبره منل په کار نه دي - والله اعلم .

فصل

بعضې دوعظ او حديثو كتابونه چې په موضوعاتو او خرافاتو مشتمل دي

داخبره يادساتل په كاردي چې دين محمدي لكه چې مخكې ذكر شو خرافاتو او موضوعاتو بيانولو ته محتاج نه دي بلكې دوعظ كتاب ، الله تعالى خپله بيان كړي چې هغه دهغه منزل كتاب دى ، هذا بلاغ للناس - يعنې داقرآن ددعوت او وعظ كتاب دى اوبل ځاى وايې: فذكر بالقرآن من يخاف وعيد - يعنې ته په دې قرآن سره يره وركړه هغه چاته چې دالله تعالى دعذاب نه يريږي - دا آيتونه او نور داسې دلالت كوي چې دتبليغ او دعوت كتابونه قرآن وسنت صحيحه دي خو متاسفانه چې بعضې مليانو او يا جاهلو قصاصو قرآن او سنت صحيحه پريښود او اُمت ته يې دروغجنې قصې يهودي اواسرائيلي روايات په خطبوكې او وعظونو كې بيانول شروع كړل . فبدل الذين ظلموا قولاً غير الذي قيل لهم او: (استبدلون الذي بالذي هو خير) آيتونه په دوى ښه صادقيږي - دعوت كول هم دين دي او په دعوت كې به قرآن وسنت صحيحه پيش كولي شي ځكه كنتم خير اُمة اُخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنكر = مفسرين ليكي چې معروف هر هغه څه ته وايې چې قرآن او حديث صحيح يې ښه وګڼي او منكر هغه ته وايې چې قرآن و سنت صحيحه يې بد او منكر وګڼي لهذا خلكوته موضوعي روايات قصې يا اسرائيلي دروغجن روايات ذكر كول دا اُمت په يهوديت او رفض كې ننويستل دي زمونږ دين په اسناد بناء دي.

١ - علامه عبد الحي لكهنوي ليکي: لابد من الاسناد في كل امرٍ من امور الدين وعليه الاعتماد اعم من ان يكون ذلک الامر من قبيل الاخبار النبوية او الاحكام الشرعية او المناقب والفضائل والمغازي والسير والفواضل وغير ذلک من الامور التي لها تعلق بالدين المتين والشرع المبين فشيء من هذه الامور لاينبغي عليه الاعتماد مالم يتاكد بالاسناد لاسيماً بعد القرون المشهود لهم بالخير - انتهى الاجوبة الفاضلة ص٢٧.

ترجمه: لابدي ده دهر كار نه په دين كې داسناد ذكر كولونه او په دې اسناد به اعتماد كولي شي او دابه عام وي كه د رسول الله ﷺ احاديثو يا احكام شرعيه وي مناقب فضائل مغازي اوسير اويا نور وي خو چې د دين سره تعلق لري او دشرع مبين سره يې ارتباط وي نو سندئي ضروري دي نو ترهغې به په دغه مذكوره شيانو اعتماد نه شي كيدي ترڅو چې د دې شيانو مضبوط والي په اسناد سره نه وي شوي او خاص بيا دخيرو القرون نه روسته زمانه كې).

دعلامه لكهنوي حنفي دقول نه دامعلومه شوه چې د دين په هر كار كې كه هغه احكام وي فضائل وعظ دعوت - غزوات رسول ﷺ مناقب وغيره به ټول په اسناد بناء وي لهذا كه دكومي قصې يا روايت او حديث اسناد نه وي هغه به دده دقول مطابق قبول نه وي. اوس هغه كتابونه پخواني او اوسني ذكر كوم چې مشهور خو په خرافاتو مشتمل دي.

الاربعون الودعانية – دا څلويښت احاديث دي چې ابن ودعان الموصلي المتوفى سنه ۴۹۴ هـ تصنيف کړي امام سيوطي ليکلي : لايصح منها حديث مرفوع على هذا النسق بهذه الاسانيد وهي مسروقة سرقها ابن ودعان من واضعها زيد بن رفاعة - ويقال : انه الذي وضع : رسائل اخوان الصفا - وكان من اجهل خلق الله في الحديث واقلهم حيآء واجراءهم على الكذب – انتهى الذيل على الموضوعات صـ ۲۰۲)

ترجمه: يعنې دا اربعون ودعانيه نه يو حديث هم صحيح نه دي په دې ترتيب او په دې اسانيدو سره او دائي غلاکړي وه دزيد بن رفاعه نه – کوم چې د دغه حديثو جوړونکي ؤ اوويل کيږي چې زيد بن رفاعه هغه سخص دي چې رسائل اخوان الصفآء يې جوړکړي ؤ او په مخلوق دالله تعالى کې دده نه بل جاهل نه ؤ په حديثو کې اوډير بې حيآء او په دروغو ډير زړور ؤ)

۲ – الشهاب في الحكم والامثال والاداب: داهم دابو عبد الله محمد بن عبد الله بن سلامة بن جعفر القضاعي الشافعي المتوفى سنه ۴۴۵ هـ تاليف دى – امام الصاغاني وايې په الدرر الملتقط کې : چې دې کتاب کيې ډير موضوعي احاديث اودروغو قصې دي – (تحذير المسلمين صـ ۴۲)

۳ – فضل العلمآء – داهم دفضائلو باره کې ليکل شويدي چې دعلماء او علم باره کې ډير دخرافاتو او موضوعاتونه ډک کتاب دى – دمصنف نوم يې شرف الدين بلخي دي – اودهر يوي خبرې په هکله وايې : من تعلم مسئلة من الفقه فله كذا وكذا – الخ.... يعنې چاچې دفقه دامسئله زده

کړه نو دده دپاره دومره دومره ثواب دي داهم دخرافاتو کتاب دی (تحذير ص ۴۲)

٤ - **مسائل دعبدالله بن سلام** (رضي الله عنه) : داهم دوعظ او تبليغ په بعضو کتابونو کې ذکر دي چې رسول الله ﷺ په عبدالله بن سلام (رضي الله عنه) يهودي چې اسلام يې راوړي ؤ په ده امتحان وکړه او بعضې سوالات يې ترينه وکړه - علامه ابن الوردي وايي چې داقول خرافات او دروغ دي . (تحذير المسلمين ص ۴۲)

٥ - **دملاحمو او جنګونو قصې او اخبارات**: - علامه سخاوي په المقاصد الحسنة کې وايي ولا اصل لکتب الملاحم ولا يصح فيها وفي الفتن غير احاديث قليلة قاله الخطيب -) دملاحمو باره کې چې څومره کتابونه ليکل شويدي هغه هيڅ صحيح نه دي او په فتنو کې ډير لږ احاديث صحيح دي داخبره امام خطيب بغدادي کړيده.

علامه سيوطي په الدرر المنتثرة في الاحاديث المشتهرة کې وايي : قال احمد ثلاث کتب ليس لها اصول : الملاحم والمغازي والتفسير -قال الخطيب في الجامع : هذا محمول على کتب مخصوصة في هذه المعاني الثلاثة غير معتمد عليها لعدم عدالة ناقليها وزيادة القصاص فيها - انتهى

ترجمه: امام احمد وايي درې کتابونه دي چې صل ورلره نشته يو دجنګونو - مغازيو او تفسير - خطيب بغدادي وايي چې داخبره محمول

ده پدې چې د دينه مراد خاص کتابونه دي په دې معنى کې چې په هغې اعتماد نه شته ځکه نقل کونکي يې عادلين نه دي او بل پکې قصې زياتي شويدي.

مطلب دا دی چې دتفسير بعضې کتابونه چې غير معتمد دي يا دمغازيو يا دجنګونو باره کې چې خاص کوم کتابونه وغيره معروف او متداول کتابونو نه نقل دي نو داهغه کتابونه دي. (تحذير المسلمين صـ ۴۷)

٦ – فتوح الشام للواقدي – تفسير الكلبي - تفسير دمقاتل بن سليمان: علامه السخاوي ليکلي دي چې دکلبي کوم تفسير لکه دابن عباس مشهور دطريقي دکلبي او واقدي نه دا ټول دروغ دي حتى چې دي وايې وتفسير الکلبي کذب کله لايحل النظر فيه قاله احمد – قال الخطيب وتفسير مقاتل بن سليمان قريب منه وکتب الواقدي کذب ومنها فتوح الشام - يعنې دکلبي تفسير ټول دروغ دې چې کتل پکې حلال نه دي داخبره امام احمد (رح) کړيده . اوخطيب بغدادي وايې چې تفسير دمقاتل بن سليمان هم تفسير دکلبي ته نزدي دی او دواقدي کتابونه چې بعضې دهغې نه فتوح الشام دي ټول دروغ دي.) البته – دمغازي په کتابونو کې زيات اصح کتاب دموسى بن عقبه دي او دمحمد بن اسحاق سيرت بياهم علماء معتبر ګرځولي دي (تحذير المسلمين صـ۴۷

٧ – دصوفيانوتفاسير: لکه دابن عربي يو تفسير دی په دوه جلدونو کې يا بل تفسير د سُلمي چې په حقائق التفسير مشهور دي - علامه شوکاني

ليکلي دي چې داتفاسير نه دي - ولاشک ان کثيراً من کلام الصوفية على الکتاب العزيز هو بالتحريف اشبه منه بالتفسير بل غالب ذلک من جنس تفاسير الباطنية - (تحذير المسلمين صـ ۴۷)

ترجمه: دي کې شک نشته چې دصوفيانو خبرې د الله تعالى په کتاب کې تفسير نه بلکي دا تحريف دي او غالب د دينه دباطني تفسيرونونه دي.

۸ - تفاسير الثعلبي والواحدي والزمخشري - روح البيان داسماعيل افندي حقي: داتفاسير هم دموضوعاتو او خرافاتونه ډک دي چې شيخ الاسلام ابن تيميه ورته اشاره هم کړيده - علامه ظافر القاسمي وايي: من الذين نفقت عليهم الاحاديث الموضوعة الشيخ الخازن صاحب التفسير المسمى بالمعالم واسماعيل افندي حقي صاحب التفسير المسمى بروح البيان - والثعلبي والواحدي والزمخشري فلايحل الوثوق بما يروي عن السلف - انتهى تحذير المسلمين صـ ۴۸)

ترجمه: هغه مفسرين چې خپل تفاسير يې په موضوعي احاديثو ډک کړي لکه تفسير خازن - روح البيان دافندي حقي - تفسير ثعلبي - واحدي او زمخشري چې په دوی به اعتماد نه شي کيدي په نقل دسلفونه په تفسير کې.)

۹ - نزهة المجالس ومنتخب النفائس: داهم په عربي ژبي کې دي چې سره دپښتو او فارسي ترجمي چاپ شويدي دده مصنف نوم عبد الرحمن بن

عبد السلام الصفوري الشافعي المتوفى سنه ۸۹۴ - دي - علامه الظافر القاسمي وايي وهو من الكتب المشحونة بالموضوعات والخرافات والاسرائيلية فان مؤلفه قد شحنه بالموضوعات مما لايدخل تحت حصر وفيها حكايات لااصل لها - (تحذير المسلمين صـ ۴۸).

ترجمه: داهغه كتاب دى چې په موضوعاتو خرافاتو او اسرائيلي قصو مشتمل اوډک دي ځكه مؤلف دا كتاب په داسې موضوعاتو ډک كړي چې دشمارولو نه دي او پكې داسې حكايات هم شته چې بې اصله دي)

۱۰ - تنبيه الغافلين لابي الليث السمرقندي: داهم دوعظ كتاب دى مؤلف يې امام ابو الليث السمرقندي حنفي دي پدې كتاب كې هم ډير بلايا دي خرافات اسرائيلي قصې شته علامه ذهبي وايې فيه موضوعات كثيرة يعنې ډير موضوعات پكې دي - داهم په يوجلد كې په عربي ژبې كې چاپ دي چې اوس يې پښتوترجمه هم شويده . تحذير المسلمين صـ ۴۸) دابو الليث السمرقندي بل كتاب: قرة العيون ومفرح القلب المحزون داهم دموضوعاتو نه ډک كتاب دى . الشيخ محمد بن عبدالوهاب (رح) وايې: والقاري فيها يحتاج الى من يعلم بما يوافق الحق فيعمل به ومايخالف الحق فيتركه مجموعة الرسائل ج ۱ صـ۲۲۲).

ترجمه: يعنې لوستونكي د دې كتاب محتاج دي هغه څه ته چې دي پيژني دحق نه پس عمل به پري كوي او هغه چې دحق مخالف وي هغه به پريږدي

۱۱ – الجامع الصغير للسيوطي (رح) : علامه سيوطي مخكي دده تذكره وشوه چې دې جيد عالم ؤ لكن دي هم حاطب ليل ؤ جامع صغير دحديثو لويه مجموعه ده چې ټول ۱۴۲۵۴ څوارلس زره شپږسوه څلور پنځوس احاديث يې راجمع کړي او دخپل تساهلي عادت مطابق يې په ډيروکم تنقيد کړی خو الحمد لله علامه محمدناصر الدين الالباني جامع صغير بيادوه حصې کړه صحيح الجامع الصغير او ضعيف الجامع الصغير - دصحيح الجامع الصغير احاديث ۸۲۰۲ او دضعيف الجامع ۲۴۵۲ احاديث چې پکې موضوعات او ضعيف احاديث دي – لكن دجامع كبير او صغير ټول موضوعي احاديث علامه عباس احمد صقر او دكتور احمد عبد الجواد بيا ۸۱۹ ذكر كړيدي . لهذا صرف دجامع صغير نه حديث نقل كول به قابل اعتماد نه وي ترڅو چې د علامه عبدالرؤف مناوي فتح القدير شرح جامع الصغير ونه كتل شي او يا بل دحديثو دنقد كتاب او يائي سند ذكر نه شي – والله اعلم

۱۲ – كتاب حياة الحيوان للدميري.

۱۳ وقصص الانبياء للثعلبي.

۱٤- كتاب المستطرف للابشيهي: علامه دميري دكتاب حياة الحيوان مؤلف په خپله موضوع كې نبه كتاب دي دهغې نه به نقل كول دحديثو دتحقيق او تنقيح نه قابل اعتماد نه وي ځكه ډيرې اسرائيلي قصې موضوعي روايات پكې موجود دي – دارنګ قصص الانبياء دثعلبي هم په ډير اسرائيلي قصو او خرافاتو مشتمل دی – او كتاب المستطرف

داهم عجائب غرائب اواسرائيلي روايات ذكر كوي چې په نقل كولو ددغه كتابونو نه احتياط په كار دى.

١٥- **كتاب انيس الجليس ونديم الرئيس**: داهم دعربي كتاب دى مؤلف يې ابو عبد الله القضاعي البلنسي المالكي المتوفى سنه ٤٥٨ چې پدې كې هم ډير خرافات او موضوعي قصې دي (تحذير المسلمين ٤٨)

١٦- **خزينة الاسرار جليلة الاذكار**: داهم د محمد بن علي بن ابراهيم الحصاري الحنفي تاليف دى - چې ډير خرافات پكې دي خو عجيبه داده چې كله دي كوم باب داذكارو يا اسرارو ذكر كوي نو وايي: باب الاحاديث الصحيحة الواردة في كذا نو بيا د دينه روسته ټول موضوعات ذكر كوي - لهذا د دې نه هم ځان ساتل په كار دي - (تحذير المسلمين صـ ٤٩

١٧- **كتاب تحفة الاخوان في قراءة الميعاد في رجب وشعبان ورمضان**: داهم لكه دنورو واعظينو په شان خپل دا كتاب دموضوعي احاديثو نه ډك كړي مؤلف احمد بن حجازي الشافعي الفشني المتوفى حدود سنه ١٠٠٠هـ تحذير المسلمين صـ ٤٩

١٨- **مكارم الاخلاق - للطبرسي الشيعي المتوفى سه ١٣٢٠**: داهم دشيعه كتاب دى چې ډير دروغجن روايات او باطلي قصې پكې دي

١٩- **صفة اهل التصوف**: داهم د غير معلوم مؤلف كتاب دى چې پكې دصوفيت باطلي قصې او نور خرافات ذكر كړي سيوطي (رح) وايي: فيه

مناكير وحكايات باطلة قطعاً - (تحذير المسلمين صـ ۴۹) يعنې دي کتاب کې ډير منکر حکايات او باطل روايات ذکر دي.)

۲۰ - **کتاب دُرةُ الناصحين**: داهم دوعظ کتاب دی د دې مصنف عثمان بن حسن بن الشاکر الخوبوي الرومي الحنفي چې په ۱۲۲۴ هـ کې ليکلي دي، دافغانستان او پښتنواکثر ملايان د دې نه تقارير کوي چې داهم دخرافاتو کتاب دی ،علامه ظافر القاسمي وايې: فيه بلايا واحاديث باطلة لااصل لها تحذير المسلمين صـ ۴۹) يعنې پدې کې ډيرې بلاګاني او باطل احاديث چې اصل يې نه وي، موجود دي -

۲۱ - **نور الابصار في مناقب ال بيت النبي المختار**: دمصنف نوم يې مؤمن الشبلنجي دي -چې پکې ډير موضوعات او خرافات موجود دې .
(تحذير المسلمين صـ ۴۸)

۲۲ - **تفضيل العقل**: د دې کتاب مؤلف سليمان بن عيسى السجزي الکذاب دي، امام دار قطني (رح) وايې: تصنيفه في العقل موضوع کله - يعنې دعقل په فضيلت کې دغه تصنيف ټول دروغ دي (تحذير المسلمين صـ ۵۰)

۲۳ - **الرسالة العصفورية**: داهم دوعظ کتاب دی چې پکې څلويښت احاديث مؤلف راجمع کړي ، علامه ظافر القاسمي وايې ولا يصح منها غير ثلاثة احاديث والاخرى کلها موضوعة (تحذير المسلمين صـ ۵۰)

يعني په دې ۴۰ احاديثو کې صرف ۳ صحيح احاديث دي نور ټول موضوعات دي.

۲۴ - **بدائع الزهور في وقائع الدهور**: داهم دانبياء عليهم السلام په اخبارو کې ليکلي شويدي ، مؤلف يې ابن اياس دي چې داهم دخرافاتو اسرائيلي او موضوعي او باطلو احاديثو مجموعه ده - تحذير المسلمين صـ ۵۰).

۲۵ - **سيرة البكري**: داهم دسيرت کتاب دی ابن حجر الهيثمي وايي ولا يجوز قراءتها لان غالبها باطل وكذب وقد اختلط فحرم الكل حيث لاتميز - (تحذير صـ ۵۰) د دې کتاب ويل جائز نه دي ځکه غالب يې باطل او دروغ دي هر څه يې ګډ وډ کړي چې ټول کتاب کتل يې حرام کړي ځکه تميز پکې دباطل او صحيح نه شي کيدي .)

۲۶ - **عجائب القرآن لمحمود بن حمزه الكرماني**: داهم مونږ لوستلي دي ډير خرافات پکې دي ،علامه سيوطي وايي اورد فيه اقوالاً منكرة لا يحل الاعتماد فيه عليها ولاذكرها الالتحذير منها - يعني په دې کتاب کې منکر اقوال راوړي چې اعتماد به پري نه شي کيدي اونه به ذکر کولي شي مګر د دې وجي نه چې خلک ترينه ځان وساتي) الاتقان في علوم القرآن)

۲۷ - **الترغيب والترهيب للاصبهاني**: داهم دترغيب او ترهيب باره کې ليکل شويدي - علامه منذري وايي: فيه احاديث متحققة الوضع انتهى تحذير المسلمين صـ ۵۰) يعني دي کې هم ډير موضوعي احاديث شته ۲۸

- **كتاب البركة في فضل السعي والحركة**: داهم په يو جلد کې په عربي کې دي تاليف محمد الوصاني اليمني دي چې داهم د موضوعي احاديثو منکر رواياتو مجموعه ده.

۲۹-**كتاب الروض الفائق في المواعظ والرقائق**: للحريفيش - داهم دوه جزه په يو جلد کې چاپ دي چې ډير موضوعي روايات اسرائيلي قصې پکې دي (تحذير المسلمين صـ ۵۱)

۳۰ - **روض الرياحين**: داهم دوعظ کتاب دی چې مؤلف پکې ډير خرافات اسرائيليات جمع کړي او دجاهلو واعظانو دپاره يې يو د درد سر جوړ کړي ځان ترينه ساتل په کار دي

۳۱ - **دتصوف کتابونه**: چې پکې يو هم صحيح نه دي بلکې تصوف نه خو درسول الله ﷺ نه ، اونه خو د صحابه کرامو نه ثابت دي نو په اثبات کې يو حديث يا يو روايت هم صحيح نه دي ، علامه محمد الحوت البيروتي وايي: وفي كتب التصوف كثير من الموضوعات آسنى المطالب صـ ۲۲۹) يعنې د تصوف په کتابونو کې ډير موضوعات دي.

۳۲ - **شفاء الصدور للسيوطي**: داهم يوه رساله ده چې داهل القبور په باره کې علامه سيوطي ليکلي ده لکن ډير خرافات او موضوعات پکې شته چې تنقيح او تنقيد ته سخت ضروري لري

۳۳- كتاب الروح للامام ابن القيم (رح): داكتاب هم دامام ابن القيم دشان سره مناسب نه دي خو بعضو علماء دا هم ويلي دي چې بعضې روايات پكې په ده ورتپل شويدي يعنې مدسوس دي لهذا دا كتاب هم تنقيد تحقيق ته محتاج دي بغير دنقد نه به د دې كتاب نه حديث نقل كول معتمد نه دي.

۳۳ - قصص القرآن مؤلف نعمت الله هزاروي : داپه پښتو ژبه ليكل شويدي چې مؤلف عاجز پكې ډيرځه جمع كړي اكثر حواله يې په صاوي تفسير ده چې دټولونه متساهل مفسر او په حديثو جاهل ؤ چې يوه عجيبه او غريبه يې داده چې - دفرعون سره چې كله موسى عليه السلام مناظره كوله نو په دغه شپه كې ده (۴۰۰) واري دستونه كړي ؤ - چې دا بيا دعقل او نقل دواړو خلاف ده نوري قصې په دې كتاب كې لكه قصه دعوج بن عنق - او عاديانو ثموديانو وغيره چې ټول اسرائيلي روايات يې راجمع كړي دي د دې نه هم ځان ساتل په كار دي كه ټول نه وي دورغ نو اكثر په كې دروغ دي.

۳٤ - دمرلپ منظر - دخواجه محمد اسلام تاليف: داكتاب هم په پښتو - اردو - فارسي كې ليكل شويدي چې پكې دمرګ احوال او سختي بيان شويدي خو په ځاى د دې چې صحيح احاديث ذكر كړي ټول خرافات او موضوعات او شركي قصې او باطل روايات يې راجمع كړي - مخكې ذكر شول چې زمونږ دين داسې بې بنياده خبروته محتاج نه دي لهذا د دې په ځاى په صحيحينو او سنن اربعه - الترغيب والترهيب للمنذري (رح) باندې اعتماد په كار دي.

٣٥ - التذكرة للقُرطُبي: داهم په احوالو د قيامت او جنت او اور باره کې ليکلي دي ، علامه قرطبي جيد او ماهر مفسر دی خومتاسفانه چې په التذکرة کې يې داسې بعضې قصص او باطل روايات راوړيدي او تنقيد يې پرې نه دي کړي اګر که دا د دې سبب نه شي کيدي چې داکتاب به نه شي کتل کيدي ورنه ډير فوائد په کې دي خو بياهم نقد او تنقيح ته اشد ضرورت لري.

٣٦ - تبليغي نصاب يا فضائل اعمال: دزکريا کاندهلوي - داکتاب د دهوبندي شاخ مقلدينو مشر زکريا کاندهلوي ليکلي دي چې مؤلف پکې ډير تساهل نه کار اخستي دي ډير شرکي قصې باطل روايات موضوعي احاديث وسيله د آدم عليه السلام په رسول الله ﷺ باندې - ديو بزرګ په يو اودس ۱۲ ورځې مونځونه کول - دقبورو والوؤ نه مدد غوښتل - دامام ابوحنيفه (۴۰) ورځې دماخوستن په اودس دسحر لمونځ کول - علم لدني ثابتول ، کشف القبور ، دصوفيانو جذبات ،اولياؤ کراموته غيب ثابتول وغيره خرافات - داکتاب نن وخت دقرآن ضره (بن) جوړ شويدي چې قرآن دوی نه وايي او دا په څنګ کې ګرځوي - حتی چې بعضې متصوفه پنجابي تبليغيان وايي چې د دې کتاب ويل په اردو کې لکه دقرآن ثواب لري - دمزيد تفصيل لپاره القول البليغ في التحذير عن جماعة التبليغ - للحمود التويجري کتل ضرور دي - اوبل کتاب جماعت تبليغ په طائرانه تحقيق) لهذا دا کتاب هم لکه دنورو بعضو خرافي کتابونو په شان عقيده خرابونکي کتاب دی البته هغه آياتونه او احاديث صحيحه چې پکې دي هغه بيا دوی دتبرک لپاره ذکر کوي او

هغه د دينه مثتثنى ده - عجيبه خو داده چې مؤلف دكتاب وايې چې كله ماداكتاب ليكلو نوزه مريض وم او طبيب زه دكتابت نه بند كړي وم - يعنې دماغي توازن يې صحيح نه ؤ - نو دداسې شخص خبره بياپه قرآن وسنت مخكې كول عجيب كار دي.

٣٧ - كتب ابن عربي صوفي: دده كتابونه لكه فتوحات مكيه - فصوص الحكم وغيره دكفر او زندقة كتابونه دي ، شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) وايې: دفقيه ابومحمد بن عبد السلام نه دده باره كې پوښتنه وشوه چې هر كله هغه قاهرة ته راغي نو دابن عربي په هكله ده وويل : شيخ سوء كذاب مقبوح يقول بقدم العالم ولايحرم فرجاً - وفي كتبه مثل الفتوحات المكية وامثالها من الاكاذيب مالا يخفى على لبيب - ولكن هؤلاء التبس امرهم على من لم يعرف حالهم كما التبس امر القرامطة الباطنية لما ادعوا انهم فاطميون وانتسبو الى الشيخ فصار المتبعون مائلين غير عالمين بباطن كفرهم ولهذا كان من مال اليهم احد رجلين - اما زنديقاً منافقاً واماجاهلاً ضالاً - هكذا هؤلآء الاتحادية فرؤسهم هم ائمة كفريجب قتلهم ، ولاتقبل توبة احد منهم اذا اخذ قبل التوبة فانه من اعظم الزنادقة الذين يظهرون الاسلام ويبطنون اعظم الكفر - ويجب عقوبة كل من انتسب اليهم او ذب عنهم او اثنى عليهم او عظم كتبهم اوكره الكلام فيهم او اخذ يعتذر لهم بان هذا الكلام لايدري ماهو او من قال انه صنف هذا الكتاب وامثال هذه المعاذير التي لايقولها الاجاهل او منافق - فضررهم في الدين اعظم من ضرر من يفسد على المسلمين دنياهم ويترك دينهم كقطاع الطريق وكالتتار الذين ياخذون منهم الاموال ويبقون لهم دينهم فضلالهم واضلالهم اعظم من ان يوصف وهم اشبه

الناس بالقرامطة الباطنية - انتهى مجموع الفتاوى جـ ٢ صـ ١٣١ - ١٣٣) بتصرف يسير).

ترجمه: دې يو دروغجن او قبيح ملاؤ چې دقِدم العالم قائل ؤ زنا ته به يې حلال ويلو او دده په کتابونو کې لکه فتوحات مکيه او يانورو کې ډير زيات دروغ دي چې په پوه او عاقل پټ نه دي لکن په دې مليانو يې حال ګډوډ شويدي ځکه چې دوی يې حال نه پيژني لکه چې قرامطه حال په دوی پټ دي هر کله چې دوی دا دعوه وکړه چې دوی سيدان دي او دشيعيت دعوه يې کوله نو د دوی تابعدار په جهل د دوی ملګري شول د دې وجې نه څوک چې دوی ته ميلان کوي نو دوه قسم کسان دي يا به زنديق منافق وي او يا به ګمراه ناخبره وي همدارنګ دا اتحاديه د دوی مشران يې دکفر امامان دي قتل يې واجب دي چې د دوی نه ديوهم توبه نه قبليږي چې کله دوی مخکې ونيول شي ځکه دا لوی زنديق دي کوم چې اسلام ظاهر وي او کفر پټوي او واجب دي سزا ورکول هغه چاته چې دوی ته ځان منسوبوي (ځانته صوفي نقشبندي ، چشتي سهرور دي وايې) او ترينه دفاع کوي يائي صفتونه کوي او يا يې دکتابونو صفت کوي اويا د دوی پسې خبرې کول بدګڼي او د دوی دخوانه عذرونه پيش کوي چې څوک يې په خبره نه پوهيږي او داسې نور عذرونه چې يا خو يې جاهل وايې او يائي منافق وايې نو د دې صوفيانو ضرر په دې کې دهغه چانه هم ډير دي چې په مسلمانانو دنيا فاسدوی او دين پريږدي لکه قطاع الطريق او يا لکه تاتاريان چې دخلکو مالونه به يې اخستل او دين به يې ورته پريښود - ددوی ګمراهي او بل ګمراه کول د دې نه هم لوی دي چې بيان

يې وکړي شي نو دوی دقرامطي اوباطني زنديقانو سره زيات مشابه دي .)

شيخ الاسلام په همدي صفحه کې وايې: فان القيام على هؤلاء من اعظم الواجبات لانهم افسدوا العقول والاديان على خلق من المشائخ والعلماء والملوک والامراء و هم يسعون في الارض فساداً ويصدون عن سبيل الله انتهى (مجموع الفتاوى جـ ۲ صـ ۱۳۳) يعنې په دوی باندې توره راوچتول داهمو واجباتونه دي، ځکه دې صوفيانو دخلکو عقول او اديان فاسد کړه . مشايخ علماء بادشاهان او اميران يې فاسد کړل او دوی په ځمکه کې فساد کوي او خلک دالله تعالى دلارې نه بندوی - انتهى)

خلاصه: دابن عربي او نور صوفيانو لکه موجوده څلور طريقي دي د دين نه منحرف او دملحدو باطنيه او دهريت ته پوره لاره هواروي دکوم دين چې نن امريکا او يهود صفت کوي چې صوفيت بايد عملي شي نو دابه اسلام وي؟ لهذا د دې صوفيانو او ددوی کتابونو نه ځان ساتل په کار دي دتفصيل لپاره (الكشف عن حقيقة الصوفية لاول مرة في التاريخ) کتل په کار دي .

۳۸ -**غنية الطالبين دعبد القادر جيلاني**: داکتاب په ډيرو خرافات مشتمل دي مختلف مخصوص مونځونه مخصوص اذکار او نور داسې موضوعي احاديث او اوراد پکې ذکر دي لهذا په پتو سترګو کتل يې په کار نه دي ځکه جيلاني صاحب لکه دنورو صوفيه و نه متاثره ؤ لهذا علماؤ ته د دې کتاب په ځای نور صحيح او معتمد کتابونه کتل په کار

دي ، بلكي عبد الحي لكنهوي وايي: لم يثبت ان الغنية من تصانيفه وان اشتهر انتسابها اليه يعني دا ثابته نه ده چې غنية الطالبين دعبدالقادر جيلاني تصنيف دي اګر که نسبت يې ده ته مشهور دي عبدالحق دهلوي وايي : هرګز ثابت نشده که اين از تصنيف انجناب است الرفع والتكميل ص۔ ۳۸۰ اهـ .

ترجمه: يعنې هيڅ کله ثابت نه ده چې دا دی د عبد القادر جيلاني تصنيف وي.

۳۹- **دلائل الخيرات**: مؤلف د دې کتاب په ډيرې بې حيائي په رسول الله ﷺ باندې ډير دروغ ترلي دي درودونه احاديث موضوعي او نور خرافات يې ذکر کړي چې کتل د دې کتاب عقيده او عبادت خرابوي شيخ محمد بن عبدالوهاب د دې کتاب ډير په احتياط سره ذم بيان کړي چې صاحب الدرر السنية دهغه قول ذکر کړي او صاحب د الكشف الالهي في الحديث الضعيف والواهي – د دې کتاب بعضې موضوعات او خرافات ذکر کړي او ويلي دي چې دا دموضوعاتو نه ډک کتاب دی بلکي ټول يې پکې موضوعي درود ونه راخستي دي ، چې دي هم داحد الكاذبين نه دي علامه ظافر القاسمي وايې: في دلائل الخيرات احاديث لم توجد في كتب الحديث – تحذير المسلمين صـ ۸۴)

ترجمه: يعنې په دلائل خيرات کې ډير داسې احاديث دي چې دحديثو په کتابونو کې وجود نه لري . الشيخ محمد بن عبد الوهاب (رح) چې کله دلائل الخيرات وسوزولو نو علماؤ دمدح په شکل دا وويل - وحرق عمدا

للدلائل دفتراً - اصاب فيها ما يجل عن العد - غلونهى عنه الرسول وفرية بلامرية فاتركه ان كنت تستهدي + احاديث لاتعزى الى عالم - فلا تساوي فُليساً ان رجعت الى النقد اهـ مجموعة الرسائل والمسائل النجدية جـ ٢ صـ ٣٨).

لهذا زمونږ افغاني ورونوته داخواست دي چې داکتاب ونه ګوري د دې په ځای سید الصلوات کوم درود چې په مونځ کې ویل کیږي هغه ویل په کاردي هسې نه چې په آیت د: (اتستبدلون الذي هو ادنى بالذي هو خير) کې رانه شو-

٤٠ - **احياء علوم الدين للغزالي** (رح): امام ابوحامد الغزالي جيد عالم ؤ خو متاسفانه چې دي هم دفلاسفه او منطقينو په مشرب ؤ - شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) وايې: ولهذا فقد رد عليه علماء المسلمين حتى اخص اصحابه ابوبكر ابن العربي فانه قال: شخينا ابو حامد دخل في بعض الفلاسفة ثم اراد ان يخرج منهم فما قدر وقد حكى عنه من القول بمذاهب الباطنية ما يوجد تصديق ذلک في كتبه ورد عليه ابو عبد الله المازري في كتاب افرده ورد عليه ابوبكر الطرطوشي ورد عليه ابو الحسن المرغيناني رفيقه رد عليه كلامه في مشكاة الانوار ونحوه ورد عليه الشيخ ابو البيان والشيخ ابو عمرو بن الصلاح وحذر من كلام في ذلک هو وابوبكر زكريا النواوي وغيرهما ورد عليه ابن عقيل وابن الجوزي وابومحمد المقدسي وغيرهم اهـ (مجموع الفتاوى جـ ٤ صـ ٢٢).

ترجمه: د دې وجې نه علماء د مسلمانانو په ده رد کړي تر دي چې ډيرو نزدي ملګرو دده کوم چې ابوبکر بن العربي دی. ځکه دي وايې شيخنا ابو حامد دې چې داخل شويدي په فلسفه کې بيائي اراده دوتلو وکړه ولي قادر نه شو د ده قول لکه د باطنيه ؤ په شان تصديق يې موجود دی دده په کتابونو کې. او په ده رد کړي ابوعبد الله المازري په يومستقل کتاب کې او په ده رد کړي ابوبکر الطرطوشي - ابوالحسن المرغيناني دده ملګري او رد پري کړي دي ابو البيان او شيخ ابو عمرو بن الصلاح او دده د کلام نه يې منع کړي ، ده هم او ابوبکر زکريا النووي او نورو اورد کړي دي په ده ابن عقيل او ابن الجوزي او ابومحمد المقدسي او نورو ډيرو-)

خلاصه: داشوه چې دي عاجزهم يو منطقي او فلسفي ؤ په احياء العلوم کې يې ډير موضوعات او باطلي قصې جمع کړي چې د تحقيق لپاره د حافظ العراقي تخريج د احياء العلوم کتل لازم دي = لهذا د دې کتاب کتل بغير د تحقيق تنقيد او عرض نه جائز نه دي . والله اعلم.

٤٠ - ارشاد الطالبين: دا يو ننګرهاري ملا ليکلي دي چې پکې اکثر د شرک قصې تعويذونه باطل روايات ذکر کړي په صـ ٣٧٠ کې ليکي چې که د چاسوزک وي نو په اندام مخصوصه په درود شريف وليکي سوزک به يې ښه شي) نقل کفر کفر نباشد) دا کتاب په فارسي ژبه کې دي چې دا هم د کتلو قابل نه دي البته د ردلپاره يې کتل په کار دي والله اعلم .

٤٢ - درود تاج - صلاة تنجيا: دا هم د پښتو په معاشره کې مشهور دي چې پکې دا الفاظ رسول الله ﷺ ته ويل شويدي يا دافع البلاء والوباء والقحط

والآلم – يعني اى دفع كونكي دآفتونو – وباء – قحطونو او دردونو - نوكه داشرک نه وي بيا خو شرک په دنيا کې نه شته – لهذا د دې کتاب احراق(سوزول) ضروري دي ځکه ډير مسلمانان جاهلان د دې په وظيفه کولو بوخت دي چې تباه شول خو خبرنه دي لهذا داکتابونه دځمکي نه بايد ختم کړي شي .

٤٣ – شفاء السقام في زيارة خيرالانام لسبكي: داهم دسبکي کتاب دی چې بل نوم يې شن الغارة على من انكر سفر الزيارة – داکتاب په شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) رد دې چې شيخ الاسلام ابن تيميه فتوى ورکړي وه چې درسول الله ﷺ قبرته به د زيارت او ثواب په نيت سفرنه شي کيدي دحديث صحيح په بنياد چې لاتشد الرحال الا الى ثلاثة مساجد – نو سبکي شافعي پري داکتاب وليکه خو متاسفانه چې دزيارت رسول الله ﷺ په باره کې چې څومره احاديث ذکر کړي ټول موضوعات او باطلي قصې دي – امام ابن عبدالهادي پري رد ليکلي چې الصارم المنكي في الرد على السبكي – بهترين کتاب دي – سبکي صاحب ډير احاديث موضوعه صحيح ګرځولي چې درسول الله ﷺ دقبر دزيارت په فضيلت کې راغلي حالانکه يو حديث هم دی باره کې صحيح نه دي - دحياة الانبياء باره کې په ټولو صحيحو احاديثو کې باطل او دسلفو دتاويلاتو نه منحرف تاويلات کړي – علامه ابن عبدالهادي وايې: (والحاصل انه وقع في كلامه من التناقض وسوء الادب والاحتجاج بمالايصح ان يكون حجة اهـ الصارم المنكي صـ ١٢) (حاصل دا چې دسبکي په کلام کې تناقض - بي ادبي په باطل احاديثو استدلال کول کوم چې قابل داستدلال نه دي)

لهذا داكتاب هم دموضوعاتو خرافاتو او شركي قصونه ډک دي كتل يې په احتياط سره په كار دي - دتركي مشركينو په استنبول كې چاپ كړي دي .

٤٤ - **البصائر لمنكري التوسل باهل المقابر**: داهم ديو معاصر ملا ډاكۍ حمدالله تاليف دى چې ټول يې پكې موضوعي روايات خوبونه منامات بلكي دعائشه رضي الله عنها بي ادبي چې داګويا دراز زبانه وه ذكر كړي دشيخ القرآن مولانا محمد طاهر (رح) صاحب په كتاب - البصائر المتوسلين باهل المقابر - چې په موضوع كې بهترين كتاب دى ده رد كړي خو كاش چې ملا ډاكۍ داكتاب نه وي ليكلي ځكه دغلطو عقائدو او شركي اقوالو او باطل او موضوعي احاديثو ښه مجموعه ده چې تحذير په نيت يې كتل په كار دي . خود دې سره دمحمد طاهر (رح) البصائر موازنه وكړې شي نو بينهما بون بعيد به اوګورې چې دحمد الله بصائر لكه ديو عام جاهل كتاب او دا بل ديو عالم كتاب دى - لهذا داكتاب هم قابل اعتماد نه دي ځان ترينه ساتل په كار دي - والله اعلم .

٤٥ - **حياة الصحابة** : داهم د ديوبندي شاخ مقلد يوسف كاندهلوي مؤلف دي چې په ډيرو خرافاتو او موضوعي احاديثو مشتمل دي اكثر خرافات يې دغير متداول او بي سنده كتابونو نه نقل كړي لهذا پدې به هم اعتماد بغير دسند نه نشي كيدي .

٤٧ - **قصيدة بردة دبوصيري**: داهم دشرک پوره خزانه ده علماؤ پرې رد كړي داسې اشعارئي ذكر كړي چې صراحتاً كفر او شرک دي - شيخ

محمد بن عبد الوهاب (رح) وايي: ان صاحب البردة وغيره ممن يوجد الشرک في کلامه والغلو في الدين اهـ مجموعة الرسائل جـ ۱ صـ ۴۷) يعني دصاحب برده او نورو داسې کتابونو کې شرک او غلو په دين کې موندل کيږي . اوبل ځای وايي: واما السؤال عن البردة للبوصيري - فالمنکر من ذلک ماکان فيه شرک کقول صاحب البردة - يا اکرم الخلق مالي من الوذ به سواک - اهـ وقوله: فان من جودک الدنيا وضرتها - ومن علومک علم اللوح والقلم - فکل هذا شرک محرم بالکتاب والسنة اهـ مجموعة الرسائل جـ ۲ صـ ۳۹.

ترجمه: منکر پکې هغه شرک دي چې ده ذکر کړي لکه داسې وايي ای سخي دمخلوق (النبي) نشته مالره بل څوک چې پناه ورته حاصله کړم سوا ستانه - بيا وايي: يقيناً ستا دسخاوت نه دنيا او اخرت پيدا دی او ستا دعلومونه لوح او قلم پيدا دی - نوداټول شرک دي چې په کتاب او سنت سره حرام دي - او بل ځای وايي: وفيها من الشرک الاکبر - اوپه برده کې شرک اکبر ذکر دي مجموعة الرسائل جـ۲ صـ ۸۲)

خلاصه: داشوه چې داکتاب بعضې متصوفه ورد کوي لکن دانسکاره شرک او کفر دي کتل يې په کار نه دي .

۴۷ - بهشتي زيور يا جنتي کالي: داهم داشرف علي تهانوي تاليف دی چې پکې بعضې فقهي مسائل ذکر کړي خو دخرافاتونه ډک کتاب دي ځکه مؤلف يې صوفي خرافي حياتي ديوبندي مقلد دې چې نور ډير دشرک کتابونه يې ليکلي لکه امداد المشتاق وغيره چې کشفيات منامات او د مړونه امداد غوختل پکې موجود دي لهذا داسې کتابونه عقيده او ايمان بربادوی ځان ترينه ساتل په کار دي.

٤٨ - دتعويذونوکتابونه: لکه ګلزار تعويذات، کنز الحسين ، نقش سليماني وغيره ،که هغه دهر لوی عالم هم وي داټول خرافات دي درسول الله ﷺ نه هيڅيري دتعويذ ليکل که دقرآن و سنت نه هم وي ثابت نه دي البته دم اچول په هغه دعاګانو چې قرآن وسنت کې شته جائز دي خو تعويذ ليکل او بيائي غاړي يا متې ته اچول يا بندونه اچول ټول کفر او شرک دي -لهذا دداسې کتابونونه ځان ساتل دايمان حفاظت کول دي)

٤٩ - شرح عقائد: د دې مؤلف التفتازاني دي چې داهم په پټه شيعه ؤ ځکه په شرح عقائد کې يې داسې څه جمع کړي دي چې داسلامي عقيدي خلاف دي چې يوداهم دي وايې الله تعالى دجهات سته ؤ نه منزه دي يعنې بالکل يې دالله تعالى دوجود نه انکار کړي حالانکه اوه (۷) اياتونه په دې دلالت کوي چې (الرحمن على العرش استوى) الله تعالى دعرش دپاسه دي کما يليق بشانه ، امام ابن القيم (رح) وايې دامت ۵۰۰ پنځه سوه مجتهدين او علماء په دې جمع دي چې الله تعالى دعرش دپاسه دي دارنګ تفتازاني دحلوليه عقيدي لرونکي هم ؤ لهذا دا کتاب چې د دې بندي مدرسو په نصاب کې شامل دي دکتلو لائق نه دي - د دې په ځای شرح عقيدة الطحاويه دابن ابي العزالحنفي (رح) تاليف لوستل په کار دي - خو احناف اوسني په دې آيت عمل کوي چې (اتستبدلون الذي هو ادنى بالذي هو خير- لهذا دتفتازاني بل کتاب لکه مختصر المعاني هم دشيعه په ترتيب ليکل شويدي -لکه چې دي ځای په ځای دا الفاظ استعمالوي -لولاعلي (رضي الله عنه) لهلک عمر (رضي الله عنه) -داهم دشيعه و خبرې دي . لهذا زمونږ سني مليان دي په دې خبروي. والله اعلم .

فصل

دفقهي دکتابونو حيثيت: داچې مخکې ذکر شول چې اسناد د دين په هر کار او مسئله کې لازمي دي لهذا دهر کتاب نه چې څوک يوه مسئله او يا يوحکم دشريعت ذکرکوي نو بايد چې ورسره سند ذکر کړي ځکه دفقهي اکثر کتابونه دخلاصه کيداني نه ترهدايه پوري اکثر پکې موضوعي روايات منکر او مقلوب مضطرب احاديث موجود دې خو دهيڅ يو فقهي کتاب نه به نقل صحيح دي ومسئلي نه وي چې يوپکې داشرط چې سند ددغه مسئلي دوی م داچې دغه کتاب به متداول وي دعلامه ملاعلي القاري قول پدې باره کې داسې دي وايې:

١- من القواعد المعلومة الكلية : ان نقل الاحاديث النبوية والمسائل الفقهية والتفاسير القرآنية لايجوز الامن الكتب المتداولة لعدم الاعتماد على غيرها من وضع الزنادقة والحاق الملاحدة بخلاف الكتب المحفوظة اهـ (تذكرة الموضوعات نقله في هامش الاجوبة الفاضلة صـ ٣٢)

ترجمه: دنبوي احاديثو نقل کول دارنګ دفقهي مسائلو قرآني تفاسيرو نقل کول جائز نه دي دهغه معلومو قواعدو په اساس مګر دهغه کتابونو نه چې هغه متداول وي ځکه په غير متداولو کتابونو اعتماد نه شته چې اکثر زنديقانو او ملحدانو پکې دروغجن احاديث جوړ کړي دي

۲ - **علامه عبد الحي لكهنوي وايې**: ومن هنا نصوا على انه لاعبرة للاحاديث المنقولة في الكتب المبسوطة مالم يظهر سندها او يعلم اعتماد ارباب الحديث عليها وان كان مصنفها فقيهاً جليلاً يعتمد عليه في نقل الاحكام وحكم الحلال والحرام الاترى الى صاحب الهداية من اجلة الحنفية والرافعي شارح الوجيز من اجلة الشافعية مع كونهما ممن يُشار اليه بالانامل ويعتمد عليه الاماجد والاماثل قد ذكرا في تصانيفهما مالا يوجد له اثر عند خبير بالحديث يُستفسر كمالا يخفى على من طالع تخريج احاديث الهداية للزيلعي وتخريج احاديث شرح الرافعي لابن حجر العسقلاني واذا كان حال هؤلاء الاجلة هذا فما بالك بغيرهم من الفقهاء الذين يتساهلون في ايراد الاخبار ولا يتعمقون في سند الاثار . اهـ الاجوبة الفاضلة صـ ۲۹).

ترجمه: د دې وجي نه زمونږ احنافو داويلي دي چې هيڅ اعتماد او باور به نشي كيدي په هغه احاديثو كوم چې په فقهي كتابونو كې نقل دي ترڅو چې يې سند ظاهر شوي نه وي اويا پري علماء دحديثو اعتماد نه وي كړي اګر كه مصنفين د دغه كتابونو جليل القدر فقهاء هم وي په كوم باندې چې په نقل د احكامو او حكم د حلالو او حرامو پري اعتماد كيدي شي - ته نه ګوري دهدايه مصنف ته چې د احنافو كلک عالم دي او د رافعي شارح دوجيز دكلكو شوافعو نه دي سره د دينه چې دوی ته په علميت كې ګوتي نيول كيږي او په دوی لوی لوی علماء اعتماد هم كوي - خو بياهم يې په خپلو تصانيفو كې داسې څه ذكر كړي چې د حديثو خبردار سره دهغې كوم اثر او نښه نه موندل كيږي چې د اخبره په هغه چا پټه نه ده چې څوک

دهدايه تخريج نصب الراية او درافعي تخريج التلخيص الحبير مطالعه كړي.

نو چې کله دا حال د دغه لوی او جيدو علماؤ دي نو ستاځه خيال دي په نورو هغه فقهاء باندې چې دتساهل نه کار اخلي په راوړلو داحاديثو کې اوژور نظر نه کوي داحاديثو په سند ونوکي.)

٣- **علامه ملاعلي القاري** په هغه فقهاء رد کوي چې دقضائي عمري منګړت او موضوعي حديث يې ذکر کړي وايې: ولاعبرة بنقل صاحب النهاية وغيره من بقية شراح الهداية فانهم ليسوا من المحدثين ولا اسندوا الحديث الى احدٍ من المخرجين -(الموضوعات صـ ٨٥ والاجوبة الفاضلة صـ ٣٠)

ترجمه: صاحب نهاية په نقل کولو د دغه حديث باندې هيڅ اعتبار نشته او يا نور دهدايه شارحين ځکه دوی محدثين نه دي او نه يې دغه حديث کوم مخرج دحديث ته نسبت کړي)

٤- **علامه لکهنوي بل ځای وايې**: ان الكتب الفقهية وان كانت معتبرة في انفسها بحسب المسائل الفرعية وكان مصنفوها ايضاً من المعتبرين والفقهاء الكاملين لايعتمد على الاحاديث المنقولة فيها اعتماداً كلياً ولايجزم بورودها وثبوتها قطعاً بمجرد وقوعها فيها فكم من احاديث ذكرت في الكتب المعتبرة وهي موضوعة ومختلقة ، مقدمة عمدة الرعاية ج ١ صـ ١٣)

ترجمه: يقيناً هغه فقهي كتابونه اګر كه دفرعي مسائلو په حساب معتبر دي او مصنفين يې هم دمعتبر و فقهاء څخه دي نو بيابه هم پري اعتماد دهغه احاديثو باره كې نشي كيدي چې په كې ذكر دي په كلي اعتماد سره اونه به داجزمي خبره وي چې كوم حديث په دغه كتابونو كې ذكر وي نو دابه صحيح وي - ځكه ډير احاديث به په معتبرو كتابونو كې ذكر وي هغه به موضوعي او مختلق وي)

خلاصه: دعلماء د دې اقوالونه دا معلومه شوه چې دفقهي معتبر كتاب به هم په پتوسترګو نه منل كيږي بلكي هغه به سند او تحقيق ته ضرورت لري لهذا دفقهي كتابونه لكه هدايه - عالمګيري - او نوري شرحي دهدايه په ډيرو موضوعي احاديثو مشحون دي لهذا په دوی به اعتماد پس دكتلو دسند او تحقيق نه كيدي شي . والله اعلم .

فصل

موضوعات او خرافات على سبيل الاجمال

١ - **امام ابوالحسن الصاغاني په خپله رساله کې وايي**: والوصايا المنسوبة الى ابي الحسن امير المؤمنين علي بن ابي طالب باسرها سوى حديث: انت مني بمنزلة هارون من موسى - والتي في اوائلها يا علي لفلان ثلاث علامات ولفلان ثلاث علامات كلها موضوعة اهـ (تحذير المسلمين صـ ٧٠) يعنې چې علي بن ابي طالب ته منسوب دي او په هغې کې دا ټول احاديث موضوعي دي سوى دیو حديث چې رسول الله ﷺ وويل ته ماته په منزله دهارون لکه دموسى عليه السلام يې او په اول د دغه وصايا کې داسې دي چې اي دفلاني دپاره درې علامات دي او داسې نور).

٢ - **هرهغه احاديث** قدسيه چې رسول الله ﷺ ته منسوب دي او په هغې کې داسې دي يا احمد من احب الدنيا واهلها يعنې اى احمد ﷺ څوک چې د دنيا او دنيا والوسره مينه کوي نو....) داټول دروغ دي) تحذير صـ ٧٠).

٣ - **کومو احاديثو** کې چې رسول الله ﷺ په فارسي ژبه منسوب دي ټول دروغ دي لکه اشکم درد - والعنب دو دو - العلل المتناهية لابن الجوزي جـ ١ صـ ١٧٠).

٤ - **کومو احادیثو** کې وظیفه د ابو دجانه الانصاري (رضي الله عنه) ته منسوب ده چې په الحرز سره مشهور دي ټول موضوعات دي.

٥ - **احادیث د رتن الهندي** چې حکیم ترمذي ته منسوب دي او رتن الهندي کذاب دجال المتوفی سنه ٢٣٢ هـ دعوه لري چې ده خضر (علیه السلام) نه سماع ثابت ده او دعوه دصحابي توب به یې هم کوله - دي خپله هم کذاب ؤ او نورو خلکو په ده نور دروغ جوړکړي امام ذهبي (رح) لیکي چې دي دشپږمي صدۍ نه روسته پیدا شویدي او دجال او کذاب ؤ وګوره میزان الاعتدال جـ ٢ صـ ٤٥).

٦ - **دابو عبد الله الحکیم الترمذي المتوفی سنه ٢٩٥ هـ** تصانیف اکثر دموضوعاتو او خرافاتو نه ډک دي چې یو پکې نوادر الاصول هم دي ، دي صوفي هم ؤ - امام ابن القیم او ابي جمره وایي: ان حکیم الترمذي شحن کتبه بالموضوع وکل هذا لیس له اصل یعتمد ولا قاعدة تعتقد بل ینقلها الفقراء في زوایاهم ویسبکون الروایة من رویاءهم ودین الله اشرف من ان یؤخذ من کل جاهل عامي او یثبت بقول غافل غبيٍ اهـ نقله في تحذیر المسلمین صـ ٧١).

ترجمه: حکیم ترمذي خپل کتابونه په موضوعي احادیثو ډک کړي او څه چې پکې دي نو اصل ورلره نشته او نه پداسې یوه قاعده بنادي چې باور پري وشي بلکي دده دکتابونونه په کنجونو کې غریب خلک (دعلم نه) نقل کوي او روایت ددوی دخوبونو نه کوي - دالله تعالی دین زیات

عزتمند او ښه دي د دينه چې ديو عامي جاهل نه واخستل شي او يا دا دين ثابت شي په يو قول دغبي غافل سره).

۷ - **هغه احاديث** چې په هغې کې فضيلت د ډيوي بلولو په مساجدو کې او ياد دپور او پوځکي غورولو په مسجد کې راغلي ټول موضوعات او ثابت نه دي علامه ظافر القاسمي وايي: لم يثبت منها شيء چې هيڅ شي د دې نه ثابت نه دي. دارنګ هغه احاديث چې په هغې کې داسې دي: من تكلم بكلام الدنيا في المسجد او في المساجد احبط الله اعماله اربعين سنة لم يثبت - (تحذير المسلمين صـ ۷۱) يعنې چاچې په مسجد کې د دنيا خبرې وکړي نو دځلويښتو کالو اعمال به يې برباد شي دا يوهم ثابت نه دي - ځکه صحابه کرامو به په مساجدو کې د دنيا خبرې على قدري الضرورت کولي خو بونه به يې پکې هم کول البته د آدب او احترام په وجه داکارونه بايد ونه شي.)

۸- **هر هغه احاديث** چې په هغې کې د ښارونو خرابوالی يا د يو يو ښار تباه کېدل په يو آفت لکه غرقيدل، زلزله، قحط او مرګ باندې يو هم ثابت نه دی. (تحذير صـ ۷۱).

۹ - **ملاعلي القاري وايي**: ومن الاحاديث الموضوعة احاديث الشيخ المعروف بابن ابي الدنيا وهو الذي يزعمون انه عُمِرَ طويلاً وادرک علياً - (تحذير صـ ۷۱) يعنې هغه احاديث چې موضوعي دي احاديث د ابن ابي الدنيا دي او خلک ګمان کوي چې دده ډير اوږد عمر ؤ او علي (رضي الله عنه)

يې موندلي ؤ – (ټول دروغ دي) ابن ابي الدنيا ظهور دسنه ۳۰۰ هـ نه روسته شوي په ډيره بي حيائي دعلي (رضي الله عنه) دروغ نقل کول چې په ابو الحسن علي بن عثمان البلوي مشهور ؤ کذاب دجال ؤ په سنه ۳۲۷ هـ کې وفات دي) ميزان الاعتدال جـ ۳ صـ ۳۳ وتذكرة الحفاظ جـ ۳ صـ ۸۳۱)

۱۰- **مشهوره قصه** چې سپوږمۍ د رسول الله ﷺ په ګريوان کې ننوتله ددروغو قصه ده – علامه زرقاني (رح) وايي: ومايذكره القصاص من ان القمر دخل في جيب النبي ﷺ الخ .... لااصل له كما حكاه الشيخ بدر الدين الزركشي عن شيخه العماد بن كثير. اهـ. (المواهب اللدنية بشرح الزرقاني جـ ۵ صـ ۱۱۳)

ترجمه: هغه چې قصه ګو خلک دا ذکر کوي چې سپوږمۍ د رسول الله ﷺ په ګريوان کې ننوتي وه د دې اصل نشته لکه چې داخبره امام بدر الدين الزركشي دخپل استاذ امام ابن كثير نه نقل کړي ده).

۱۱ – **ګومو احاديثو** کې چې نهي راغلي ده دختو دخوراک ټول باطل دي – امام سيوطي داخبره په اللالي المصوعة کې کړي – (تحذير صـ ۷۲

۱۲ – **هر هغه احاديث** چې په هغې کې ويره او تشديد زجر او وعيد دحد نه زيات راغلي وي ټول موضوعي دي کوم چې دبريتونو په اوږدوالي کې راغلي دي سره دنورو ډيرو مجازفاتونه - تحذير صـ ۷۲).

۱۳- **هغه احاديث** چې په فضيلت دسورګل -نرګس -ګندنه -پيازو -هندوانو -ترنجبين -کيلي -پنير -انارو باره کې راغلي ټول دروغ دي لکه چې حفاظو داخبره کړيده . (تحذير المسلمين صـ ۷۳).

۱٤- **کوم احاديث** چې دلوند توب په فضيلت کې راغلي ټول موضوعي دي (تحذير صـ ۷۳).

۱۵- **کومو احاديثو** کې چې دتوبي ذکر په ښائسته صورت او خوشبو طريقي سره په اوږد حديث کې راغلي ټول موضوعي دي (تحذير صـ ۷۳).

۱٦- **دمعاذ بن جبل** (رضي الله عنه) **حديث** چې په هغې کې هغه د رسول الله ﷺ سره روسته په سورلۍ ناست ؤ او درسول الله ﷺ ورته وصيت کړي سوا دهغه وصيت نه چې په صحيحينو يا نورو صحي احاديثو کې ثابت دي نور ټول دروغ دي چې په هغې کې نااشنا عجائب او غرائب قصه ګو ذکر کوي ټول دروغ دي . (تحذير المسلمين صـ ۷۳ اللالي المصنوعة جـ۲ صـ ۳۷۲).

۱۷- **د رسول الله ﷺ خط** ليږل معاذ بن جبل (رضي الله عنه) ته چې ديمن والي ؤ او په هغې کې دمعاذ بن جبل دولد تعزيه ذکرده دروغ ده (تحذير صـ ۷۴).

۱۸ - **دعقل حديث** او يا دهغې په فضيلت کې هر حديث موضوعي دي (تحذير صـ ۷۴).

۱۹ – **دعلماء دمناقبو** باره کې چې کوم احاديث ذکر دي په نااشنا طريقي سره چې ګويا جنت دعلماؤ دخول ته محتاج دي ،علامه ذهبي (رح) وايې موضوعي دي (تحذير صـ ۷۴).

۲۰ - **دقاريانو دقرآن** باره کې يادطالب العلم دفضيلت يا د دوی په ذم کې غالب احاديث موضوعات دي (تحذير صـ ۷۴).

۲۱ – **هغه احاديث** چې په مناقب دخلفاء اربعه و کې ذکر دي غالب يې موضوعي دي چې يو کذاب په وخت دمرګ کې دعلي (رضي الله عنه) په فضيلت کې د ۷۰ حديثو دجوړولو اعتراف هم کړي ؤ (تحذير المسلمين صـ۷۴).

۲۲ – **دفاطمي** (رضي الله عنها) **نکاح دعلي** (رضي الله عنه) **سره** په عجيب کيفيت سره چې ګويا هغې ته ملائک حاضر شوي ؤ او دطوبى دوني نه يې پري ياقوت او ملغلري شيندلي وي جنتونو ځان جوړکړي ؤ حوروهم ځانونه سينګار کړي ؤ هغوي ګډاګاني کولي ، مرغانو سندري ويلي - داټول دشيعه ګانو دروغ او خرافات دي چې بعضې قصاص او جاهل نعت خوانان يې اوس هم په محفل ميلاد کې ذکر کوي وګوره تحذير المسلمين صـ ۷۴) -

۲۳- هغه احاديث چې په ذم دمعاويه (رضي الله عنه) کې ذکر کوي ټول باطل دي البته په فضيلت کې يو حديث صحيح دي عبد الرحمن بن عميره (رضي الله عنه) وايي رسول الله ﷺ معاويه ته وويل ک اللهم اجعله هادياً مهدياً واهدبه (الترمذي) يعني يا الله دې هادي وګرځوه خپله هدايت يافته او په ده سره خلکوته هدايت وکړي) امام ابن القيم (رح) وايي: فما صح عندهم في مناقب الصحابة على العموم ومناقب قريش فمعاوية داخل فيه - اهـ المنار المنيف صـ ۱۱۲) يعني داهل حديثو په نزد چې په مناقبو دصحابه کرامو کې على العموم او يا دقريشو په مناقب کې کوم صحيح احاديث راغلي دي نو معاويه (رضي الله عنه) په هغې کې داخل دي).

۲٤ - هغه احاديث چې په ناقب دبعضو بناورنو او ورځوکي راغلي دي ټول موضوعي دي لکه فضائل داسکندريه - دمياط - بغداد او بصره قزوين وغيره. علامه ابوزرعه (رح) وايي: ميسرة بن عبدربه ۴۰ احاديث دقزوين په فضيلت کې جوړکړي او دابه يې ويل چې زه پري دثواب نيت لرم - دارنګ په فضيلت دبخارا - تالقان - سمرقند - عسقلان - هرات - امزيقه - خوارزم - قيروان - وغيره ، علامه سيوطي (رح) وايي: کلها موضوعة - (اللالي المصنوعة جـ ۱ صـ ۴۵۸).

۲۵ - هغه احاديث چې په ذم دقسطنطنيه - طبريه او انطاکيه او صنعا و کې راغلي ټول دروغ دي (تحذير صـ ۷۵).

٢٦ – بعضې نعت خوانان د بلال (رضي الله عنه) قصه کوي چې بلال (رضي الله عنه) د شام نه مدينه ته راغي د رسول الله ﷺ د زيارت بعد او اذان يې په مسجد نبوي کې وکړو او مدیني والو ټولو وژړل – امام سيوطي (رح) وايي: قصة بينة الوضع – ذيل الموضوعات ص ۱۰۴) وتنزيه الشريعة ج ۱ ص ۲۴) يعنې دا قصه ښکاره جوړه شوي ده ، ځکه سند کې ابراهيم بن محمد ابن سليمان بن بلال بن ابي بلال دي علامه ابن عراق الكناني ، دې په کذابينو او وضاعينو کې ذکر کړيدي وګوره تنزية الشريعة ج ۱ ص ۲۴ رقم الترجمه ۵۹

۲۷ – د جابر بن عبدالله داولاد قصه چې بعضې بي حياء نعت خوانان يې هم کوي چې دده يو ځوي بل قتل کړه او هغه قاتل ځوي يې وتښتيده نو په تنور کې وغورزيده - اهل السير وايې چې دا قصه هم باطله او اودروغ دي = تحذير المسلمين ص ۷۵.

۲۸ – دابراهيم (عليه السلام) **واقعه** د اسماعيل (عليه السلام) سره چې کله يې هغه ذبح کوه نو چاړه يې ورسره په مړی کينبوده لکن هغه يې غوځ نکړه او هغه يې بره ګوذار کړه په درياب کې کبان (ماهيان) حلال شول او په وجه ملخان حلال شول او سترګې يې ورته توري کړي او نور خرافات چې خطيبان يې دلوي اختر په ورځ ذکر کوي ، علامه ظافر القاسمي وايې: من وضع الزنادقة

فما يذكره بعض المفسرين والخطباء واهل السير في هذه القصة غير ماذكر في كتاب الله كذب وعلى انبيائه - اهـ تحذير المسلمين صـ٧٥).

ترجمه: داقصه چې کوم دابراهيم عليه السلام په شان کې يې دغه قصه ګو ذکر کوي دزندقانو جوړه قصه شوي قصه ده کوم مفسرين اوخطيبان او اهل السير چې په دې قصه کې دکتاب الله دقصې نه ما سوا نور څه ذکر کوي نو دي په کتاب الله او انبياء عليهم السلام باندې دروغ تړي).

٢٩ – د ايوب عليه السلام قصه چې بعضې مفسرين په ابتلاء دهغه کې ذکر کوي چې ګويا شيطان ده ته راغي او بيا دهغه دبې بې واقعه ذکر کوي چې شيطان ترينه وينښته اخستې ؤ او ايوب عليه السلام بيا په داسې مرض مبتلاء شو چې چنجي به يې دبدن نه تويدل او په جذام باندې هم اخته شو تر دي چې خپلو خپلوانو دي دځان نه ليري کړو او صرف ښځې به يې دده خدمت کولو اويا يې وينښتان هم ختلي ؤ او چينجي به يې بيرته بدن ته او زخمونو ته داخلول- داټول دقصه ګرو يهودو او زندقانو افترائات دروغ او باطل روايات دي چې دانبياء عليهم السلام تنقيص کول يې غرض دي. الله تعالى په يو نبي دانبياء عليهم السلام باندې داسې ابتلاءات نه راولي چې هغه دى په معاشره کې منفور وګرځي - وانا لننصر رُسلنا - بيا څه معنى ده ؟ علامه ظافر القاسمي ليکي: مايذكره اهل القصص من المنفرات في قصة ايوب وتناثر الدود من بدنه كل ذلك كذب وزور

وافتراء محض ولاعبرة بمن نقل ذلک وان کان من الاجلاء - اهـ تحذير المسلمين صـ ۷۲).

ترجمه: دايوب عليه السلام په قصه کې چې کوم قصه ګرد نفرت آشياء ذکر کوي چې ګويا دهغه دبدن نه چنجي ولويدل - دا ټول دروغ افتراء محض ده او هغه څوک چې داسې خرافات نقل کوي هيڅ اعتماد به پرې نه شي کيدي اګر که ذکر کونکي يې لوی لوی ملیان وي) لهذا عوامو الناس او ملیانو ټولوته دا لازم دي چې داسې قصې منل او ياد هغې ذکر کول بايد ونه کړي او نه پرې عوام وغولوي دهغه قصه منل ترهغه حده چې صرف قرآن ذکر کړيده کافي ده په داسې خرافاتو عوام مه دوکه کوي غير دين خلک ځان پوري بايد مونږ ونه خندو - دا دشرم خبره ده ديو نبي په حق کې دومره څه ويل دحد نه تجاوز دي . فالله يعصمنا من الزلل).

۳۰ - **د داوُد عليه السلام قصه** چې بعضو مفسرينو هغه ذکر کړي چې دی ديو خپل فوځي په ښځه مين شو او غوختل يې چې دغه ځان ته وکړي نو هغه يې داسې ځای کې مقرر کړه چې هغه مړشي اود دې ښځي نوم اوريا ؤ او داسې نور کفريات چې ديوم عام ښه شخص په شان کې هم جائز نه ده فضلاً عن النبي ﷺ علامه ظافر القاسمي ليکي: کل ذلک کذب من وضع اليهود ولاعبرة بمن نقله عنهم من الفسرين لان ذلک غفلة وذهول عن

عصمة الرسل اهـ تحذير المسلمين صـ ٧٢) داټول دروغ دي چې يهود و جوړ کړي او په هغه مفسرينو هيڅ اعتماد نه شي کيدي چې دا قصه نقل کوي ځکه دا ددوی نه ښويدل او غفلت دي .) چې د عصمة الرسل سره متضاد دې)

علامه ابن کثير او نورو ناقدينو په دې قصه باندې کلک رد کړي هغې ته رجوع په کار ده .) .

٣١ د آدم عليه السلام قصه چې دی د جنت نه دمار په خوله کې راوتلې ؤ اسرائليات دي کما في ابن کثير. بلکه هغه الله تعالی د خپل حکمت الهي په وجه ځمکې ته راکوز کړی وو. لکه چې آيت پرې ګواه دی: اني جاعل في الارض خليفة. دا يې نه دي ويلي چې : اني جاعل في الجنة خليفة. تدبر و لا تکن من الغافلين.

٣٢- عوامو الناس کې چې کومه قصه مشهوره ده چې د معراج په واقعه کې د رسول الله ﷺ سره د بيت المقدس کاڼي هم ختلي ؤ او د رسول الله ﷺ د خپې مبارکي آثر پرې موجود ؤ – د دې قصې کوم اصل نه شته - داهم هسي دخلکو خبرې او دروغ دي .) تحذير المسلمين ٧٢) .

٣٣ – وفد د عبدالقيس په واقعه کې چې دوی کله رسول الله ﷺ ته راغلل او دهغوی سره يو ښائسته هلک ؤ نو رسول الله ﷺ هغه دځان روسته

کینولو – داهم دیهودو وضع کړي - حدیث دی – علامه ابن الصلاح په مشکل الوسیط کې وایې: لا اصل له – د دې حدیث اصل نشته - علامه سیوطي (رح) داحدیث دنبیط بن شریط الکذاب نه نقل کړي وګوره ذیل الموضوعات صـ ۲۰۱).

۳٤ – حدیث دارم ذات العماد کوم چې عبد الله بن قلابة روایت کړي – حافظ ابن حجر العسقلاني (رح) وایې دکشاف په تخریج کې: آثار الوضع علیه لائحة = یعنې دوضع آثار پرې ثابت دي. (تحذیر المسلمین صـ ۷۲)

۳۵- کومو احادیثو کې چې په اول کې یا زبیر یازبیر وي دا ټول موضوعي دي کما في الذیل للسیوطي تحذیر صـ ۷۲).

۳٦ – ابوهریره ته درسول الله ﷺ وصایا لکه یا اباهریره کذا یا اباهریره سره کذا یا هغه وصایا فاطمه (رضي الله عنها) ته په لفظ دیا فاطمة کذا یا فاطمة کذا – داټول خرافات او بې اصله دي (تحذیر المسلمین صـ ۷۲).

۳۷ – دعمر رضي الله عنه قصه چې ګویا دده ځوي ابو شحمه هغه په درهووهلي ؤ - امام ابن الجوزي (رح) وایې: وضعه القصاص وفي الاسناد من هن مجهول. (الموضوعات ج۳ صـ ۲۷۵) یعنې داواقعه قصه ګرو جوړه کړي او په اسناد کې بعضې نامعلوم افراد هم دي).

۳۸ – **هغه احاديثو** کې چې دتَري خوراک دغوښي سره يا خوراک د رسول الله ﷺ دکيلي سره دپنير نه داټول دروغ او موضوعي روايات دي امام ابن الجوزي (رح) په الموضوعات کې ذکر کړي تحذير صـ ۷۷).

۳۹ – **هغه احاديث** چې په هغې کې دسپين چرګ فضيلت راغلي وي چې په هغې کې داهم دي چې که خلک دده په اواز پوهيدلي چې څومره ثواب لري نو دده بنې او غوښه به يې په سره زرو اخستي وي – علامه ابن الجوزي (رح) وايي داټول دروغ دي (تحذير صـ ۷۷ والموضوعات لابن الجوزي جـ ۳ صـ ۲۰۸).

٤٠ – **هغه اورد حديث** کې چې په کې تعذيب د لمر او سپوږمۍ راغلي دي دشهر بن حوشب او کعب الاحبار نه نقل دي امام ابن الجوز (رح) وايي: هذا اسناد موضوع لاشک فيه وفي اسناده جماعة من الضعفاء والمجهولين وعمر بن صبح ليس بشيءٍ قال ابوحاتم ابن حبان كان يضع الحديث على الثقات - الموضوعات جـ ۱ صـ ۹۲).

ترجمه: د دې حديث اسناد موضوعي دي چې شک پکې نه شته اسناد کې ضعفاء او مجهولين دي عمر بن صبح هيڅ شي نه دي ابن حبان (رح) وايي چې په ثقه خلکو يې حديثونه جوړول).

٤١ – **دمعراج په شپه** چې بعضې قصه ګو ډير اوږد حديث ذکر کوي او په هغې کې عجائب غرائب ذکر کوي لکه دچرګ ليدل داوبو او اور نهرونه، ملائک، دواوري غرونه وغيره داټول خرافات دي ، ابن الجوزي (رح) وايي چې متهم پري ميسرة کذاب دي (تحذير صـ ٧٧ – علامه ذهبي (رح) په ميزان کې او ابن حجر په لسان الميزان کې داسې ويلي دي .

٤٢ – **حديث دملاقات دالياس عليه السلام رسول الله ﷺ سره** چې ګويا دوی ته په دې ملاقات کې داسمان نه ډوډۍ او ماهي راغي - امام ذهبي (رح) په تلخيص المستدرک کې وايي: هذا موضوع قبح الله من وضعه (المستدرک جـ ٢ صـ ٦١٧ يعنې الله تعالى دې قبيح کړي دا چا دا دروغ جوړ کړي علامه ذهبي (رح) وايي: دا دروغ يزيد البلوي او ابن يسار جوړ کړي دي) علامه ابن عراق يزيد بن يزيد البلوي په هغه اشخاصو کې شمار کړي چې متهم بالوضع دي وګوره تنزيه الشريقة المرفوعة جـ ١ صـ ١٢٨).

٤٣ – **حديث دهامة بن الهيثم بن لا قيس بن ابليس**: چې رسول الله ﷺ سره يې ملاقات کړي ؤ او ايمان يې پري راوړي ؤ دوعظ په بعضې کتابونو کې ذکر دي – امام عقيلي وايي : ليس للحديث اصل – يعنې د دې حديث کوم اصل نشته – علامه ذهبي په ميزان الاعتدال جـ٣ صـ ٤٢ او امام ابن الجوزي (رح) په الموضوعات جـ١ صـ ٢٠٩ کې وايي داباطل حديث دی .)

٤٤ – **مشهوره قصه دغرانيق** کوم چې بعضې تفاسير و ذکر کړي چې رسول الله ﷺ وويل تلک الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى) دسورة نجم په تفسير يې ذکر کوي چې رسول الله ﷺ دمشرکينو الهه يادکړل او بيائي دا اشعار وويل چې دابتان اوچت دي يقيناً ددوى دشفاعت اميد کيدي شي . امام ابن اسحاق (رح) وايي : من وضع الزنادقة - يعنې دازندیقانو جوړه کړي قصه ده – علامه ناصر الدين الالباني (رح) مستقله رساله پدې ليکلي ده چې نصب المجانيق في نسف قصة الغرانيق – بهترينه رساله ده – امام قاضي عياض په الشفاء کې او ابوبکر بن العربي هم پري سخت رد کړي – علامه الحوت البيروتي په اسنى المطالب کې وايې: هذه القصة كذب مفترى كما ذكر غيرهذا ولاعبرة بمن قواها واولها اذ لا حاجة لذلک اهـ نقله عنه في التحذير صـ ٧٩).

ترجمه: داقصه دروغ او افتراء ده لکه چې ډيرو دا ذکر کړي او دهغه چاهيڅ اعتبار نشته چې د دې قصې دتقويت او يا تاويل کوشش کوي ځکه دي ته کوم حاجت نشته).

٤٥ – **دبعضو قصاص او باطل ويونکو قصه** چې رسول الله ﷺ په زينب (رضي الله عنها) باندې عاشق شوي ؤ کوم چې دزيد (رضي الله عنه) بي بي وه - داهم دروغ او درسول الله ﷺ دشان رسالت نه ليري خبره ده فقبح الله من وضعها وقواها - تحذير صـ ٧٩ .

٤٦ – **قصة هاروت او ماروت** چې ګويا دا ملائکې وې او نعوذ بالله زنا يې کړې وه او د بابيل په کوهي کې د وېښتو نه زوړندې دي باطله او ديهودو خرافات دي.

٤٧- **هغه حديث چې ډيراو ږد دي** د وهب دابن عباس (رضي الله عنه) نه نقل دي ، دي وايي کله چې سورة النصر - اذا جاء نصر الله والفتح نازل شو – نو رسول الله ﷺ بلال ته امر وکړو چې ووايه الصلاة جامعة – بيا منبر ته وختلو او خاص خطبه يې وکړه چې ډيره اوږده وه اوپه هغې کې داهم دي چې رسول الله ﷺ نه يوسړي طلب دقصاص (بدلي اخستلو) وکړو په کوم چې يې ظلم کړي ؤ او يائي وهلي ؤ – نو يو بوډا سړي شيخ ورپاځيدلو چې عکاشه نوم يې ؤ وغيره ، امام ابن الجوزي (رح) وايي چې داحديث موضوعي دي اخت يې عبد المنعم بن ادريس بن سنان دي بيا وايي : قبح الله من يشين الشريعة بمثل هذا التخليط البارد والكلام الذين لايليق بالرسل ولابا الصحابة -اهـ (الموضوعات جـ ١ صـ ٢٨٢ واللالي المصنوعة جـ ١ صـ ٢٧٧).

ترجمه: الله تعالى دي دهغه چامخ قبيح کړي چې شريعت محمدي ﷺ ګډوډ کوي په داسې ګډوډ يخ کلام باندې کوم چې درسول الله ﷺ اونه دصحابه کرامو سره مناسب دي).

٤٨ – مشهور حديث چې ډيرو دفضائلو کتابونوهم ذکر کړي دتبلغيانو کتاب فضائل اعمال وغيرهم راخستي دي : من تهاون بالصلاة عاقبه الله بخمس عشرة عقوبة ستة منها في الدنيا وثلاثة عند الموت الخ..... يعنې چاچې په مونځ سپکوالي وکړو (ترک يې کړه) نو الله تعالى **١٥** قسمه عذاب ورکوي شپږ په دنيا دري دمرګ وخت کې او دري دمرګ نه بعد او دري بياپه قيامت کې . داحديث ابواللیث السمرقندي هم په قرة العيون کې ذکر کړي ، علامه الذهبي (رح) په ميزان الاعتدال او ابن حجر العسقلاني په اللسان کې وايې – هذا باطل ظاهر البطلان – يعنې دا حديث ښکاره باطل دي – وګوره – التحذير صـ ٨١).

٤٩ – کوم حديث کې چې ذکر دي چې چا دآذان په اوريدو سره داسې وويل : مرحباً بالقائلين عدلاً الخ..... حافظ ابن حجر العسقلاني (رح) وايې: - هذا المتن باطل - (لسان الميزان جـ ٢ صـ ٢٠٠) يعنې دامتن باطل دي علامه سيوطي (رح) وايې چې داحديث موضوعي دي . التحذير صـ ٨١) .

٥٠ – کوم حديث چې بعض خلک ذکر کوي : البيت الذي فيه البنات – ينزل الله فيه کل يوم اثنين عشر رحمة – يعنې هغه کور کې چې جينکي وي نو الله تعالى په يوه ورځ کې پکې دولس رحمتونه نازلوي ـ ظافر القاسمي وايې داهم دروغ او باطل روايت دي (التحذير صـ ٨٢).

۵۱ – **په قصه کړو او نعت خوانانو کې هم مشهوره قصه** چې رسول الله ﷺ ته جبرئيل دمنويوه کاسه راوړه اوهغه يې په خپلو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) نيمه کړه – راهم لکه دنورو موضوعاتو په شان موضوعي حديث دی. التحذير صـ ۸۲.

۵۲ – **حديث** : **من قال لا اله الا الله** خلق الله من كل كلمة منها طيراً منقاره من ذهب وريشه من مرجان – (چاچې لااله الاالله وويله نو دهري کلمې نه به يوه مرغه پيدا کړي چې منښو که به يې دسروزرونه وي بنې به يې دمرجان نه وي – علامه سيوطي (رح) وايې. لااصل له – يعنې د دې اصل نه شته – التحذير صـ ۸۴.

۵۳ – **حديث** : **اذا اغتاب احدكم** اخاه فليستغفر الله فانها كفارة له = يعنې چاچې يو دستاسونه غيبت وکړو د ورور خپل نو هغه دی بيا بخښنه وغواړي دائي کفاره ده – امام ابن عدي وايې : حديث موضوع (التحذير صـ ۸۴.

۵۴ – **مشهور حديث دی** چې اکثر يې په مساجدو ليکلي هم وي - عجلوا بالصلاة قبل الفوت وعجلوا بالتوبة قبل الموت -) يعنې تاسو په مونځ جلتي وکړي مخکي دفوت کيدلو دهغې نه او په توبه مخکي دمرګ نه – داهم حديث نه دي بلکي هسي دچا قول دي – (التحذير صـ ۸۵) .

۵۵ – **عمر سراج اهل الجنة وابوحنيفة سراج امتي**: يعنې عمر (رضي الله عنه) داهل جنت ډيوه ده اوابوحنيفه (رح) زما دامت ډيوه ده) داحديث هم موضوعي او مختلق دي (التحذير صـ ۸۵).

۵۶ – **حديث : من لم يداوم على اربع** قبل الظهر لم تنله شفاعتي – يعنې چاچې دماسپښين نه مخکې څلور دکعته باندې هميشوالي ونه کړي نو هغه ته به زما شفاعت ونه رسيږي = حافظ ابن حجر وايې لااصل له التحذير صـ ۸۲ يعنې هيڅ اصل ورله نشته.

۵۷ – **درسول الله ﷺ دمولود قصې** چې اکثر دروغ اوخرافات دي – علامه ظافر قاسمي وايې: وقد اشتملت على كثير من الكذب على النبي ﷺ. (التحذير ص-۸۷) په تحقيق په مولود النبي ﷺ کې ډير دروغ په رسول الله ﷺ جوړشويدي.) دمولود په شريعت کې هيڅ حيثيت نشته بلکې دا په سنه ۶۰۰ هـ کې يو مبتدع بادشاه ايجادکړي چې نن هم دبدعت په جوش خروش سره لمانځل کيږي – عصمنا الله منه.

فصل

۵۸ - **کوموا حادیثو** کې چې د خضر علیه السلام ژوند ذکر دي ټول باطل او دروغ دي - امام ابن القیم (رح) وائ کلها کذب ولا یصح في حیاته حدیث واحد - (المنار في الصحیح والضعیف صـ ۷۲) یعنې دده په زنده ګي چې ګویادي ژوند دي ټول دروغ دي او یو حدیث هم پکې صحیح نه دي) لهذا دعوامو دا خبره چې دهغه عټه ګوته دلاس کې هوډوکي نشته خرافات دي) شیخ الاسلام ابن تیمیه (رح) وایې: که خضر علیه السلام ژوندي وي نو پده واجب ؤ چې رسول الله ﷺ ته راغلي وي - دهغه ملګرتیا کې جهاد کړي وي - دهغه نه یې تعلیم حاصل کړي وي - او رسول الله ﷺ دبدر په ورځ وویل: یا الله که ته دا ډله (دصحابه و) هلاک کړي نو ځمکه کې به بیا څک عبادت وکړي او دوی ۳۱۳ کسان ؤ ټول معلوم او نومونه یې معروف ؤ نو دي وخت کې خضر علیه السلام چیرته ؤ ؟ ابو الفرج ابن الجوزي وایې: خضر علیه السلام وفات دي په دې قرآن و سنت اجماع او معقول دلالت کوي بیا یې دقرآن نه دسورة انبیاء ۳۴ نمبر آیت ذکر کړه او د حدیثو نه یې دبخاري مسلم حدیثونه هم ذکر کړه وګوره الموضوعات لابن الجوزي جـ ۱ صـ ۱۹۳ - والمنار المنیف صـ ۲۹) حافظ ابن حجر العسقلاني (رح) یوه بهترینه رساله په وفات دخضر علیه السلام لیکلي

ده چې دمونږ سره موجود ده : الزهر النضر في حال الخضر ، کتل يې لازمي دي).

۵۹ - حديث دعوج بن عنق الطويل چې اوږد والي يې دري زره دري سوه دري ديرش ګزه ؤ (۳۳۳۳) او دنوح عليه السلام طوفان يې ترغنګونو پوري رسيدلي ؤ - داهم باطل او دروغجن حديث دی امام ابن القيم (رح) وايي - تقوم الشواهد الصحيحة على بطلانه - يعنې صحيح شواهد دوی په باطلوالي ثابت دي. المنار المنيف صـ ۷۷) ځکه د بطلان لپاره يې حديث دبخاري هم کافي دي رسول الله ﷺ فرمائي: الله تعالى آدم عليه السلام پيدا کړي ؤ او اوږدوالي يې په اسمان کې ۶۰ ذراع ؤ نو همیشه دهغه اولاد کميږي ته اوس پوري. وګوره صحيح البخاري جـ ۲ صـ ۲۲۰ ومسلم جـ ۱۷ صـ ۱۷۱) .

۶۰ - عوامو او ملیانو کې مشهوره قصه : ان الارض على صخرة والصخرة على قرن ثور فاذا حرک الثور قرنه تحرکت الصخرة ، فتحرکت الارض وهي الزلزلة) يعنې دا ځمکه په کانې پرته ده او کانې په ښکر د غوئي ده کله چې غوئي حرکت وکړي نو دغه کانې وخوځيږي نو دازلزله ده) امام ابن القيم (رح) وايي: والعجب من سود کتبه بهذه الهذيانات - المنار المنيف صـ ۷۸) يعنې تعجب دهغه چالپاره دي چې خپل کتابونه په داسې چتياتو باندې ډکوي).

٦١ – **مقدار ددنيا** چې د دې مقدار به ۷۰۰۰) اوه زره کاله وي – امام ابن القيم (رح) وايې : داحديث دصريح دقرآن نه خلاف دي : وهذا من الكذب لانه لوكان صحيحاً لكان كل احد عالماً انه قد بقي للقيامة من وقتنا – هذا مئتان واحد وخمسون سنة - والله تعالى يقول : يسئلونک عن الساعة ايان مرساها قل انما علمها عند ربي (الآية) (المنار المنيف صـ ۸۰).

ترجمه: كه داخبره صحيح وي نو هر يو به عالم وي چې زمونږ د دې وخت نه قيامت ته ۲۵۱ كلونه پاتي دي – او الله تعالى فرمائي: تپوس كوي تانه دقيامت باره كې چې كله به وي واقع كيدل د دې ورته ووايه يقيناً علم دقيامت زما درب څخه دي .) او حديث كې هم راځي : مفاتيح الغيب خمس الخ..... وفيه القيامة - معلومه شوه چې داخبره غلطه ده چې ددنيا دعمر مقدار ۷۰۰۰ كاله دي) .

٦٢ – **هغه احاديث** چې پكې دورځو او شپو خاص مونځونه وي لكه صلاة يوم الاحد وليلة الاحد – الى آخر الاسبوع – ټول دروغ او باطل دي چې غزالي (رح) په احب العلوم او عبدالقادر جيلاني په غنية الطالبين كې ذكر كړي ، ابن القيم (رح) وايې: كل احاديثها كذب .(المنار المنيف صـ۹۵) يعنې ټول احاديث دي باره كې دروغ دي).

٦٣ - **دارنګه هغه احاديث** چې په باره دمونځونو مخصوصه کې راغلي دي لکه صلاة الرغائب اوله شپه درجب المرجب کې - ټول باطل دي : امام ابن القيم (رح) وايي کذب مختلق على رسول الله ﷺ - المنار المنيف صـ ٩٥) يعني ټول دروغ په رسول الله ﷺ ورتپل شوي دي) .

٦٤ - **هر حديث چې** پکې ذکر دروژي درجب او يا مونځ دبعضو شپو په هغې کې دي ټول دورغ او افتراء ده ، علامه ابن القيم (رح) وايي: فهو كذب مفترى - كحديث من صلى بعد المغرب اول ليلة من رجب عشرين ركعة ..... جاز على الصراط بلا حسابٍ -) يعني چاچې په اول سپه درجب دمانښام نه روسته ٢٠ رکعته مونځ وکړو نو په پُل صراط به بغير د حساب نه تير شي .) يا لکه بل حديث موضوعي : چاچې په رجب کې يوه روژه ونيوله او څلور رکعته مونځ يې وکړو په اول رکعت کې ١٠٠ کرت آيت الکرسي او دوهم کې ١٠٠ کرت قل هو الله احد وويل، نو دي به مړنه شي تر دي چې خپل ځای په جنت کې ونه ګوري يا بل حديث : من صام من رب كذا وكذا - الجميع كذب ومختلق - (المنار المنيف صـ ٩٢ - ٩٧ ، يعني داټول دروغ او دځان نه جوړ شويدي . وګوره اللالي المصنوعة جـ ٢ صـ ٥٥ وتنزيه الشريعة لابن عراق جـ ٢ صـ ٨٩ والآثار المرفوعة للكهنوي صـ ٣١٩ والموضوعات لابن الجوزي جـ ٢ صـ ١٢٣) بلکه رسول الله ﷺ درجب دروژي نه منع کړي ده (سنن ابن ماجه - وتبين العجب في فضل

رجب لابن حجر (رح) صـ ۳۱) حافظ ابن حجر په تبيين العجب کې دا مسئله ښه په وحاضت سره بيان کړي ده – الغرض درجب دروژي په باره کې او يا ديوخاص مونځ په دې مياشت کې هيڅ اصل نشته.)

٦٥- کوم احاديث دشعبان دپنځلسمي شپې دمونځ په باره کې راغلي دي. لکه حديث چې ګويا رسول الله ﷺ علي (رضي الله عنه) ته وويل: اي علي چاچې په نصف شپه دشعبان دسل (۱۰۰) رکعته مونځ په زر (۱۰۰۰) واري قل هو الله احد سره وکړو نو ټول حاجتونه به يې الله تعالى په دغه شپه پوره کړي او يا نور خرافات - حافظ ابن القيم (رح) وايې: والعجب ممن شم رائحة العلم بالسنن ان يغتر بمثل هذا الهذيان ويصليها - وهذه الصلاة وُضعت في الاسلام بعد الاربع مئة ونشئات من بيت المقدس فوضع لها عدة احاديث اهـ ، (المنار المنيف صـ ۹۸ – ۹۹) يعنې تعجب دهغه چا دپاره دي چې دعلم حديث بوئي پريې لږيدلي وي او بيا په دې چتياتو او خرافاتو دوکه کيږي او دامونځونه کوي او دا مونځ دځلورمي صدي نه روسته په بيت المقدس کې راپيدا شو او ډير موضوعي احاديث ورته جوړ کړي شول).

٦٦ – هر هغه احاديث چې پکې مستقل تاريخونه ذکر کوي لکه دا چې، اذا کانت سنة کذا وکذا احل کذا وکذا – يعنې کله چې فلاني کال شي نو

دا افت به راځي وغيره – داهم خرافات او دروغ دي - المنار المنيف صـ ۱۱۰).

٦٧ – دعاشوري (محرم الحرام لسمي (۱۰) په ورځ چې کوم فضائل درنجو لږول يا ځان ښائسته کول يا په هغې کې خيراتونه کول يا په هغې کې مونځونه خاص کول – هيڅ يو کوم اصل نه لري او يو حديث هم پکې صحيح نه دي سوا دمحرم دلسمي روژه او نور ټول فضائل يې باطل دي – لکه داحديث : من وسع على عياله يوم عاشورا وسع الله عليه على سائر سنته) – (يعنې چاچې په دې ورځ په خپلو بچو خرچې وکړه نو الله تعالى به پري په ټول کال په ده پراخي راولي.) حافظ ابن القيم (رح) وايي : قال الامام احمد لايصح هذا الحديث - المنار المنيف صـ ۱۱۲) يعنې دا حديث ثابت نه دي.

فائده : دمحدثينو داقول چې لايصح دي په باب داحکامو کې نو بيا ترينه دانفي اولازم نه وي چې دابه باطل وي البته صحيح به نه وي يابه حسن وي او يابه ضعيف وي اوپه باب دموضوعاتو کې بيا دا الفاظ چې لايصح دي لکه په دې باب کې نو بيا ترينه مراد باطل او موضوع مراد وي وګوره المصنوع في معرفة الحديث الموضوع للقاري صـ ۱۰ – ۱۵ وتنزيه الشريعة ج ۲ صـ ۱۵۸ – والنكت والافادة لابن همات الدمشقي صـ ۳۲) لهذا دعاشورا کوم احاديثوته چې چا حسن ويلي دي او دامام احمد داقول

يې په دې حمل کړي دي چې ولايصح نه مراد – دا دي چې صحيح به نه وي بلکي دابه حسن يا ضعيف وي – نو دا قاعده په احکامو کې دمحدثينو معتبره ده هر چې په باب دموضوعاتو کې ده نو بيا ترينه مراد بطلان او يا وضع دحديث ده .

٦٨ – **فضائل دهر سورة جداجدا** او يا چاچې فلاني فلاني سورة وويلو دده دپاره دا دا اجر دي داول دقرآن نه تر آخره – داهم ټول دروغ دي - امام ابن القيم (رح) وايې: كما ذكر ذلک الثعلبي والواحدي في اول كل سورة والزمخشري في آخرها قال عبد الله ابن المبارک : اظن الزنادقة وضعوها - اهالمنار المنيف صـ ١١٣ (لکه چې ثعلبي – واحدي په اول دسورة کې دا ذکر کړي او زمحشري بيا په اخر دهر سورة کې دا کار کړي - عبد الله بن المبارک وايې ګمان کوم چې داسې احاديث زنديقانو جوړ کړي دي – کوم احاديث چې صحيح دي په فضيلت دسورتونو کې نو هغه – سورة فاتحه - بقره – آل عمران – آيت الكرسي - آخر آيتونه دسورة البقره - او سورة البقره - او لس (١٠) آيتونه داول سورة الكهف – سورة اخلاص - د دې مذکوره سورتونو باره کې احاديث صحيح دي البته د دې نه کم صحت والالکه سورة اذا زلزلت الارض ، قل يا ايها لكافرون – تبارک الذي -) او د دې نه روسته چې څوک دهر سورة فضيلت ځانته ذکر کوي نو ټول په رسول الله ﷺ باندې دروغ جوړ شويدي چې جوړونکي يې اعتراف هم کړي دي : قصدت ان اشغل الناس بالقرآن عن غيره – يعنې زما پدې سره

قصد دا ؤ چې خلک په قرآن مشغول کړم دنورو کتابونو نه ، وګوره المنار المنيف صـ ۱۱۴)

۶۹ - شيعه ګانو او روافضو دعلي ﷺ په فضيلت کې ډير احاديث وضع کړي لهذا دعلي (ﷺ) د فضيلت باره کې چې کوم احاديث راغلي دي بايد نقد او تحقيق نه بعد به قابل اعتماد وي - امام الحافظ ابو يعلى الخليلي په الارشاد کې ليکي : وضعت الرافضة في فضائل علي (ﷺ) واهل البيت نحو ثلاث مئة الف حديث) يعنې روافضو دعلي (ﷺ) او اهل بيت په فضيلت کې درې لکه (۳۰۰۰۰۰) احاديث جوړ کړي) حافظ ابن القيم (رح) وايې: ولا تستبعد هذا فانک لو تتبعت ما عندهم من ذلک لو جدت الامر كما قال - اهـ المنار المنيف صـ ۱۱۲) يعنې داکوم بعيده نه ده ځکه که ته تتبع او تلاش وکړي چې د دوی سره کوم احاديث دي نو خبره به همداسې وي لکه چې امام الخليلي وايې).

۷۰ - بعضې جاهلو اهل السنه په فضائلو دمعاويه بن ابي سفيان کې احاديث جوړ کړي اسحاق ابن راهويه وايې: لايصح في فضل معاويه بن ابي سفيان عن النبي ﷺ شيء) المنار المنيف صـ ۱۱۲) يعنې دمعاويه (ﷺ) په فضيلت کې د رسول الله ﷺ نه کوم حديث صحيح نه دي)

حافظ ابن القيم (رح) وايي: قلت: ومراده ومراد من قال ذلک من اهل الحديث انه لم يصح حديث في مناقبه بخصوصه والاجماع عندهم في مناقب الصحابة على العموم ومناقب قريش فمعاوية داخل فيه) (المنار المنيف صـ ۱۱۲) زه وايم: مراد په دې قول چې لايصح دي داهل حديثو په نزد په مناقبو کې بالخصوص دي ورنه کوم احاديث چې په مناقبو دصحابه کرامو (رضي الله عنهم) کې على العموم او مناقب دقريشو کې ثابت دي نو معاويه (رضي الله عنه) پکې داخل دي) زه وايم مخکې حديث دترمذي ذکرشو چې رسول الله ﷺ ورته دعا کړې چې اللهم اجعله هادياً ومهدياً واهدبه - لهذا بالخصوص دغه هم ثابت دي).

۷۱ - امام ابن القيم (رح) وايي: ومن ذلک ما وضعه الكذابون في مناقب ابي حنيفة والشافعي على التنصيص على اسميهما وما وضعه الكذابون ايضاً في ذمهما عن رسول الله ﷺ وما يروى من ذلک كله كذب مختلق - (المنار المنيف صـ ۱۱۲

ترجمه: او بعضې دموضوعاتو نه داهم دي چې دروغجنو جوړکړي په مناقب دابوحنيفه (رح) اوشافعي (رح) کې او نومونه يې ورته اخستي دي - اودارنګ يا ددوی په ذم کې د رسول الله ﷺ نه هم هيڅ ثابت نه دي او چې کوم روايات پدې باره کې کيدي شي تول دروغ او په رسول الله ﷺ ورتپل شويدي) -

۷۲- **کومو احادیثو** کې چې دمعاویه (رضي الله عنه) ذم بیان شویدي ټول دروغ او دشیعه ګانو او دروافضو او د دین دښمنانو جوړ شوي روایات او قصې دي. (المنار المنیف صـ ۱۱۷)

۷۳ - **همدارنګه ټول هغه احادیث** چې په ذم دالولید یا مروان بن الحکم کې راغلي دي ټول دروغ دي (المنار المنیف صـ ۱۱۷ ، زه وایم همدارنګ بعضې قُصاص دیزید په باره کې د رسول الله ﷺ نه دده په ذم کې موضوعي احادیث بیانوي چې دده په ذم کې د رسول الله ﷺ نه هیڅ حدیث ثابت نه دي برعکس دي په هغه صحیح حدیث کې مبشر دي چې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چې چاد قسطنطني جهاد وکړو نودي مغفور دي (البخاري) لهذا یزید په نص د دې حدیث بخلي شوي تابعي دي او دحسین (رضي الله عنه) شهادت په ده یوه افتراء ده چې حسین (رضي الله عنه) خپله عراقي شیعه ګانو قتل کړي ؤ لکه حدیث دصحیح البخاري کې دابن عمر (رضي الله عنه) نه فتوی طلب کول چې په احرام کې څوک یو ماشي قتل کړي نو دم پرې لازمیږي او کنه ؟ دافتوی یوه عراقي شیعه طلب کړي وه - ابن عمر (رضي الله عنه) ورته وویل : تسالوني عن دم البعوضة وانتم قتلتم ابن بنت رسول الله ﷺ (صحیح البخاري) تاسو دمانه دماشي باره کې پوښتنه کوي حانکه تاسو د رسول الله ﷺ لمسي وژلي دي .) دمزید تفصیل لپاره زمونږ کتاب :

التحقيق المزيد في صحة خلاف يزيد ته رجوع كول په كار دي يسر الله طبعه) آمين -

٧٤ - هر هغه احاديث چې په هغې کې دايمان دعدم زيادت او يا دعدم نقصان ذکر دي ټول په رسول الله ﷺ افتراء ده لکن بالمقابل بيا بعضو نور احاديث په رسول الله ﷺ وضع کړي چې پکې دايمان زيادت او نقصان ذکر دي - يعني الايمان يزيد وينقص) لکن دايمان دزيادت او نقصان په باره کې دسلفو اجماع ده - حافظ ابن القيم (رح) وايي: وهذا كلام صحيح وهو اجماع السلف حكاه الشافعي وغيره ولكن هذا للفظ كذب على رسول الله ﷺ وهذا مثل اجماع الصحابة والتابعين وجميع اهل السنة وائمة الفقه على ان القرآن كلام الله منزل غير مختلق وليست هذه الالفاظ حديثاً عن رسول الله ومن روى ذلک عنه فقد غلط - المنار المنيف صـ ١١٩).

ترجمه: دا كلام چې الايمان يزيد وينقص - صحيح دي او دا اجماع دسلفو ده امام شافعي دا اجماع نقل کړي لکن دا لفظ په رسول الله ﷺ دروغ دي او په زيادت او نقصان داسې اجماع ده کله چې صحابه کرام تابعين او ټول اهل السنة او دفقه امامان په دې متفق دي چې قرآن منزل کتاب دی او مخلوق نه دي - لکن دا الفاظ چې القرآن من كلام الله منزل غير مخلوق درسول الله حديث نه دي څوک چې دا درسول الله ﷺ نه روايت کوي نو په دې باره کې غلط شويدي.

۷۵ - هر هغه احاديث چې په هغې کې التشنيف بعدالوضوء راغلي دي يعنې ځان وچول په دسمال سره روسته داودس نه نو داهم يو صحيح نه دي . حافظ ابن القيم (رح) وايي: فانه لايصح – (المنار المنيف صـ ۱۱۹ – اګر که علامه عبدالحي لکهنوي په دې باره کې په خپله رساله کې ډير کوشش د دې دصحت کړي لکن فانی له الصحة – والله اعلم .

۷۶ - دڅټ دمسح باره کې چې کوم احاديث راغلي دي يوهم صحيح نه دي . **امام نووي (رح) ليکلي دي** : مسح الرقبة امان من الغل – موضوع – يعنې داحديث چې دڅټ مسح کول بچ کيدل دي دخيانت نه موضوعي حديث دی - (الفوائد المجموعة صـ ۳۲ رقم ۲۹)

امام فتني ليکي : وفي الذيل : قال النووي موضوع ليس من کلام رسول الله ﷺ تذکرة الموضوعات صـ ۳۱) يعنې درسول الله ﷺ کلام نه دي بلکي يو موضوعي حديث دی)

فائده: داحنافو سره پدې باره کې دوه نور احاديث دي چې هغه هم ثابت نه دي (يو) حديث په مسند البزار کې دوائل بن حجر چې پکې داسې دي : ثم مسح على راسه ثلاثاً وظاهراُذنيه ثلاثاً وظاهررقبته – البزار رقم ۲۲۸). يعنې رسول الله ﷺ دسر مسح دري کرت وکړه او ظاهر دغوږونو يې هم دري کرت مسح کړه او ظاهر دڅټ يې هم مسح کړه.

جواب دادي : امام ابن دقيق العيد وايي يرويه محمد بن عبد الجبار - قال البخاري فيه - يعني دا حديث د محمد بن عبد الجبار په روايت دي چې امام بخاري دده په هكله وايي- په ده كې نظر دي) او دا د امام بخاري سخته جرحه ده - زه وايم حديث كې دري علتونه نور دي - محمد بن حجر يكې دي - امام بخاري وايي فيه بعض النظر - امام ذهبي (رح) وايي له مناكير -الميزان جـ ۳ صـ ۵۱۱) دويم (۲) يكې سعيد بن عبد الجبار دي - امام نسائي (رح) وايي قوي نه ؤ) الميزان جـ ۲ صـ ۱۴۷ - دريم (۳) يكې ام عبد الجبار بن وائل بن حجر دي - ابن التركماني وايي: لم اعرف حالها ولا اسمها - (الجوهر النقي على السنن الكبري جـ ۲ صـ ۳۰) يعني دا مجهول الحال ښځه ده چې نه خوئي حال او نه يې نوم معلوم دي .) لهذا دا حديث هم دې يرو بلاياؤ مرجع ده چې صحيح نه دي.) ۲ حديث د طلحة بن مصرف عن ابيه عن جده كعب بن عمرو اليامي -فيه - فلما مسح راسه قال هكذا و اوما بيده من مقدم راسه حتى بلغ بهما الى عنقه من قبل قفاه - (الطبراني في الكبير جـ ۱۹ صـ ۱۸۰) يعني رسول الله ﷺ د سر مسح وكړه چې دواړه لاسونه يې خپل څټ طرفته ورسول د څټ دشانه -)

جواب: داهم ثابت نه دي بلكي موضوعي حديث دى

۱- **په سند كې ابو سلمه الكندي** - عثمان بن مقسم البري دي - تركه القطان وابن المبارك - جوزجاني وايي، دې كذاب ؤ امام نسائي وا

دارقطني وايي متروک ؤ - (الميزان جـ ۳ صـ ۵۲) علامه ابن عراق دهغه کسانو په شمارکي ذکر کړي چې وضاعين او دجالين دي وايي: عثمان بن مقسم البري قال ابن معين من المعروفين بالکذب والوضع - تنزيه الشريعة المرفوعة جـ ۱ صـ ۸۴) ابن معين وايي چې دې دمعلومو دروغجنو او حديثو جوړونکو نه ؤ.

۲ - **بل يکې ليث بن ابي سليم دي** صدوق خو دې ولي اخر کې پرې اختلاط راغلي ؤ او دحديثو تميز يې نه ؤ شوي چې په اول کې يې اوريدل او که په اختلاط کې نو پريښودل شو- د (التقريب)

۳ - **بل يکې طلحة بن مصرف دي** - مجهول (التقريب جـ ۱ صـ ۳۸۰) - خلاصه داچې دا حديث هم موضوعي دي ځکه سند کې وضاع - مجهول مختلط روات دي. لهذا قابل استدلال نه دی او ثواب به پرې نه شي مرتب کېدلی.

۷۷ - **کومو احاديثو** کې چې په اودس کې په هر اندام ذکر کول راغلي دي - امام ابن القيم (رح) وايي: کلها باطل ليس فيها شيئ صحيح - المنار المنيف صـ ۱۲۰) يعنې دي باره کې ټول احاديث باطل او هيڅ شي يې کې صحيح نه دي، البته پدې باره کې بيا دصحيح مسلم حديث صحيح او ثابت دی چې هغه په آخر داختتام د اودس کې راغلي دي: ما منکم من

احدٍ يتوضاءُ فيسبغ الوضوء ثم يقول: اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله الا فتحت له ابواب الجنة الثمانية يدخل من ايها شاء. (مسلم رقم ۲۳۴ وابو داوُد رقم ۱۲۹ والنسائي جـ۱ صـ ۹۳ ابن ماجه رقم ۴۲۹ وغيرهم عن عقبة ابن عامر و عمر بن الخطاب وانس ﷺ جـ۱ صـ ۱۵۹).

ترجمه: نه دی یو دتاسونه چې ښایسته اودس وکړي او بیا دغه الفاظ ووایي: اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله) مګر ده ته به دجنت اته (۸) دروازي بیرته کړي شي داخلیږي به هغې ته دکومي نه چې خوښه یې شي.

۷۷ - **کومو احادیثو** کې چې دحیض دمودي تعین دکمي مودي په درې ورځو او دزیاتي په لسو شویدي ټول باطل او یو هم صحیح نه دي ،

۱ - **امام ابن القیم (رح) وایي**: وکذلک تقدیر اقل الحیض بثلاثة ایام واکثره بعشرة لیس فیها شيء صحیح بل کله باطل اهـ المنار المنیف صـ ۱۲۲) یعنې همدارنګ اندازه دکمي مودي دحیض په درې ورځو او زیات په لسو ، دي کې هیڅ شي صحیح نه دي بلکي ټول باطل دي-)

۲ - **شیخ الاسلام ابن تیمیه (رح) وایي**: فقد یروج علی اهل التفسیر والفقه والزهد والنظر احادیث کثیرة اما یصدقون بها واما یجوزون

بصدقها وتكون معلومة الكذب عند علماء الحديث مثل ما يرون طائفة من الفقهاء – كحديث لامهر دون عشرة دراهم – وحديث اقل الحيض ثلاثة ايامٍ واكثره عشرة - وحديث نهى عن البتيرآء (دا هغه مونځ دی چې دوه رکعته شروع کړي او بيا يو رکعت وکړي او هغه بل قطع کړي کذا في النهاية لابن الاثير) وحديث يغسل الثوب من الدم والمني ، وحديث كان يرفع يديه في ابتداء الصلاة ثم لايعود الى امثال ذلک من الاحاديث التي يصدق بعضها طائفة من الفقهاء ويبنون عليها الحلال والحرام واهل العلم بالحديث متفقون على انها كذب على رسول اللهﷺ موضوعة وكذلک اهل العلم من الفقهاء يعلمون ذلک - وكذلک حديث فيه ذكر الابدال والاقطاب والاغواث وعدد الاولياء وامثال ذلک مما يعلم اهل العلم بالحديث انه كذب – اهـ منهاج السنة النبوية في الرد على الشيعة والقدرية ج۴ ص ۱۱۵).

ترجمه: په اهل تفسير فقه او زهد والو باندې ډير داسې احاديث مشهور او رواج شويدي ياخوئي تصديق کوي او يا يې دتصديق دجواز قائلين دي او دغه احاديث معلوم دروغ دي داهل حديثو په نزد لکه چې بعضې فقهاء روايت کړي دي لکه دا حديث کم دلسو روپونه مهر نه شته - يا کمه موده دحيض درې او اکثره يې لس ده يا لکه رسول اللهﷺ دبتيرآء دمونځ نه منع کړي يا لکه حديث چې جامه به دمني او ويني څخه مينځل کيږي يا لکه حديث چې رسول اللهﷺ په ابتداء دمونځ کې رفع اليدين

کول بیا یې نه دي کړي) د دې په مثال نور احادیث چې بعضې فقهاء یې تصدیق کوي او په هغې حرام او حلال بناء کوي او دحدیثو ماهرین په دې متفق دي چې داپه رسول الله ﷺ باندې دروغ اوجوړشوي احادیث دي = همدارنګ کومو احادیثو کې چې ابدال غوثان یا داولیاء شمار ذکر دي یا نورو اهل علم دحدیثوپوهیږي چې داټول دروغ دي .)

۷۸- لا صلاة لمن عليه صلاة: یعنې دهغه چامونځ نه صحیح کیږي چې بل مونځ پري قضاء وي) ابراهیم الحربي وایې داحمد بن حنبل نه مي د دې حدیث باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وویل -لااعرفه - قال الحربي ولاسمعتُ انا هذا الحديث في حديث رسول الله ﷺاهـ المنار المنيف ص ۱۲۲.)

ترجمه: احمد بن حنبل (رح) وایې داحدیث زه نه پیژنم - ابراهیم الحربي وایې ماهم درسول الله ﷺپه احادیثو کې داحدیث چیرته نه دي اوریدلي.)

فائـــده: ابوغده کوثري المذهب حنفي وایې: اذا قال الحافظ الناقد المطلع في حديث: لااعرفه اولم اقف عليه ونحوهما من العبارات ولم يتعقبه احد من الحفاظ كفى للحكم على ذلك الحديث بالوضع. (المصنوع في معرفة الحديث الموضوع صـ۸ – ۱۰ للعلي القاري ومقدمته لابي غدة).

ترجمه: چې کله يو حافظ او ناقد د حديثو په يو حديث کې دا الفاظ استعمال کړي چې ، لا اعرفه اولم اقف عليه يا نور داسې عبارات اوبل کوم حافظ او ناقد پرې تعاقب ونه کړي نو د دغه حديث د موضوعي کيدلو دپاره کافي دي .)

۸۰ - همدارنګه هر هغه احاديث چې په هغې کې طلب راغلي دي دخير من الرحماء يا من حسان الوجوه - امام عقيلي (رح) وايې : ليس في هذا الباب شيء يثبت عن النبيﷺ - يعنې په دې باره د رسول الله ﷺ نه هيڅ شي ثابت نه دي - المنار المنيف صـ ۱۲۵)

۸۱ - په عوامو او ملايانو کې مشهور حديث : السخي قريب من الله قريب من الناس قريب من الجنة والبخيل عكسه - يعنې سخي شخص الله تعالى ته نژدي وي خلکو ته نژدي او جنت ته هم نزدې وي او بخيل بيا ددې په عکس دي. امام دار قطني (رح) وايې: لهذا الحديث طرف لايثبت منها شيء بوجه - يعنې د دې حديث ډير طرق دي چې په يوې وجې سره هم ثابت نه دي - (المنار المنيف صـ ۱۲۷) علامه الباني هم ورته ضعيف جداً ويلي دي وګوره ضعيف الجامع رقم ۳۳۴۱ والضعيفة ۱۵۴ -) علامه مناوي په فيض القدير ج۴ صـ ۱۳۹) کې وايې چې د تولو سندکي سعد بن محمد العراق دي = ذهبي (رح) وايې ضعيف - ابن الجوزي همدا حديث په الموضوعات کې ذکر کړيدي = اوبعضو بيا

دتقويت كوشش كړيدي وګوره تنزيه الشريعة جـ۲ صـ۱۳۹ والمقاصد الحسنة صـ۲۳۹ و كشف الخفاء جـ۱ صـ ۴۵۰.

۸۲- د وينځو د فضيلت باره کې احاديث: دې باره کې د رسول الله ﷺ نه يو حديث هم صحيح نه دی لکه حديث: اتخذوا السراري فانهن مباركات.

ترجمه: يعنې تاسي وينځې ونيسي ځکه دا دبرکت والا دي).

علامه العقيلي وايي: لايصح في السراري عن النبي شيء (المنار المنيف صـ ۱۲۷) دي باره کې د رسول الله ﷺ نه هيڅ شي صحيح نه دي.

۸۳ - کومو احاديثو کې چې په بازار کې دخوراک نه منع راغلي هغه ټول موضوعات دي = امام ابن القيم (رح) وايي کلها باطلة - (المنار المنيف صـ ۱۳۰) يعنې داسې احاديث بيا ټول باطل دي - او عقيلي (رح) هم وايي: لايثبت في هذا الباب شيء عن النبي ﷺ - يعنې دي باره کې د رسول الله ﷺ نه هيڅ شي ثابت نه دي) البته يو حديث د ابو اُمامه د رسول الله ﷺ نه دي باره کې شته چې رسول الله ﷺ وايي: الأكل في السوق دناءة - يعنې خوارک په بازار کې کم عقلتيا ده) لکن سند کې عمر بن موسى بن وجيه دي - امام ابن عراق په هغه وضاعينو کې شمار کړي چې دجالان دي - بياوايي عمر بن موسى بن وجيه ، قال ابن حبان يروي الموضوعات وقال ابن عدي يضع الحديث اسناداً - (تنزيه الشريعة جـ ۱ صـ ۹۲) امام

ابن حبان (رح) وايې موضوعات به يې نقل کول ابن عدي وايې سنداً او متناً حديث موضوعي به يې جوړولو.

الحاصل: حديث موضوعي دي على طريقة ابن عراق او ابن حبان او ابن عدي. لهذا دمناوي قول په فيض القدير جـ۳ صـ ۱۸۱ دسيوطي (رح) په اللالي المصنوعة جـ۲ صـ ۲۵۲ دسخاوي قول په المقاصد الحسنه صـ ۸۰ او دهيثمي قول په مجمع الزوائد جـ ۵ صـ ۲۴ کې چې سند يې ضعيف دی خطاء دی. ځکه حديث موضوعي دي ضعيف نه دي.

۸۴ – دموضوعي احاديثو نه داهم دي: چې لايدخل الجنة ولدزنا = يعنې جنت ته به ولد زنا نه ځي – امام ابن الجوزي (رح) وايې: وقد ورد في ذلک احاديث ليس فيها شيء يصح ، اهـ الموضوعات جـ ۳ صـ ۱۱۱) يعنې دي باره کې احاديث راغلي دي خو هيڅ شي پکې صحيح نه دي) البته بل حديث کې راځي چې ولدزنا شر الثلاثة – يعنې ولدزنا يو د دريې نه شرير دي - دوه شره يې والدين اويوئي ولد دي (ابو داوُد في کتاب العتق - امام احمد جـ ۲ صـ ۳۰۰ ، الحاکم جـ ۴ صـ ۱۰۰ عن ابي هريرة والمسند جـ۲ صـ ۱۰۹ – بسندٍ حسنٍ عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ - هو اشر الثلاثة اذا عمل بعمل ابويه - يعنې ولدزنا) رسول الله ﷺ فرمائي چې ولد زنا يو د دريو نه شر او بد تر دي لکه چې دخپل پلار عمل (زنا) کوي)

۸۵- حديث: ليس لفاسق غيبة = يعني دفاسق غيبت نشته - امام دار قطني او خطيب (رح) وايي قد روى من طرق وهو باطل - اهـ المنار لمنيف صـ ۱۳۴) يعني دا حديث دډيرو طرقونه روايت کړي شويدي - خو باطل دي. وګوره ضعيف الجامع ۴۹۱۸).

۸۶ - کوم احاديث چې په حرمت دلوبو کولو په شطرنج يا په اباحت راغلي دي ټول په رسول الله ﷺ دروغ دي - البته د صحابه کرامو نه منع راغلي ده - (المنار المنيف صـ ۱۳۴)

۸۷ - حديث : من أهديت اليه هديةً وعنده جماعة فهم شرکاؤه - يعني چاته چې يوه هديه ورکړي شوه او دده خواکي نور څوک ناست ؤ نو دوی ورسره شريک دي.)

امام عقيلي (رح) وايي: لايصح في هذا الباب شيء - وقال البخاري (رح) في صحيحه : باب من هدى له هديةً وعنده جلساؤه فهو احق - ويذکر عن ابن عباس ان جلساؤه شرکاؤه ولم يصح- (صحيح البخاري کتاب الهبة ج۵ صـ ۱۲۷ المنار المنيف صـ۱۳۵)

ترجمه: عقيلي (رح) وايي: په دې باره کې هيڅ شي د رسول الله ﷺ نه صحيح نه دي امام بخاري (رح) په صحيح کې وايي : باب دي ، دې باره کې چې چاته هديه ورکړي شي او ورسره نور څوک ناست ؤ نو دي زيات

حقدار دي - او دابن عباس (رضي الله عنه) نه روايت کړي شويدي چې ورسره ناست خلک شريکان دي خو صحيح نه دي).

۸۸- حديث چې : عبدالرحمن بن عوف يدخل الجنة حبواً (مسند احمد ج۲ صـ ۱۱۵) يعنې عبد الرحمن بن عوف به جنت ته په خاپوړو ځي .) شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) وايي: لايصح عن النبي ﷺ يعنې درسول الله ﷺ نه داصحيح نه دي) المناري المنيف صـ ۱۳۵) علامه ابن الجوزي (رح) په الموضوعات جـ۲ صـ ۱۳ - کې دامام احمد نه نقل کړي: هذا حديث كذب منكر وعمارة في سنده يروي احاديث مناكير - يعنې داحديث دروغ او منکر دي - عماره يې سند کې دي چې منکر احاديث نقل کوي) امام ابن حجر العسقلاني (رح) په القول المسدد في الكذب عن مسند احمد صـ ۲۵ کې دي حديث ته موضوعي ويلي دي لکه چې دده استاذ حافظ العراقي ورته موضوع ويلي دي .)

۸۹ - احاديث دابدالو او اقطابو او غوثانو نقبآء اوتادو: ټول باطل دي چې يو هم صحيح نه دي . ۱ - امام ابن القيم (رح) وايي: كلها باطلة على رسول الله ﷺ اهـ المنار المنيف صـ ۱۳۲) يعنې احاديث دابدالو اقطابو ټول باطل دي په رسول الله ﷺ دروغ دي .) علامه سيوطي (رح) په خپله رساله: الخبر الدال على وجود القطب والاوتاد والنجبآء والآبدال - ضمن الحاوي للفتاوى جـ ۲ صـ ۴۱۷) کې ډير کوشش د دې حديث

دتقويت کړي لکن هيڅ داسې صحيح احاديث يې نه دي ذکر کړي چې دمدعي دپاره يې دليل جوړشي اوپه اللالي المصنوعة جـ ۲ صـ ۳۲۰ - کې هم دتقويت کوشش کړي خو بياهم په دې نه دي توانيدلي چې داحديث صحيح ثابت کړي. علامه السخاوي په المقاصد الحسنه صـ ۳۲ رقم ۸ کې وايې: له طرق عن انس مرفوعاً بالفاظٍ مختلفة كلها ضعيف اهـ. يعنې دانس (ﷺ) نه په مختلفو الفاظو داحديث نقل دي چې ټول ضعيف دي.

۲ **شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) وايې**: وكذلك حديث فيه ذكر الابدال والاقطاب والاغواث مما يعلم اهل العلم بالحديث انه كذب - (منهاج السنة جـ۴ صـ ۱۱۵).

ترجمه: همدارنګه هر هغه حديث چې پکې ذکر دابدالو اقطابو او غوثانو شويدی نو اهل علم د حديثو پوهيږي چې دادورغ دي.

۹۰- **کوم احاديث** چې پکې منع راغلي ده، درفع اليدين نه عند الركوع والرفع منه - نوداهم ټول موضوعي دي حافظ ابن القيم (رح) وايې: كلها باطلة على رسول الله ﷺ لايصح منها شيء - (المنار المنيف صـ ۱۳۷) ومنهاج السنة النبوية جـ۴ صـ ۱۱۵. يعنې دعدم رفع والاحديث ټول باطل

او په رسول الله ﷺ دروغ دي. چې يوئي هم صحيح نه دي)) بيا امام ابن القيم (رح) دعدم رفع حديثونه ذکر کړي.

١ – **کحديث عبدالله بن مسعود** : الا اصلي بکم صلاة رسول الله ﷺ، قال: فصلى فلم يرفع يديه الافي اول مرة) يعني رسول الله ﷺ مونځ وکړو په اول وارئي رفع اليدين وکړه او بيائي ونه کړه بيا وايي: ابن المبارک وايي: حديث دابن عمر (رضي الله عنه) په رفع اليدين کې ثابت دي او دعبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) حديث ثابت نه دي.

٢ – **وکحديثه آخر**: صليتُ مع رسول الله ﷺ وابي بکر وعمر فلم يرفعوا الا عند افتتاح الصلاة وهو منقطع لايصح . المنار المنيف صـ ١٣٨) ابن مسعود (رضي الله عنه) وايي چې ماد رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر سره مونځ وکړو نو دوی رفع اليدين ونه کړه مګر صرف په تکبير تحريمه کې. لکن داهم منقطع دي.)

٣ – **وحديث يزيدبن ابي زياد عن ابن ابي ليلى عن البرآء** : ان رسول الله ﷺ کا اذا افتتح الصلاة رفع يديه الى قريب من اُذنيه ثم لايعود . قال الشافعي : ذهب بعض الناس الى تغليط يزيد وقال الامام احمد هذا حديث واهٍ وقال يحيى: ابن ابي زياد ضعيف الحديث. وقال ابن عدي :

ليس بذلک وضعف هذا الحديث جمهور اهل الحديث وقالوا لايصح اهـ المنار المنيف صـ ١٣٨).

ترجمه: حديث دى زيد بن ابي زياد دبرآء (رضي الله عنه) نه چې رسول الله ﷺ به اول کې لاسونه اوچتول غوږونوته نزدي بيابه يې نه جګول: امام شافعي (رح) وايې بعضې خلک وايې چې يزيد بن ابي زياد غلط شويدي ، امام احمد (رح) وايې داحديث واهي دي ، يحيى بن معين (رح) وايې ابن ابي زياد ضعيف الحديث دى - ابن عدي وايې ضعيف ؤ - داحديث جمهور اهل حديثو ضعيف کړي وايې چې داصحيح نه دي .

٤ - **وحديث عن مقسمٍ** عن ابن عباس عن نافع عن ابن عمر قالا قال رسول الله ﷺ : ترفع الآيدي في سبع مواطن عند افتتاح الصلاة واستقبال البيت والصفاء والمروة والموقفين والجمرتين . لايصح رفعه والصحيح وقفه عن ابن عمر وابن عباس - المنار المنيف صـ ١٣٨).

ترجمه: حديث دابن عباس او ابن عمر (رضي الله عنهما) چې دوى وايې رسول الله ﷺ وايې: لاسونه به پورته اوه (٧) ځاى ونو کې اوچتولي شي تکبير تحريمه کې ، استقبال القبله ، صفاء . ، مروه . عرفات ، مزدلفه - لکن مرفوع داحديث نه دي صحيح دا ده چې داپه ابن عمر او ابن عباس (رضي الله عنهما) موقوف دي) زه

وايم كه موقوف هم صحيح شي بياهم دلته نفي درفع اليدين نشته نو مدعي ترينه نه ثابتيږي .)

٥ - **وحديث اورده البيهقي** في الخلافيات عن ابن عمر ان النبي ﷺ كان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة ثم لايعود - يعني رسول الله ﷺ به اول دمونځ كې رفع اليدين كول بيا به يې نه كولو - امام ابن القيم (رح) وايي: ومن شم روائح الحديث على بُعدٍ شهد ب الله انه موضوع - المنار المنيف صـ ١٣٨ : يعني چاته چې دحديثود علم بوي هم دليري نه لږيدلي وي نو پدې حديث به ګواهي ورکړي چې دا موضوعي دي.

٦ - **حديث عباد بن الزبير**: كان رسول الله ﷺ يرفع يديه في اول الصلاة ثم لم يرفعهما - وهو موضوع - المنار المنيف صـ ١٣٩) عباد بن الزبير وايي چې رسول الله ﷺ به په اول کې رفع اليدين کول بيا به يې نه اوچتول.) ابن القيم (رح) وايي داحديث موضوعي دي .

٧ - **عن انسٍ موقوفاً** : من رفع يديه في الركوع فلاصلاة له - قبح الله واضعه - المنار المنيف صـ ١٣٩) يعني چاچې رفع اليدين په رکوع کې وکړه نومونځ يې نه کيږي) ابن القيم (رح) وايي جوړونکي د دې حديث دي ، الله تعالى قبيح اوبرباد کړي - داحديث محمد بن عكاشه الكرماني جوړکړي = چې دې يو کذاب وضاع ؤ حديثونه به يې جوړول (الكشف

الحثيث بمن رمى بوضع الحديث صـ ۲۱۹ رقم ۲۲۳ وتنزيه الشريعة جـ ۱ صـ ۱۱۰ رقم ۲۰۹) امام جوزقاني وايي - هذا حديث موضوع باطل محمد بن عكاشة هذا كان كذاباً خبيثاً يضع الحديث الاباطيل رقم ۳۹۳-

الحاصل: دي باره کې زمونږ کتاب جلاء العينين في اثبات رفع اليدين - دامام ابن القيم (رح) کتاب رفع اليدين في الصلاة ته رجوع کول په کار دي.)

۹۱ - دمتصوفه مختلق حديث چې رسول الله ﷺ دفقرآء مجلس ته حاضر شو او ګډ شو تردي چې قميص مبارک يې څيرې شو.

امام ابن القيم (رح) وايي: فلعن الله واضعه ما اجراءه على الكذب السمج - المنار المنيف صـ ۱۳۹) (د الله تعالى لعنت دې وي په جوړونکي د دې حديث څومره جرآءت مند دی په دروغ باندې)

۹۲ - حديث لوظن احدكم ظنه بحجر لنفعه: يعنې که يو دتاسو نه ګمان په کانې د نفع وکړي نو نفع به درکړي ، ابن القيم (رح) وايي: هو من وضع المشركين عباد الاوثان - اهـ المنار المنيف صـ ۱۳۹ - يعنې دا حديث دمشرکينو جوړکړي حديث دی چې دبتانو عابدين دي .

۹۳ – حديث أطلبوا العلم ولو بالصين فان طلب العلم فريضة على كل مسلمٍ - يعني تاسو دعلم طلب وكړي اګر كه په چين كې ياست. داحديث العقيلي او ابن عدي دانس (ﷺ) نه روايت كړي - امام ابن حبان (رح) وايي : وهو باطل لااصل له وفي اسناده ابو عاتكه وهو منكر الحديث. (الفوائد المجموعة في الاحاديث الموضوعة رقم ۸۵۲ – يعنې اسناد كې ابو عاتكه دي چې منكر الحديث دى. الباني (رح) وايي باطل – الضعيفة ۴۱۲ – جـ ۱ صـ ۲۰۰).

فائدة: بعضې جاهلان يو حديث ذكر كوي چې: طلب العلم فريضة على كل مسلم و مسلمة. ولې لفظ د مسلمة پكې ثابت نه دى. او نور حديث بيا صحيح دى. وګوره صحيح الجامع ۳۹۱۳. خو مراد ترې نه علم ديني د قرآن او سنت مراد دى. البته دنيوي علوم آلات دي فرض نه دي.

فصل

٩٤ - حديث ابوحنيفه سراج امتي - يعنې ابو حنيفه (رح) زما دامت ډيوه ده) ملاعلي القاري حنفي وايې: موضوع باتفاق المحدثين - الاسرار المرفوعة صـ ١٠١ رقم ٤) يعنې داحديث په اتفاق دمحدثينو موضوعي دي لهذا احنافو ته به هيڅ كتلي نشي چې دوی د دې حديث تقويت په سينه زوری سره كوي وګوره تذكرة الموضوعات صـ ١١١ والفوائد للكرمي رقم ٢٠٣ -

امام عجلوني وايې: احمد بن مامون الهروي ته چاوويل چې امام شافعي ته نه ګوري او دده ملګري په خراسان كې يعنې څومره زيات شول؟ نو هغه وويل : حدثنا عبد الله بن معدان الازدي عن انس مرفوعاً : يكون في امتي رجل يقال له محمد بن ادريس اضر على امتي من ابليس ورجل يقال له ابو حنيفه هو سراج امتي - كشف الخفاء جـ ١ صـ ٣٣).

ترجمه: يعنې وي به زما په امت كې يو سړي چې محمد بن ادريس به يې نامه وي (الشافعي) چې زما په امت به دابليس نه زيات ضرري وي اوبل سړي چې ابو حنيفه دي زما دامت ډيوه ده) علامه عجلوني وايې : اخزى الله واضعه المتعصب وجزاه على سوء فعله ما يستحق - اهـ يعنې الله تعالى دي جوړونكي د دې حديث وشرموي څومره متعصب دي او الله

تعالى دي ددغه بدكار بدله ورله وركړي چې څومره يې مستحق وي) الباني هم په الضعيفه صـ ۵۷۰ کې ورته موضوعي ويلي دي.

تنبيه: مذهبي تقليد او تعصب مولايان دې ته مجبوره کړل چې په رسول الله ﷺ دروغ جوړ کړي د خپل امام د اوچتولو د پاره. چې دا بيا په دين کې ډيره لويه او خطرناکه خبره ده. چې کله مفضي شي نواقض د ايمان ته. عصمنا الله منه.

۹۵ – حديث اجتماع دخضر او الياس عليهما السلام په موسم د حج کې هر کال- داهم موضوعي حديث دی.

علامه ابن حجر العسقلاني (رح) وايې: لايثبت فيه شيء – يعنې پدې کې هيڅ شي ثابت نه دي. (الاسرار المرفوعة صـ ۱۰۲ رقم ۱۳)

۹۶ – د رسول الله ﷺ دوالدينو باره کې حديثونه چې هغه ژوندي شوي ؤ او دايمان يې په رسول الله راوړی ؤ ، داهم موضوعي حديث دی ملا علي القاري (رح) وايې موضوع کما قال ابن دحية - اهـ الاسرار المرفوعة في الاخبار الموضوعة صـ ۱۰۸ رقم).

فائده: امام سيوطي (رح) په دې باره کې يوه مستقل رساله ليکلي ده اودائي ويلي دي چې ابوين درسول الله ﷺ الله تعالى ژوندي کړي وو او په

رسول الله ﷺ يې ايمان راوړي ؤ خو هيڅ کوم صحيح او قوي دليل يا حديث يې نه دي ذکر کړي لهذا د ملاعلي القاري قول چې هو موضوع صحيح دي - والله تعالى اعلم.

۹۷- حديث : اختلاف امتي رحمة - داحديث هم موضوعي دي علامه الباني(رح) په ضعيف الجامع ۲۳۰ او الضعيفة **۵۷** کې ذکر کړي وايې : موضوع.

ملاعلي القاري په الاسرار المرفوعة رقم ۱۷ کې ذکر کړي وايې: زعم كثير من الائمة انه لااصل له – يعنې څه اصل ورلره نشته -

امام ابن حزم هم په الاحكام في اصول الاحرام کې ورته موضوعي ويلي دي وګوره الاحكام ج**۵** ص ۲۳ وقال باطل مكذوب - اهـ.

فائده: که اختلاف رحمت شي نو مفهوم يې دا شو چې اجتماع او وحدت غضب شو چې دا بيا په اجماع، قرآن او سنت سره باطله خبره ده. البته اختلاف په فروعاتو کې د دې نه خارج دی.

۹۸ – حديث : اكرموا الخبز - يعنې د ډوډۍ عزت کوي – ملاعلي القاري وايې: له طرق كلها ضعيفة - وبعضها اشد في الضعف من بعض - الاسرار المرفوعة رقم **۵۲** – يعنې د دې طرق شته خو ټول ضعيف دي او

بعض دبعضو نه په ضعف کې سخت دي . حديث ثابت نه دي لهذا - الباني (رح) وايې په ضعيف الجامع ۱۱۲۵ - ۱۱۲۲ - الضعيفة ۲۸۸۵ - ابن الجوزي (رح) په الموضوعات جـ۲ صـ ۲۹۰ - ابن عراق په تنزيه الشريعة جـ ۲ صـ ۲۳۲ - کې ذکر کړي دي.

۹۹ - **حديث - اللهم ايد الاسلام باحد العمرين** - يعنې يا الله ته اسلام يو په دوه دعمرينو (عمر بن الخطاب) - اوابو جهل) باندې مضبوط کړي - ملا علي القاري ليکي: لااصل له بهذا اللفظ - يعنې پدې لفظ حديث ثابت نه دي ـ البته داسې الفاظ شته چې اللهم ايد الاسلام باحب هذين الرجلين اليک بابي جهل اوبعمر ابن الخطاب وفي بعض الروايات اللهم اعز الاسلام بعمر وفي رواية زيادة خاصة (المستدرک للحاکم جـ۳ صـ ۸۳ وصححه ورواية خاصة اخرجها ايضاً الحاکم في المستدرک عن عائشة (رضي الله عنها) د دې دواړو جمع داسې ده چې رسول الله ﷺ اول کې دعا داسلام دواړو ته وکړه خو چې کله وحي راغله چې ابو جهل اسلام نه راوړي او نوم يې عمرو بن هشام ؤ رسول الله ﷺ ورته ابو جهل نوم غوره کړه نو بيائي روسته وويل اللهم ايد الاسلام بعمر خاصة - قاله القاري في الاسرار المرفوعة صـ ۱۳۳).

۱۰۰ - **حديث انا مدينة العلم وعلي بابها** - يعنې زه دعلم ښار يم او علي (رضي الله عنه) يې دروازه ده (الترمذي جـ۴ صـ ۳۲۹) خو حديث موضوعي دي امام

بخاري (رح) وايي: انه كذب لااصل له - يعني داحديث دروغ دي چې اصل ورله نه شته. ملاعلي القاري وايي وكذا قال ابوحاتم ويحيى بن سعيد واورده ابن الجوزي في الموضوعات ووافقه الذهبي وغيره على ذلک - الاسرار المرفوعة رقم ۷۱) يعني ابوحاتم او يحيى بن سعيد القطان هم داحديث دروغ بللي دي او ابن الجوزي داحديث په الموضوعات کې ذکر کړي او ذهبي او نور محدثينو ورسره هم موافقت کړيدي - علامه الالباني هم ورته موضوع ويلي دي - الضعيف الجامع ۱۳۳۳ - والضعيفة ۲۹۵۵ - حاکم چې کله داحديث په المستدرک جـ۳ صـ ۱۲۲ کې ذکر کړی او صحيح کړيدی نو امام ذهبي (رح) وايي: بل موضوع: قال (الحاکم وابو الصلت ثقة مامون - قلت (الذهبي) لاوالله لا ثقة ولامامون اهـ) يعني حاکم وايي چې ابو الصلت راوي د دې حديث ثقه او مامون دي ذهبي (رح) قسم خوري چې والله که نه ثقه وي او نه مامون وي - بلکي داحديث موضوع دي) علامه شوکاني (رح) وايي: داحديث خطيب بغدادي دابن عباس (رضي الله عنهما) نه مرفوعاً - الطبراني - ابن عدي - العقيلي - ابن حبان دابن عباس نه هم مرفوع نقل کړي - دخطيب بغدادي په اسناد کې جعفر بن محمد البغدادي دي چې دې متهم بالوضع دي - اودطبراني په اسناد کې ابو الصلت الهروي عبدالسلام بن الصالح دی چې داحديث يې جوړ کړي دي - او اسناد دابن عدي کې احمد بن سلمه الجرجاني دي چې دثقاتونه باطل حديثونه نقل کوي او

دعقيلي په اسناد کې عمربن اسماعيل بن مجالد کذاب دي او دابن حبان په سند کې اسماعيل بن محمد بن يوسف دي چې لا يحتج به - وګوره الفوائد المجموعة - في الاحاديث الموضوعة ۱۰۹۰ - الغرض داحديث موضوعي دي اګر چې بعضې متساهلين د دې داثبات کوشش کوي - وګوره تذکرة الموضوعات صـ ۹۵ والمتييز صـ ۳۳ والکشف جـ ۱ صـ ۲۰۳ والموضوعات جـ ۱ صـ ۴۳۹).

۱۰۱ - حديث ان بلالا كان يبدل الشين في الآذان سينا - يعنې بلال (ﷺ) به دشين په ځای په اذان کې سين ويلو ، امام مزي وايې: انه اشتهر على السنة العوام ولم نره في شيء من الكتب - يعنې عوامو کې دامشهوروي لکن په يو کتاب کې مونږ ونه مونده) ابن کثير (رح) وايې: لا اصل له - يعنې اصل يې نشته - تذکرة الموضوعات صـ ۱۰۱).

۱۰۲- حديث ان الشمس رُدت على علي ابن ابي طالب (ﷺ): يعنې لمر علي ﷺ ته واپس شوي ؤ - امام احمد (رح) وايې: لا اصل له - يعنې اصل يې نشته - امام ابن الجوزي (رح) په الموضوعات جـ ۱ صـ **۳۵۵** کې ورته موضوع ويلي دي .) امام ابن تيميه - (رح) وايې: رد الشمس قد ذكره طائفة كالطحاوي - والقاضي عياض وغيرهما وعدوا ذلك من معجزات النبي ﷺ لكن المحققون من اهل العلم والمعرفة بالحديث يعلمون ان هذا الحديث كذب موضوع كما ذكره ابن الجوزي في

الموضوعات وليس علي افضل من النبي ﷺ والنبي ﷺ فاتته العصر يوم الخندق حتى غربت الشمس ثم صلاها ولم ترد عليه الشمس وكذلك لم ترد لسليمان لما توارت بالحجاب وقد نام النبي ﷺ ومعه علي وسائر الصحابة عن الفجر حتى طلعت الشمس ولم ترجع لهم الى الشرق وان كانت التفويت محرماً فتفويت العصر من الكبائر وقد روى عن النبي ﷺ في الصحيحين لما قال شغلونا عن الصلاة الوسطى صلاة العصر حتى غربت االشمس ملاء الله اجوافهم وبيوتهم ناراً - وهذا الحديث ليس في شيء من كتب الحديث المعتمدة لارواه اهل السنن و لاالمسانيد بل اتفقوا على تركه و الاعراض عنه و لا يعرف في شيء من كتب الحديث المعتمدة. منهاج السنة النبوية جـ۴ صـ۱۸۹ بتصرف).

ترجمه: واپس کیدل دلمر علي رضي الله عنه ته یوي ډلي لکه طحاوي او قاضي عیاض ذکر کړي او دایې درسول الله ﷺ معجزه ګڼلې ده لکن محققین، اهل علم او په حدیثو علم لرونکي بیا پوهیږي چې داحدیث دروغ اوموضوعي دي لکه چې ابن الجوزي په الموضوعات کې ذکر کړي او علي رضي الله عنه درسول الله ﷺ نه افضل نه دي حالانکه درسول الله ﷺ نه دمازیګر مونځ فوت شو دخندق په ورځ تردي چې لمر پریوتلو بیائي دغه مونځ اداء کړو اولمر ورته واپس نه شو – همدارنګ سلیمان علیه السلام ته واپس نه شو کله چې هغه لمر په پرده کې پټ شو – رسول الله ﷺ او صحابه کرامو چې کله ویده شول د سبا د مونځ نه او ورسره علي رضي الله عنه او صحابه کرامو

(ﷺ) هم ؤ) تردي چې لمر راوختلو - دوی ته حصار نه شو که فوت کیدل دمونځ حرام وي نو دمازدیګر مونځ فوت کیدل دکبیره ګناهونونه ده حدیث دصحیحینو کې راځي چې کله غزوه خندق کې دمازدیګر مونځ درسول الله ﷺ نه قضاء شو دجهاد په وجه نو رسول الله ﷺ وویل = الله تعالی د دوی ګیډي او کورونه داورنه ډک کړي مونږ یې دمازدیګر مونځ نه مشغوله کړو = نوولي رسول الله ﷺ ته دلته شمس واپس نه شولو - او داحدیث دحدیثو په معتبرو کتابونو کې نشته او نه اهل حدیثو روایت کړي او نه اهل السنن او مسانیدو والا بلکي ټول پري متفق دي چې دایې نه دي ذکر کړي او د دې دذکر کولونه یې اعراض کړي اونه داحدیث په کومو معتمدو کتابونو دحدیثو کې څوک پیژني -اهـ).

فائده: بعضې متساهلین لکه سیوطي داحدیث په الدرر المنتثره کې ذکر کړي او صحیح یې ګرځولي دي.

لکن جواب دادي چې سیوطي حاطب لیل او په تساهل مشهور ؤ دی دنقد والاؤ نه ؤ دارنګه دا حدیث امام طحاوي هم صحیح کړی خو دده په هکله شیخ الاسلام وایې: (والطحاوي لیس عادته نقد الحدیث کنقد اهل العلم ولهذا روی في شرح معاني الآثار الاحادیث المختلفة وانما یرجح ما یرجحه منها في الغالب من جهة القیاس الذي رآه حجة ویکون اکثرها مجروحا من جهة الاسناد لایثبت ولا یتعرض لذلک فانه لم تکن

معرفته بالاسناد كمعرفة اهل العلم به وان كان كثر الحديث فقيها عالماً .اهـ (منهاج السنة ج۴ صـ ۱۹۴ – طبع دار المعرفة.

ترجمه: امام طحاوي عادت دانه ؤ چې دې دحديثو نقدوکړي لکه دنورو په شان د دې دوجي نه يې په شرح دمعاني الآثار کې مختلف احاديث روايت کړي او هغه آثاروته يې ترجيح ورکړي چې دقياس سره موافق وي کوم چې دي يې حجت وينې او اکثر د دغه آثارونه مجروح او ضعيف وي داسناد دوجي نه چې ثابت هم نه وي . لکن دې ورته کوم کتنه هم نه کوي ځکه علامه الطحاوي دومره معرفت په اسناد کې نه لرلو لکه دنورو اهل علمو معرفت په اسناد کې اګر که حديثو نه يې ډير روايت کول فقهي عالم ؤ) خلاصه : د دې نه معلومه شوه چې دطحاوي تصحيح او تضعيف ته به کوم التفات نه شي کيدي خاصة په باب داعتقاد کې چې کوم دعقيدي سره تعلق لري او نه به دسيوطي خبره قابل داعتبار وي کوم چې په تساهل شديده سره مشهور او معروف دي – والله اعلم .

۱۰۳- حديث – ان العالم والمتعلم اذا مرا على قرية فان الله تعالى يرفع العذاب عن مقبرة تلک القرية اربعين يوماً – يعنې عالم او متعلم چې کله په يوکلي تيريږي نو الله تعالى ترينه عذاب د دغه کلي دمقبري نه څلويښت ورځي اوچتوي .) علامه سيوطي وايي لااصل له - يعنې د دې

کوم اصل نه شته او پدې حکم ملا علي القاري هم اقرار کوي: الاسرار المرفوعة صـ ۱۴۲ رقم ۸۰).

۱۰۴ - حديث: ان لابراهيم الخليل ولابي بکر الصديق لحية في الجنة - يعني دابراهيم عليه السلام او ابوبکر صديق (رضي الله عنه) به په جنت کې ګيره وي.

ملا علي القاري (رح) وايي: داصحيح نه دي او نه يې په مشهوره کتابونو کې پيژنم او نه يې په اجزاء منشوره کې وجود لري. (الاسرار المرفوعة رقم ۸۳) دمزيد تفصيل لپاره المقاصد الحسنه ۱۱۲ – التميز الطيب ۳۹ – کشف الخفاء ج۱ صـ ۲۳۳ – وګوره)

۱۰۵ - حديث: ان الميت يرى النار في بيته سبعة ايام - يعني مړي په خپل کور کې اوه (۷) ورځې اور وينې.

امام بيهقي دامام احمد په مناقب کې وايي: سئل عنه احمد فقال: باطل لااصل له – امام احمد وايي چې داحديث باطل او اصل ورله نشته – الاسرار المرفوعة رقم ۱۰۱

فائده: د دې موضوعي حديث نه بعضې علماء سوء او ګيډورو استدلال کړی چې مړی تر اوو ۷ شپو پورې اوور وينې نو پکار ده چې د هغې پسې د

اولې شپې، د جمعې شپې خیراتونه وشي. خو حدیث موضوعي دی نو څنګه به ترې نه استدلال صحیح شي؟

۱۰۶ – ان الورد خلق من عرق النبي او عرق البُراق: یعنې ګل د رسول الله ﷺ د خولو نه پیدا دي او یا دهغه بُراق (سورلي نه).

امام نووي وایې: لا یصح یعنې صحیح نه دي – ابن حجر العسقلاني (رح) وایي: موضوع وسبقه لذلک ابن عساکر ذکره السخاوي – وقال الزرکشي له طرق في الفردوس وکتاب الریحان لابن فارس – ابن حجر (رح) وایې چې دا حدیث موضوعي دي او د دې نه مخکې ابن عساکر هم دیته موضوعي ویلي دي کوم چې سخاوي ذکر کړه ، زرکشي (رح) وایې چې د دې طرق مسند الفردوس د دیلمي - کتاب الریحان دابن فارس کې موجود دي .) الاسرار المرفوعة رقم ۱۰۳).

زه وایم - مسند فردوس دموضوعاتو نه ډک دي چې اعتماد به پرې نشي کیدی ترڅو چې یې سند ذکر نه وي او هرچې کتاب الریحان دابن فارس دي نو ابن فارس چې ابو الحسین بن فارس یې نوم دي دا کتاب دمکي نه نقل کړیدي - اومکي وضاع انسان ؤ – برهان الدین حلبي په الکشف الحثیث بمن رمی بوضع الحدیث رقم ۷۸۴ کې په وضاعینو کې شمار کړي دي امام ابن عراق هم په تنزیه الشریعة المرفوعه په جـ ۱ صـ

۱۱۸ رقم ۳۲۲ په وضاعينو کې شمارکړي دي لهذا حديث موضوعي دي .

۱۰۷ – حديث اول ما خلق الله العقل: يعنې اول چې الله تعالى پيداکړ نو عقل يې پيداکړ – داحديث موضوعي دي چې داود المحبر جوړکړي ، السخاوي (رح) وايې: ابن المحبر كذاب ؤ (الاسرار المرفوعة رقم ۱۰۷) ملاعلي القاري (رح) وايې: قال شيخنا يعنې العسقلاني : والوارد في اول ما خلق : حديث اول ما خلق الله القلم – وهو اثبت من حديث العقل – يعنې اول چې الله تعالى پيداکړو نو قلم يې پيداکړه (الاسرار المرفوعة صـ ۱۵۴) زه وايم چې اول ما خلق الله القلم – علامه شوكاني په الفوائد المجموعة رقم ۱۳۴۹ کې ذکر کړي بيا وايې: ابن عدي وايې: باطل منكر آفته محمد بن وهب الدمشقي ، قال في الميزان : صدق ابن عدي في ان هذا الحديث باطل - اهـ يعنې داحديث باطل دي منكر هم دي افت پکې دمحمد بن وهب الدمشقي نه دي – امام ذهبي وايې ابن عدي رشتيا ويلي دي چې دا حديث باطل دي)

۱۰۸ – حديث البركة في البنات - يعنې بركت په جينکو کې دي ، سخاوي (رح) ليکلي دي چې دابن عباس (رضي الله عنه) په خواکي يو سړي جينکو ته خيري وکړي نو رسول الله ﷺ وويل لاتدع فان البركة في البنات - يعنې ښيري ورته مکوه ځکه برکت په جينکو کې دي . ملا علي القاري (رح) وايې وفي

سنده من اتهم بالوضع - يعني سند کې يو وضاع دي لهذا حديث موضوعي دي (الاسرار المرفوعة رقم ۱۲۰).

فائده: ملاعلي القاري (رح) وايي وهو لاينافي ماصح من ان موت البنات من المكرمات فان الحالات تختلف يتفاوت المقامات فقد روى الطبراني في الكبير والاوسط وغيرهما ، عن ابن عباس ان النبي ﷺ لما عُزي بابنة رُقية قال الحمد لله دفن البنات من المكرمات اهـ الاسرار المرفوعة صـ ۱۲۴)

ترجمه: مذکوره حديث دهغه حديث سره منافي نه دي کوم چې صحيح دي چې مرګ دلونو دعزت نه دي ځکه حالات مختلف وي په تفاوت دمقاماتوسره ځکه طبراني کبيراو اوسط کې دابن عباس (رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته دخپلي لور رقيه تعزيه کيد له نو وئي ويل الحمد لله دفن دلونو دعزت نه دي.) زه وايم ملاعلي القاري (رح) چې دي حديث ته صحيح ويلي دي ، دې خطاء دي - چې دا حديث هم چې دفن البنات من المكرمات موضوعي دي امام شوكاني (رح) وايي لايصح وجزم ابن حجر ببطلانه - يعني صحيح نه دي ابن حجر په کلکه ويلي چې داحديث باطل دي .(الفوائد المجموعة رقم ۸۲۹).

۱۰۹ – حديث: تسليم الغزالة: يعنې په رسول الله ﷺ داوسنۍ سلام اچول داهم په عوامو کې مشهوره ده او بعضې قصاص او نعت خوانان يې په خپلو خرافاتو کې وايې خو امام بن کثير (رح) وايې وليس له اصل – يعنې څه اصل ورله نشته ، ومن نسب الى النبي ﷺ فقد كذب - يعنې چې څوک د دې حديث نسبت رسول الله ﷺ ته کوي نو دورغ وايې . (الاسرار المرفوعة رقم ۱۳۷) .

۱۱۰ - حديث : تعاد الصلاة من قدر الدرهم – يعنې مونځ راګرځول کيږي دهغه وينې نه چې په اندازه ديوي روپۍ وي ، امام نووي وايې په خطبه دصحيح مسلم کې چې داحديث الامام البخاري په خپل تاريخ کې ذکر کړي : وهو حديث باطل لااصل له عند اهل الحديث – واقره ملاعلي القاري في لاسرار المرفوعة رقم ۱۳۸) يعنې د دې حديث اصل نشته او باطل حديث دی امام ملاعلي القاري هم پري اقرار دبطلان کړي دي . زه وايم داحديث امام ذهبي (رح) په ترجمه دروح بن غطيف کې ذکر کړي او دائي ويلي دي چې روح بن غطيف متروک او واهي الحديث دي وګوره ميزان الاعتدال ج ۲ صـ ۷۰) -

۱۱۱ - التكبر على المتكبر صدقة : يعنې کبرکول په متکبر باندې يوه صدقه ده داهم حديث نه دي بلکه دخلکو خبرې دي – امام رازي (رح) وايې

هو کلام مشهور یعنې دا هسې مشهوره خبره ده - (الاسرار المرفوعة رقم ۱۴۲).

۱۱۲- حدیث : جنبوا مساجدکم صبیانکم: یعنې مساجد دماشومانو نه وساتئ- امام بزار وایي - لیس له اصل یعنې اصل ورله نشته . والفوائد المجموعة ۷۸ والاسرار المرفوعة ۱۵۴ -) الباني (رح) په ضعیف الجامع ۲۲۳۲ کې ضعیف ګرځولي دي وګوره الآرواء رقم ۲۳۳ والترغیب جـ۱ صـ ۱۲۰)

امام مناوي (رح) داحدیث په فیض القدیر جـ۳ صـ ۳۵۳ کې او ابن الجوزي (رح) په العلل المتناهیة في الاحادیث الواهیة جـ۱ صـ ۳۰۳ کې ذکر کړي وایي: لایصح - ابن حجر په الدرایة کې وایي: له طرق واسانیدها کله واهیة - یعنې ټول طرق او سندونه یې واهي دي - عبد الحق وایي: لا اصل له = یعنې اصل یې نشته .

خوزه وایم: چې د دې حدیث نه دوضع بوي راځي ځک په صحیح احادیثو کې ثابت دي چې ماشومان به د رسول الله ﷺ په زمانه کې مسجد نبوي ته داخلول کیدي شو او په مونځ کې به یې دسړونه ورسته صف هم ؤ لکه سنن ابوداوُد جـ۱ صـ۲۵۴ او ابن ماجه واغیره کې احادیث ذکر دي. والله اعلم
-

۱۱۳ – حب الدنيا راس كل خطيئة: يعني محبت د دنيا دهري ګناه سردي.

امام ابن تيميه وايي: داحديث موضوع دي او بعضو ويلي دي چې دا دجندب البجلي قول دی – (الاسرار المرفوعة رقم ۱۲۳ والتذكرة صـ ۱۷۳ الباني وايي - موضوع – الضعيفة ۱۲۲۲.

۱۱٤ – حسنات الابرار سيئات المقربين: يعني دنيکانو خلکو نيکي دمقربينو په نزد بدياني وي. داهم حديث نه دي بلکه دابو سعيد الخراز قول دي (الاسرار المرفوعة رقم ۱۷۲ – احاديث القصاص ۵۸ المقاصد ۱۸۸ والكشف ج۱ صـ ۳۵۷)

۱۱۵- حديث والدرجة الرفيعة فيما يقال بعد الاذان من الدعاء . يعني دآذان په دعا کې دا الفاظ زياتول چې والدرجة الرفيعة - امام سخاوي وايي . لم اره في شيء من الروايات - ما په هيڅ رواياتو کې داونه ليده .

زه وايم: دآذان په دعا کې چې اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة آت محمداً الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاماً محموداً الذي وعدته د دې نه نور الفاظ زياتول لکه والدرجة الرفيعة – يا وارزقنا شفاعته يوم القيامة انک لاتخلف الميعاد - داتول دقصه ګرو او قصاصو زيادت دي چې په دين کې تحريف دي لهذا د دې نه ځان ساتل په کار دي ځکه الفاظ دشارع توقيفي دي دانه چې دچا څه خوښ شي بس پکې به يې زياتوي . وګوره الاسرار المرفوعة رقم ۲۰۲).

۱۱٦ – الدنيا مزرعة الآخرة: يعنې دنيا دآخرت دراره کشت دي – امام غزالي داحديث احياء العلوم کې ذکر کړي خو بې اصله دي امام سخاوي ليکي لم اقف عليه – زه پري واقف نه يم – قرآن عظيم الشان کې الله تعالى وايې: من کان يريد حرث الآخرة نزد له في حرثه (سورة الشورى الاية ۲۰) يعنې څوک چې اراده لري دفصل دآخرت نو زياتوو ورلره په فصل کې .لهذا موضوعي حديث ته پکې حاجت نشته . (الاسرار المرفوعة رقم ۲۰۲)

۱۱۷ – داحنافو مشهور مستدل حديث ذكاة الارض يبسها: يعنې دځمکي پاکوالي دهغې وچوالي دي . داحديث علامه شوکاني په الفوائد المجموعة رقم ۱۸ کې راوړي دي او امام محمد طاهر فتني په تذکرة الموضوعات صـ ۳۳ کې ذکر کړي بيا وايې: احتج به الحنفية ولا اصل له في المرفوع – ويعارضه حديث انس في الامر بصب السماء على بول الاعرابي -) يعنې احناف پري دليل نيسي ولي مرفوع رواياتو کې ورلره کوم اصل نشته – او داحديث معارض هم دی دحديث دانس (رضي الله عنه) کوم کې چې اوبه اړول دي په بول دباندې چې باندې).

فائده : ملاعلي قاري (رح) حنفي ليکي چې داحديث ابوجعفر محمد الباقر مرفوعا ذکر کړي بيا وايې چې اسند الظاهر من الامام الباقر نه وي چې سلسلة الذهب ورته وايي چې داکافي دي دصحت دمذهب لره : مع ان المجتهد اذا استدل بحديث على حكم من الاحكام فلا يتصور ان لا يكون

صحيحا او حسنا عنده ثم لايضره دخول خوف او وضع في سنده – اهـ (الاسرار المرفوعة صـ ۲۰۷) يعني مجتهد چې په کوم حديث استدلال ونيسي په يو حکم داحکامونه نو بيا به دا تصور نه شي کيدي چې داحديث به صحيح او حسن دده په نيز نه وي – بيا ضرر نه رسوي دخول ديو ضعف او يا وضع (دځان نه جوړيدل) په سند ددغه حديث کې .

جواب: داکلام د دې امام خطاء دي) اوډير خطاء دي ځکه مدار په صحت دحديث وي په استدلال دمجتهد به نه وي چې هغه په څه استدالال کوي ګويا هغه به صحيح وي او دا واضح حقيقت دي چې څوک داحکامو کتابونه وګوري ځکه ډير وخت يو شاګرد دخپل استاذ قول رد کړي ځکه چې هغه په کوم حديث استدلال کړي وي هغه غير صحيح وي ځکه د دوی په نزد رعايت په دين کې صحت دحديث دی . امام شافعي وايې اذا صح الحديث فهو مذهبي واضربوا بقولي عرض الحائط - اونور درې امامانونه هم دا ثابت ده لکن دمذهب تعصب ديته سړي محتاج کړي چې داسې خبرې ترينه ووځي غفر الله له ورحمه –

۱۱۸ – **حديث** : **رجعنا من من الجهاد الاصغر** الى الجهاد الأكبر قالوا وما جهاد الاكبر ؟ قال جهاد القلب : يعني مونږ دوړوکي جهاد نه لوی جهاد ته واپس شولو چا تپوس وکړو لوی جهاد کوم دي هغوي وويل دزړه جهاد -) داهم حديث نه دي بلکي امام عسقلاني وايې: چې داحديث مشهور دخلکو په ژبه دي لکن دا دابراهيم بن ابي عبلة کلام دي – علامة الالباني

هم په ضعيف الجامع ۴۰۸۰ او الضعيفة ۲۴۲۰ کې راوړيدي) وګوره الاسرارا المرفوعة رقم ۲۱۱).

۱۱۹ - **حديث سب اصحابي ذنب لايغفر**: يعنې زما صحابه کرامو ته بدويل داس ګناه ده چې ښبل يې نه شته. امام ابن تيميه (رح) وايي: هذا كذب على النبي ﷺ وقد قال الله تعالى (ان الله لايغفر ان يشرك به ويغفر مادون ذلك لمن يشآء (الانبياء، ۴۸) يعنې داحديث په رسول الله ﷺ دروغ دي ځکه الله تعالى فرمائي: يقينا الله تعالى ښښنه نه کوي چې دهغه سره شرک وکړي شي او ښښنه کوي ما سوا د دينه هغه چاته چې خوښه يې شي (الاسرار المرفوعة رقم ۲۲۴) واحاديث القصاص ۹۳ والفوائد المجموعة للشوكاني ۱۱۴۵ وقال، قال ابن تمية موضوع -)

۱۲۰ - **حديث : السواك يزيد الرجل فصاحة**: يعنې مسواک استعمالول دسړي فصاحت ډيروي - امام الصاغاني وايي وضعه ظاهر - (الاسرارا المرفوعة ۲۳۳) يعنې دروغ يې ظاهر دي الالباني هم په ضعيف الجامع ۳۳۲۵ الضعيفة ۲۴۲ کې ورته موضوعي ويلي دي)

۱۲۱ - **حديث : سيد العرب علي** (رضي الله عنه) : دعربو سيد او مشر علي (رضي الله عنه) دي (المستدرک ج۳ صـ ۲۱۴) خوداحديث موضوعي دي، امام ذهبي (رح) په التخليص دمستدرک کې وايي: وضعه ابن علوان ورواه عمر بن موسى. قلت وعمر وضاع اهـ. يعنې داحديث ابن علوان جوړکړي او عمر بن

موسی روایت کړي ذهبي (رح) وایي عمر هم دروغجن او واضع الحدیث ؤ. وګوره المقاصد الحسنة ۲۴۵ وکشف الخفاء ج۱ صـ ۴۲۲)

۱۲۲ – **حدیث ، سین بلال عند الله شین** - یعني دبلال (رضي الله عنه) سین په اسهد ان لااله الاالله کې دالله تعالی په نزد شین دی) امام ابن کثیر (رح) وایي – داهم بي اصله خبره ده (الاسرار المرفوعة ۲۳۹)

۱۲۳- **حدیث: الشیخ في قومه کالنبي في امته**: یعني بوډا په خپل قوم کې لکه نبي په خپل اُمت کې) داهم موضوعي حدیث دی ، امام سخاوي (رح) وایي جزم شیخنا وغیره بانه موضوع ، وانما هومن کلام بعض السلف -) الاسرار المرفوعة ۲۵۳) زما استاذ په دې کلک ؤ چې داحدیث موضوعي دي . علامه الالباني په ضعیف الجامع ۳۴۵۳ او الضعیفة ۲۷۲۲ کې موضوع ګرځولي دي – اونورو علمآؤ هم لکه علامه فتني په تذکرة الموضوعات صـ ۲۰ ابن عراق په تنزیه الشریعة ج۱ صـ ۲۰۷ . وغیره).

۱۲۴ – **حدیث صلاة بعمامة** تعدل خمسا وعشرین صلاة وجمعة بعمامة تعدل سبعین جمعة والصلاة في العمامة بعشرة آلاف حسنة ، سند کې آبان دي چې متهم بالوضع دي وګوره الضعیفة ۱۲۹ (یعني مونځ کول په پټکي دنورو مونځونونه په ۲۵ درجي ثواب لري او دجمعي مونځ په

پټکي داويا (۷۰) مونځونو دجمعي ثواب لري اومونځ په پټکي په لس زره (۱۰۰۰۰) نيکو ثواب لري. ملاعلي قاري (رح) ليکي: قال المنوفي فذلک کله باطل . قال السخاوي هو موضوع - يعنې داټول باطل او موضوعي احاديث دي. زه وايم دپټکي باره کې چې مونځ پکې ثواب لري يوحديث هم صحيح نه دي علامة الالباني (رح) داحديث په ضعيف الجامع ۳۵۲۰ او الضعيفة جـ۲ صـ ۲۲) کې ذکر کړي او وايې داموضوعي دي) لهذا دي باره کې هيڅ حديث ثابت نه دي البته عمامه تړل سنت ده لکه دنورو زوائدو سنتو په شان وغيره .

۱۲۵ – حديث دصاحب هدايه : من صلى خلف تقي فكانما صلى خلف نبي. يعنې چاچې ديومتقي عالم روسته مونځ وکړو گويا ده دنبي روسته مونځ وکړو. داحديث هم موضوعي دي ملاعلي قاري (رح) وايې چې غير معروف ، امام سخاوي (رح) وايې لم اقف عليه بهذا اللفظ – داسې لفظ ماچيرته نه دي ليدلي .) لهذا د دې حديث چيرته درک دحديثو کتابونو کې نشته عام دحديثو کتابونو خونه دي ذکر کړي خو هغه موضوعاتو هم نه دی ذکر کړی. والله اعلم چې صاحب هدايه دادکوم ځای نه راوړيدي = ملاعلي قاري (رح) دتقليدنه متاثره وايې چې د دې حديث معنى صحيح ده او بل حديث د الديلمي کې راځي چې دجابر (رضي الله عنه) حديث دی وايې قدموا خياركم تزكوا اعمالكم – يعنې تاسو نيکان خلک مونځ کې مخکې کړي او خپل اعمال پاک کړي) خو زه وايم دا حديث دکوم ځای نه

صحيح شو؟ د دې صحت د سند پورې تعلق لري او سند يې نشته لهذا دملا علي قاري (رح) صاحب داخبره چې معناه صحيح غير صحيح ده ځکه حديث چې کوم يې استدلال کې پيش کړي هم ثابت نه دي) الالباني وايي لااصل له - الضعيفة ٥٧٣ - سخاوي (رح) وايي لم اقف عليه - التحذير ص ٥٢ .

١٢٦ - **حديث : الضب وشهادته له عليه الصلاة والسلام**: يعنې د سمسري ګواهي په رسول الله ﷺ چې دې رسول دې . داهم موضوعي حديث دى اكثر دلائل النبوة والاثي ذكر كوي ، امام المزي وايي لايصح اسنادا ولامتنا - يعنې اسنادا او متنا دا حديث صحيح نه دي - (الاسرار المرفوعة رقم ٢٧٢)-

١٢٧ - **حديث : علماء أمتي كانبياء بني اسرائيل**: يعنې زما دامت علماء لکه د بنې اسرائيلو انبياء عليهم السلام - امام الدميري او ابن حجر العسقلاني (رح) وايي : د دې هيڅ اصل نه شته همدارنګه زرکشي هم دا وايي. نورو علماء هم دې ته موضوعي ويلي دي وګوره تذكرة الموضوعات ص ٢٠ والفوائد المجموعة ٢٨٢ والفوائد للكرمي ٨١ والمقاصد الحسنة ٢٨٢ وتميز الطيب من الخبيث ١٤ وكشف الخفآء ج٢ ص ٢٤ والفتاوى الحديثية ٢٠٤ والاسرار المرفوعة ٢٩٨) -

۱۲۸ – حديث : الكريم حبيب الله ولوكان فاسقا والبخيل عدو الله ولوكان راهبا – يعني سخي د الله دوست دي اګر که فاسق وي او بخيل د الله تعالى دښمن وي اګر که بزرګ وي . ملاعلي قاري (رح) وايي: لا اصل له - هيڅ اصل ورله نشته (الاسرار المرفوعة ۳۴۰) –

۱۲۹ – حديث – لسان اهل الجنة العربية والفارسية و الدرية: يعني دجنت والو ژبه به عربي فارسي او دري وي داهم دشيعه ګانو جوړ کړي شوي حديث دي کافي دکليني داحديث ذکر کړي ملاعلي قاري (رح) وايي چې دا موضوعي حديث دی (الاسرار المرفوعة **۳۵۸**) –

۱۳۰ – حديث احبوا العرب لثلاث فاني عربي وكلام الله عربي ولسان اهل الجنة في الجنة عربي . اهـ

ترجمه: تاسو دعربو سره مينه کوي ځکه زه عربي يم د الله تعالى کلام عربي دي او دجنت والو ژبه عربي ده.) خو داهم موضوعي دي ابن الجوزي (رح) په الموضوعات جـ۲ صـ ۴۱ علامه الالباني په الضعيفة ۱۲۰ کې ورته موضوعي ويلي دي ځکه سند کې العلاء بن عمرو الحنفي او يحيى بن يزيد چې اول کذاب متروک وضاع او دوی سخت ضعيف دي. العلاء بن عمرو - ابن عراق په تنزيه الشريعة جـ۱ صـ ۸۵ رقم ۲۷۲ کس په وضاعينو کې شمار کړي دي لهذا حديث بلاشک موضوعي دي ـ

۱۳۱ – حديث : لو اغتسل اللوطي بماء البحر لم يجيء يوم القيامة الاجنبا – (يعني لوطي كه چيرته د درياب په اوبو غسل وكړو نو دورځ دقيامت پوري به جنب وي) داهم موضوعي دي . امام سخاوي وايي وهو وكل مافي معناه باطل - (الاسرار المرفوعة ۳۷۷) يعني دا او داسې كوم حديث چې د دې په شان دي تول باطل دي - حديث نورو محديثونو هم موضوعي ګرځولي دي وګوره الموضوعات جـ۳ صـ ۱۱۲ واللالي المصنوعة جـ ۲ صـ ۱۹۸ وتنزيه الشريعة جـ۲ صـ ۲۲۰ وميزان الاعتدال جـ۳ صـ ۵۹ والمقاصد الحسنة ۳۴۲ وكشف الخفآء جـ۲ صـ ۱۵۳) –

۱۳۲ – حديث لوعاش ابراهيم (ابن رسول الله ﷺ) لكان نبيا: يعني كه ابراهيم ابن رسول الله ﷺ ژوندي وي نو دې به نبي ؤ – امام نووي وايي هذا الحديث باطل (تهذيب الاسماء واللغات جـ۱ صـ ۱۰۳) دارنګ ابن عبد البر په التمهيد او نورو محدثينو هم ورته موضوعي ويلي دي (الاسرار المرفوعة ۳۷۹) -

۱۳۳ – حديث : لوكان الخضر حيا لزارني: يعني كه خضر عليه السلام ژوندي وي نو زما زيارت ته به راغلي وي) ابن حجر العسقلاني (رح) وايي داحديث مرفوعا ثابت نه دي (الاسرار المرفوعة صـ ۲۸۸) يعني د دې حديث اسناد نه پيژندل كيږي دا دبعضي دروغ جوړكړونكو جوړشوي حديث دى) -

١٣٤ – حديث – لولاك لولاك لماخلقت الافلاك: يعنې کـه تـه مـي نـه وي پيداکړي اى محمد ﷺ نو مابه اسمانونه نه وي پيداکړي ۔) امـام الصغاني وايـې: انـه موضـوع - يعنـې داحـديث موضـوع دي امـام سـيوطي هـم سـره دتساهل نه داحديث موضوعي ګرځولي دي وګوره اللالي المصنوعة جـ١ صـ ٢٧٢ – ابن الجوزي (رح) هـم ورتـه موضـوعي ويلـي دي الموضـوعات جـ١ صـ ٢٨٨) – هرکله چې حديث موضوع شو نو دملاعلـي قـاري داقـول چې معنـاه صـحيح غيـر صـحيح ده – علامـه الالبـاني (رح) وايـې چې جزم کـول پـه معنـى ديـو حـديث دا لائـق نـه وي مګـر پـس دثبـوت نـه – وګـوره الضعيفة رقم ٢٨٢) دوهم داچې داهم معـارض دي د دې قـول دالله تعـالى چې ، وما خلقت الجن والانس الاليعبدون - نو ايت کې سبب دانس اوجن او مخلوق ذکر شو چې عبادت دي دانه چې سبب يې د رسول الله ﷺ خلقت دي ۔)

١٣٥ – حديث : مسح العينين بباطن انملتي السبابتين بعد تقبيلهما عند سماع قول المؤذن : اشهد ان محمدا رسول الله ﷺ الخ.... داحديث ديلمي په مسند الفردوس کې ذکر کړي دابوبکر صديق رضي الله عنه خو امـام سـخاوي وايـې: لايصح – يعنـې داحديث صحيح نه دي - ملاعلـي قـاري (رح) وايـي: واورده الشـيخ احمـد الـرداد فـي کتابـه موجبـات الرحمـة بسـند فيـه مجاهيل مع انقطاعه عن الخضر عليه السلام وكل ما يرونه في هذا فلا

يصح رفعه البتة - اهـ الاسرار المرفوعة ۴۳۵) يعني شيخ احمد داحديث په خپل کتاب کې ذکر کړي خو سند کې مجاهيل دي منقطع هم دي او ټول هغه څه چې په دې باره کې ذکر کيږي نو رفع يې صحيح نه ده - الالباني هم په عدم صحت مقر دي (الضعيفة ۷۳.

فائده : ملاعلي قاري (رح) وايي چې کله يې ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته رفع ثابت شو نو عمل پري کافي دي.) خو جواب دادي چې مخکې دامام سخاوي نه قاري صاحب نقل کړه چې لايصح او بيائي دالشيخ الرداد نه هم نقل کړه اويي ويل سند کې يې مجاهيل او انقطاع ده نو بياڅنګه ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته رفع صحيح شي؟ لهذا دا قول دده خطاء دي.)

۱۳۶ - حديث اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم: يعني زما صحابه لکه دستورو په شان دي کوم يو پسې مو چې اقتداء وکړه نو هدايت به ومومې) حديث موضوعي دي ابن عبد الله په جامع بيان العلم جـ۲ صـ ۹۱ کې او ابن حزم په الاحکام جـ۲ صـ ۸۲ کې روايت کړي - ابن عبد البر وايي: هذا اسناد لاتقوم به حجة لان الحارث بن غصين مجهول - يعني دا اسناد قابل حجت نه دي ځکه الحارث بن غصين مجهول دي ز) ابن حزم وايي: داروايت ساقط دي - حارث بن غصين ابو وهب الثقفي او سلام بن سليمان : يروي الاحاديث الموضوعة وهذا منها بلاشک يعني سلام بن سليمان موضوعي احاديث روايت کوي -) زه وايم سلام بن سليم يا

سليمان چې الطويل هم ورته وايې ابن خراش وايې كذاب ؤ ابن حبان وايې وروى احاديث موضوعة - يعنې موضوعي احاديث به يې روايت كول - لهذا حديث موضوعي دي نو دشعراني داخبره په ميزان كبرى جـ١ صـ ٢٨ كې چې دا حديث داهل كشف په نزد صحيح دي باطله ده- وګوره الضعيفة ٥٨)

١٣٧ – **من صلى بين المغرب والعشاء عشرين** ركعة بنى الله له بيتا في الجنة - (ابن ماجه جـ١ صـ ٣١٤) يعنې چاچې دمابنام او ماسخوتن مينځ كې شل ركعته وكړه نو الله تعالى به ورته جنت كې كور جوړ كړي) داحديث موضوعي دي سند كې يعقوب بن الوليد دى – امام بوصيري وايې په مصباح الزجاجه جـ١ صـ ٥٨ : چې يعقوب بن الوليد په هكله امام احمد وايې من الكذابين الكبار وكان يضع الحديث – يعنې لوى دروغجن ؤ او حديثونه به يې جوړول الالباني وايې ابن معين او ابوحاتم هم ورته كذاب ويلي دي .) الضعيفة ٤٢٧).

فائده: هر هغه احاديث چې دمخصوص مونځ باره كې دمابنام او ماسخوتن مينځ كې راغلي وي يو هم صحيح نه دي البته درسول الله ﷺ نه من غير تعين مونځ راغلى دى –لهذا په تعين باندې په نوافلو دمابنام او ماسخوتن عمل كول بدعت دي – (الضعيفة جـ١ صـ ٢٨٠ رقم ٤٢٧) -

۱۳۸ – حديث : من صلى علي عند قبري سمعته ومن صلى علي نائيا وكل بها ملك يبلغني وكُفيَ بها امر دنياه واخرته وكنتُ له شهيداً او شفيعاً .

ترجمه: چاچې زما د قبر خواکي په مادرود وويلو نو زه يې اورم او چاچې دقبرنه جدا په مادرود وويلو نو يوه ملائک پري مؤکل ده چې ماته يې رارسوي او د دنيا او اخرت کاربه يې کافي کړي شي او زه به ده ډاره ګواه او شفيع شم) خو داحديث موضوعي دي امام عقيلي وايې – لااصل له من حديث الاعمش وليس بمحفوظ - ابن نمير وايې محمد بن مروان ليس بشيء – يعنې سند کې محمد بن مروان هيڅ شي نه دي ابن الجوزي هم داحديث په الموضوعات جـ۱ صـ ۳۰۳ کې ذکر کړي دي وايې: لايصح محمد بن مروان السدي الصغير کذاب لااصل لهذا الحديث . لهذا حديث الالباني په الضعيفة کې موضوع ګرځولي دي وګوره الضعيفة ۲۰۳) –

۱٤۰ – حديث : من ولد له مولود فاذن في اذنه اليمنى واقام في اذنه اليسرى لم تضره ام الصبيان) يعنې د چاچې ماشوم وشو او په ښي غوږ کې يې ورته اذان وکړو او په چپ غوږ کې يې ورته اقامت وکړو نو شيطان به ورته ضرر نه شي رسولي . داهم موضوعي حديث دی : ابويعلى په المسند جـ۴ صـ ۱۲۰۴ – ابن السني په عمل اليوم والليلة ۲۰۰ – وغيره

روايت کړي – علامه الالباني وايي: سندئي موضوعي دي يحيى بن العلاء او مروان بن سالم پکې دي چې دواړه به موضوعي احاديث جوړول. امام ابن القيم (رح) چې داحديث ذکر کړی او بيائي وويلي چې اسناده ضعيف - داهم دامام ابن القيم (رح) تساهل دي او د دې تساهل امام الهيثمي هم ښکار شويدي په مجمع الزوائد ج۴ صـ ۵۹ کې چې وايې: رواه ابو يعلى و فيه مروان بن سليمان الغفاري وهو متروک - لکن امام مناوي بيا ورپسې تعقيب کړی وايي: امام ذهبي (رح) وايې قال احمد: کذاب وضاع وقال في الميزان قال احمد: کذاب يضع – ثم اوردله هذا الحديث اهـ يعنې امام احمد وايې چې مروان بن سليمان الغفاري کذاب وضاع ؤ احاديث به يې جوړول بيا امام الذهبي (رح) ورته دموضوعاتونه دغه حديث روايت کړي.

فائده: بعضې لوی لوی محدثينو باندې د دې حديث موضوعيت پټ پاتې شوي لکه امام نووي (رح) په الاذکار کې – ابن علان په شرح داذکار کې ج۲ صـ ۹۵ – امام ابن تيميه (رح) په الکلم الطيب رقم ۲۰۱ - امام ابن القيم (رح) په الوابل الصيب کې – ديته ضعيف ويلي دي اوبس – البته بل حديث دابو رافع چې ترمذي روايت کړي دي وايې رايت رسول الله ﷺ اذن في اُذن الحسن بن علي حين ولدته فاطمة بالصلاة) يعنې ما رسول الله ﷺ وليده چې دحسن پن علي (رضي الله عنه) په غوږکي يې اذان وکړو کله چې دي پيدا شو - ترمذي وايې داحديث صحيح دي) لکن صحيح نه دي

ضعيف دي – خو تعجب دعلامه مبارکفوري نه چې هغه د دې ضعيف حديث تقويت بيا په مخکې موضوعي حديث سره کوي - داټول د دې وجې نه چې د دغه موضوعي حديث پته امام مبارکفوري ته هم نه شته – وګوره سلسلة الاحاديث الضعيفة والموضوعة جـ۱ صـ ۴۹۲ – ۴۹۳).

فائده: د مذکوره اقوالو نه معلومه شوه چې د ماشوم په غوږ کې به صرف اذان کيدی شي د اقامت والاحديث باطل دی. لهذا عمل پرې کول نه دي پکار. والله اعلم.

۱۴۱ – حديث : اذا اكلتم فاخلعوا نعالكم فانه اروح لاقدامكم – يعنې کله چې تاسو طعام خورئ نو خپلې څپلۍ اوباسئ چې داستاسو د خپو لپاره راحت دي.) حديث موضوعي دي امام دارمي جـ۲ صـ ۱۰۸ – الحاكم جـ۴ صـ ۱۱۹ – مسند الفردوسي جـ۱ صـ ۱۰۲ – روايت کړي – حاكم وايې صحيح الاسناد - لکن امام ذهبي(رح) وايې قلت: احسبه موضوعا واسناده مظلم وموسى تركه الدارقطني - يعنې زه ګمان کوم چې دا موضوعي دي اسناد يې توردي او موسى بن محمد دارقطني پرينبي دي. وګوره الضعيفة جـ۲ صـ ۴۱۱ رقم ۹۸۰).

۱۴۲ - حديث: من قراء خلف الامام مُلئ فوه نارا: يعنې چاچې دامام نه روسته قراءت (فاتحه) ولوستله نو خوله به يې داورنه ډکه وي.) داحديث

موضوعي دی امام فتني وايې فيه مامون بن احمد الهروي دجال يروي الموضوعات ، التذكرة صـ ۹۳) يعنې مامون بن احمد الهروي پکې دي ، چې دجال دي موضوعات به يې روايت کول.

فائده: بعضې احناف په داسې خرافاتو استدلال کوي په تحريم دقراءت خلف الامام باندې مطلقا ، امام عبد الحي لکهنوي (رح) وايې : ذکره صاحب النهاية وغيره مرفوعا بلفظ ففي فيه جمرة ولا اصل له – (التعليق الممجد صـ ۹۹) يعنې صاحب النهايه وايې: چې په خوله کې به يې سکر وتي وي خو دې حديث اصل نشته .بيا وايې لم يرد في حديث مرفوع صحيح النهي عن قراءة الفاتحة خلف الامام وكل ماذكروه مرفوعا فيه امالا اصل له وامالا يصح - اهـ التعليق الممجد صـ ۹۹) يعنې په صحيح مرفوع حديث کې دقراءة الفاتحة خلف الامام نه منع نشته او څه چې احناف مرفوع ذکر کوي دهغې اصل نشته او ياصحيح نه دي) راجع الضعيفة ۵۲۹) –

۱۴۳- **حديث**: **كل امرذي بال لا يبدا فيه بحمد الله** والصلاة علي فهو اقطع ابتر مسحوق من كل بركة اهـ

ترجمه: يعنې هر کار چې دهغې شروع په الحمد لله او درود سره ونه شي نو هغه لنډې بوچي او دبرکت نه خالي وي – خو حديث موضوع دي – سبکي

په طبقات الشافعية الكبرى جـ١ صـ ٨ کې ذکر کړي دابوهريره (رضي الله عنه) نه مرفوعا - بياوايې : لايثبت يعنې ثابت نه دي . الالباني(رح) وايې : بلکې داموضوعي دي افت يې اسماعيل بن ابي زياد الشامي دي ـ (الضعيفة ٩٠٢).

١٤٤ - من اذن سبع سنين محتسبا كتب الله له براءة من النار - (الترمذي وابن ماجه ٧٢٧ والطبراني جـ٣ صـ ١٠٩) يعنې چاچې اوه (٧) کاله آذان دثواب په نيت وکړو نو داورنه به ورته براءت وليکلي شي . حديث موضوع دي جابر بن يزيد الجعفي پکې دي - الالباني (رح) وايې ضعيف جدا - لکن بيا وايې چې جابر ضعيف بل کذبه بعض الائمة وکان رافضيا يؤمن ان عليا لم يمت وانه في السحاب وسيرجع - (الضعيفة ٨٥) يعنې دي رافضي ؤ په دې ايمان ؤ چې علي (رضي الله عنه) مړ نه دي او هغه وريځ کې پټ دي او زردي چې رابه شي .) د دې حديث بل سند په الکامل دابن عدي جـ٢ صـ ٩٩ ذکر کړي خو دهغې سند کې محمد بن الفضل ابن عظيم کذاب دی (الضعيفة جـ٢ صـ ٢٤٥) لهذا حديث موضوعي دي .)

١٤٥- حديث : كان ﷺ يركع قبل الجمعة اربعاً وبعدها اربعاً لايفصل بينهن - اهـ (ابن ماجه جـ١ صـ ٣٤٧ والطبراني في الكبير جـ٣ صـ ١٧٣ - وابن ماجه رواه بدون - وبعدها اربعاً) يعنې رسول الله ﷺ به دجُمعې مونځ نه مخکې او روسته څلور رکعته سنت کول چې په يو سلام يې کول)

خو حديث موضوع اوباطل دي - علامه زيلعي حنفي (رح) وايي: سنده واهٍ جداً فمبشر بن عبيد معدود في الوضاعين وحجاج وعطيه ضعيفان. (نصب الراية جـ٢ صـ ٢٠٢) يعني داسند نهايت واهي او ضعيف دي - مبشر بن عبيد دهغه جملي نه دي چې حديثونه يې جوړول - حجاج او عطيه ضعيف دي. امام بوصيري (رح) وايي: هذا اسناد مسلسل بالضعفاء، عطيه متفق على تضعيفه وحجاج مدلس ومبشر بن عبيد كذاب وبقية بن الوليد يدلس تدليس التسوية اهـ (الزوائد جـ١ صـ٧٢).

ترجمه: دا اسناد په ضعفاء باندې مسلسل دي - عطيه اتفاقي ضعيف دي حجاج مدلس دي - مبشر بن عبيد كذاب دى - بقيه بن الوليد مدلس دي په تدليس التسويه باندې امام نووي (رح) وايي: په الخلاصه كې: انه حديث باطل - يعني دا حديث باطل دى - امام ابن القيم (رح) وايي هذا الحديث فيه عدة بلايا - زاد المعاد جـ١ صـ ١٠٧) يعني دې حديث كې ډير بلاګاني دي بيائي دبوصيري خبره كړي ده.

فائده: هيثمي (رح) داحديث په مجمع الزوائد كې راوړي دي خو نهايت تساهل يې كړي وايي فيه الحجاج بن ارطاة، وعطيه العوفي وكلاهما فيه كلام - (مجمع الزوائد جـ٢ صـ ١٩٥) يعني دا حديث دطبراني په الكبير كې روايت كړي خو سند كې الحجاج بن ارطاة او عطيه العوفي

دي چې په دواړو کې کلام دي) حالانکه مبشر پکې دی چې وضاع کذاب دي او هر هغه حدیث کې چې کذاب یا وضاع وي نو هغه موضوعي وي ضعیف نه وي.

فائده: ددی حدیث نه احنافو استدلال کړي چې د جمعې مونځ نه مخکې څلور رکعته سنت ثابت دي لکن دا موضوعي دي چې استدلال ترینه ساقط دي - اوبعضي لا بیا د جمعې سنت مخکې په قیاس ثابتوي دماسپښین نه چې داهم قیاس په مقابل د نص کې دي ځکه د جمعې مونځ ځانته مونځ دي چې احکام یې هم ځانته دي چې جمعې ته بیا جماعت شرط دي په خلاف دماسپښین نه او نور داسې نو لهذا قیاس کول باطل دي. لهذا د رسول الله ﷺ طریقه چې صرف مخکې د جُمعې نه تحیة المسجد ثابت دي چې هغه د خطبې په وخت کې هم سنت دي اوس البته د امام د جلوس نه مخکې په منبر باندې غیر تعین نفل کولې شي چې دا به بعضې صحابه کرامو کولو - د تفصیل لپاره زمونږ کتاب، التحقیقات في رد الهفوات کتل لازمي دي.

١٤٦ - حدیث: من زارني بعد موتي فکانما زارني في حیاتي. (الدارقطني صـ ٢٧٩) یعنې چاچې زما زیارت روسته د مرګ نه وکړه ګویا ده زیارت وکړو زما په زنده ګي کې) لکن حدیث باطل او موضوعي دي یو پکې مجهول راوي دي دوی م پکې هارون ابي قزعة دي - علامه ساجي یعقوب

بن شيبه = العقيلي ابن الجارود دې ساقط ګرځولي دي – حافظ ابن عبدالهادي په الصارم المنكي صـ ۱۰۰ د دې دبطلان تفصيل ذکر کړي دارنګ علامه الالباني په الضعيفه ۱۰۲۱ کې تفصيل ذکر کړي دي فليرجع اليه .

۱۴۷ – **حديث : لا ترفع الايدي الا في سبع مواطن** الخ.... يعنې لاسونه به نه شي اوچتيدلي مګر په اوه ځايونو کې په مونځ کې او مسجد حرام د دخول په وخت کې چې بيت الله وګوري او د مروة په ختلو وخت کې عرفه – صفاء او مقامين کې چې کله جمره ولیء) خو داحديث باطل دي طبراني په الکبير ج۳ صـ۱۴۲ کې روايت کړي – ابن ابي ليلى پکې دي سوء الحفظ دي – امام بزار رقم ۵۱۹ کشف الاستار – روايت کړي ولي (لا) پکې نشته صرف ترفع الايدي دي – عبدالحق په الاحکام الکبرى جـ۱ صـ ۱۰۲ کې وايې – ابن ابي ليلى خافظ نه ؤ – نو دامام هيثمي داخبره چې اسناد کې محمد ابن ابي ليلى دي سيء الحفظ دي او حديث يې حسن دي ان شاء الله = داخبره صحيح نه ده ځکه د سيء الحفظ حديث دقسم دمردودنه وي = ابن حجر العسقلاني داخبره په شرح النخبة کې کړي ده امام زيلعي هم داخبره واضحه کړي چې داحديث نه مرفوعا او نه موقوفا صحيح دي – بل دطبراني په اسناد کې محمد بن ابي شيبه دي چې دي دکلام نه ډک راوي دي – حاصل داچې حديث باطل دي راجع الضعيفة ۱۰۵۴ للالباني (رح) –

١٤٨ – حديث : من قراء في اثر وضوئه : انا انزلناه في ليلة القدر مرة واحدة كان من الصديقين ومن قراءها مرتين كتب في ديوان الشهداء – الخ....

ترجمه: چاچې انا انزلناه سورة يو وار داودس نه روسته وويلو نو دصديقينو نه به شمارشي چاچې دوه واري وويلو په شهداؤكي به شمارشي او چاچې دري واري وويلو نو دانبياؤ په محشر كې به پاڅي. راوي پكې يو ابو عبيده دى عن الحسن البصري مجهول دي = سيوطي (رح) داويلي دي) الحاوي للفتاوى جـ٢ صـ ١١) بل پكې عنعنه دحسن البصري ده. علامه الالباني وايې: واما الحديث فلوائح الوضع عليه ظاهرة وظنى ان الافة من هذا المجهول او ممن دونه = يعنې داحديث دوضع علامي پري ظاهري دي خو زما گمان دى چې افت پكې دغه مجهول او دده نه لاندې شخص دي = علامه سخاوي (رح) هم ورته لا اصل له ويلي دي – وگوره الضعيفة ١٤٤٩) –

١٤٩ – حديث : يعاد الوضوء من الرعاف السائل - يعنې اودس به دروانې ويني نه واپس كيدي شي) داهم موضوعي حديث دى ابن عدي په الكامل جـ٢ صـ ٤٢٧ كش عن نعيم بن سالم = حدثنا انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ – بيا ابن عدي وايې نعيم يروي عن انس مناكير واحاديثه عامتها غير محفوظه - يعنې دانس نه منكر احاديث ذكر كوي چې عام

يې محفوظ نه دي = ابن حبان (رح) وايې : كان يضع على انس بن مالک يعنې په انس بن مالک به يې حديثونه جوړول = ابن يونس وايې حدث عن انس فكذب - دانس نه به يې حديثونه روايت كول او دروغ به يې ويل.

الحاصل: حديث ثابت نه دي موضوعي دي چې دليل پرې دا حنافو هيڅ صحيح نه دي (وګوره الضعيفة ١٠٧١).

١٥٠ - **حديث** : **عند كل ختمة للقرآن دعوة مستجابة**: يعنې دهر ختم قرآن وخت کې دعاء قبليږي) داحديث هم موضوعي دي ابو نعيم في الحلية جـ٧ صـ ٢٢٠ کې ذکر کړې ابن عساکر جـ٥ صـ ٤٩ په تاريخ دمشق کې هم روايت کړي – خو سند کې يحيى بن هاشم دي چې په السمسار مشهور دي ميزان الاعتدال کې ذهبي (رح) وايې کذاب يضع الحديث – يعنې دي دروغژن او حديثونه به يې جوړول – بيا امام ذهبي (رح) چې دده داجرحه ذکر کړې حديثونه يې دده ذکر کړه وايې ، انها من بلاياه – يعنې داحديث دده دبلاياؤنه دي (الضعيفة ١٢٢٤).

١٥١ - **حديث** : **من دخل المقابر فقرا سورة يس** خفف عنهم يومئذ وكان له بعدد من فيها حسنات الخ....) (الثعلبي في تفسيره جـ٣ صـ ١٢١ -) يعنې څوک چې مقبرې ته داخل شو او سورت يس يې وويلو نو په دغه ورځ به ددغه هديري والاؤنه عذاب سپک کړي شي او دي لوستونکي لري به

دمړو دمقدار نيکيان وي). حديث موضوعي دي – ابو عبيده پکې دي مجهول قال ابن معين : ايوب بن مدرک پکې دي ابن معين وايې کذاب او کان يکذب = ابن حبان (رح) وايې – روى عن مکحول نسخة موضوعة ولم يره – يعنې دمکهول نه يې نسخه موضوعي روايت کړي جه ليدلي يې نه وه) دريم پکې احمد بن يزيد بن دينار ابو العوام دي امام بيهقي وايې مجهول دي کما في اللسان -) علامة الالباني (رح) هم ورته موضوعي ويلي دي وګوره (الضعيفة ١٢٤٢) -

١٥٢- **حديث : العمامة على القلنسوة** فصل ما بيننا وبين المشركين يُعطى يوم القيامة بكل كورة يدورها على راسه نوراً (رواه البارودي عن ركانة مرفوعا كما في الجامع الصغير للسيوطي).

ترجمه: پتکي ترڼ په خولې (توپۍ) باندې دا جداوالي او تميز دي زمونږ او دمشرکينو مينځ کې چې ورکول کيږي به په قيامت کې دهر کور (ول د پتکي) باندې چې په سرئي راتاووي). داحديث هم موضوع دي – (الشيخ الکتاني وايې – ان سنده واه جدا (الدعامة صـ ٧ يعنې سندئي سخت ضعيف دي - ابن حجر الهيتمي وايې په احکام اللباس صـ ٩ کې : کچيرته د دې حديث ډير ضعف نه نه وي نو دليل به ؤ په عظمت شان دپتکې) الشيخ الالباني (رح) وايې: والحديث عندي باطل لان تکثير کورة العمامة خلاف هدى النبي ﷺ فيها بل هو من ثياب الشهرة المنهي

عنها - (الضعيفة ۱۲۱۷) يعني داحديث زما په نزد باطل دي ځکه ولونه دپټکی درسول الله ﷺ دطريقي نه خلاف دي بلکي دا دشهرت لباس دي کوم نه چې منع راغلي ده)

۱۵۳ - حديث : نعم العبد صهيب لولم يخف الله لم يعصه .

ترجمه: يعني صهيب دالله تعالى نافرماني د هغه د حيا د وجي نه نه ده کړي دانه چې دهغه دعذاب نه يريدلو) د دې حديث هيڅ اصل نشته اکثر ملايان يې قديما او حديثا ذکر کوي خاص کر اصحاب المعاني والعربية چې روايت يې دعمر بن الخطاب نه کوي - امام السخاوي وايې: لااصل له - (الفتاوى الحديثية ج۲ ص ۱۲) يعني کوم اصل ورلره نه شته - لهذا داحديث باطل دي خو افسوس چې يو عالم په مدارسوکي د دې دوضع نه خبر هم نه دي همدا حديث ابو نعيم الحلية ج۱ ص ۱۷۷ کې روايت کړي خو هغه هم موضوعي دي هغه بيا دسالم په هکله دي چې ان سالما شديدا الحب لله عزوجل لوکان لايخاف الله ما عصاه (خودا حديث هم موضوعي دي ځکه اول داچې دا معلق دي متصل نه دي ، دويم محمد بن اسحاق مدلس دي او دلته يې عنعنه کړي ، دريم الجراح بن المنهال پکې دچې متهم بالکذب دي دهمدي وجي نه داموضوعي دي ابن حبان وايې کان يکذب في الحديث ويشرب الخمر - يعني په حديثو کې به يې دورغ ويل او شراب به يې څکل) څلورم: پکې جهاله دحبيب بن بحيح دي

ابو حاتم وايې مجهول دي. (العلل جـ١ صـ ١١٠) دمزيد تفصيل لپاره الضعيفة ١٠٠٢ وګوره).

١٥٤ – حديث : عن زيد بن ارقم قال قال اصحاب رسول الله ﷺ يا رسول الله ﷺ ماهذه الاضاحي ؟ قال سنة ابيكم ابراهيم قالوا فمالنا فيها يا رسول الله ﷺ ؟ قال بكل شعرة حسنة قال فالصوف يا رسول الله ﷺ ؟ قال بكل شعرة من الصوف حسنة) (ابن ماجه ٣١٢٧ – ابن عدي في الكامل جـ٢ صـ ٢١٢ والحاكم في المستدرک جـ٢ صـ ٣٨٩ والبيهقي جـ٩ صـ ٢٢١ من طريق عائذ الله بن ابي داود عن زيد بن ارقم قال الخ....

ترجمه: زيد بن ارقم (رضي الله عنه) وايې : درسول الله ﷺ صحابه کرامو وويل ای رسول الله ﷺ داقربانياني څه دي ؟ هغه وويل ستاسو دپلار ابراهيم عليه السلام سنت دي هغوي وويل مونږ لره پکې څه دي ؟ هغه وويل په هر ويښته باندې نيکي ده صحابه کرامو وويل په وړيو کې څه دي ؟ هغه وويل دهري وړې باندې يوه نيکي ده) خو حديث موضوعي دي اګر چې اخونان يې دلوي اختر په ورځ ښه په جراءت وايې مونږ هم ډير کرت ويلي – الله تعالى دې عفوه وکړي = ابن عدي وايې په ترجمه دعائذ الله کې - لايصح حديثه يعنې حديث يې صحيح نه دي لکن افسوس چې حاکم وايې صحيح الاسناد - خو ذهبي (رح) وايې عائذ الله = ابوحاتم وايې منکر الحديث دی لکن الالباني (رح) وايې چې ابو داود هم متهم دي په دروغو .بلکې امام

ذهبي دعائذ الله په ترجمه کې وايې - (يضع) يعنې حديثونه به يې جوړول - ابن حبان (رح) وايې - يروى عن الثقات الموضوعات توهما لايجوز الاحتجاج به امام منذري (رح) هم په حاکم تعقب کړي وايې - بل واهية - عائذ الله هو المجاشعي = وابوداود هو نفيع بن الحارث الاعمى وكلاهما ساقط. (الترغيب جـ۲ صـ ۱۰۱) يعنې عائذ الله چې المجاشعي دي او ابوداود چې نفيع بن الحارث نوم يې دي دواړه ساقط دي نو حديث يې واهي دي) علامه بوصيري (رح) دابن ماجه په الزوائد کې وايې: في اسناده ابو داود واسمه نفيع بن الحارث وهو متروک واتهم بوضع الحديث. اهـ (الضعيفة ۱۰۵۰ جـ۱ صـ ۱۵۸) يعنې دابن ماجه په سند کې ابوداود چې نوم يې نفيع بن الحارث ؤ متروک الحديث ؤ چې دوضع حديث تهمت پري هم ؤ) -

۱۵۵ - **حديث : الغيبة اشد من الزنا** ان الرجل يتوب فيتوب الله عليه وان صاحب الغيبة لايغفرله حتى يغفرله صاحبه - (رواه السلفي في الطيوريات جـ۱ صـ ۱۷۳) لکن حديث موضوعي دي داود بن المحبر پکې دي چې دي متهم بالکذب دي خو داود بن المحبر په سند دابوموسى المديني روايت کې دی چې په اللطائف جـ۱ صـ ۴ کې روايت کړي دي البته د السلفي په سند کې بيا عباد بن کثير دي چې ثقفي بصري دی ابن حجر (رح) وايې متروک قال احمد روى احاديث کذب - يعنې متروک الحديث دی او د دروغو احاديث به يې نقل کول - خلاصه داچې دحديث

نور الفاظ هم شته چې اياكم والغيبة ، خو په ټولو كې عباد بن كثير كذاب دى لهذا حديث موضوعي دي اګر چې بعضو محدثينو ورته موضوعي نه دي ويلي خو دمحدثينو په قاعده چې وضاع كذاب دليل دي دحديث دموضوعيت - لهذا الالباني (رح) په الضعيفة كې ورته ضعيف جدا ويلي دي خو دتفصيل روسته هم دده حكم هم په وضع د دې حديث دى - اوګوزره الضعيفة جـ۴ صـ ۳۲۵ رقم ۱۸۴۲).

۱۵۶ - **حديث** : **من اغتاب رجلا ثم استغفر له غفرت له غيبة** - يعنې چاچې ديوسړي غيبت وكړو بيا يې ورته بښنه وكړه نو ددغه غيبت بښنه به ورته وشي - (ابوبكر الدقاق في حديثه جـ۲ صـ ۳۹ عن حفص بن عمر بن ميمون عن المفضل بن لاحق عن محمد بن المنكدر عن جابر (رضي الله عنه) خو حديث موضوع دي حفص پن عمر چې په الأبلى مشهور دي ابوحاتم وايې: شيخنا كذابا - الساجي وايې كان يكذب = يعنې دروغ به يې ويل العقيلي وايې : يحدث عن الائمة بالبواطيل - يعنې دائمونه به يې باطل احاديث نقل كول . لهذا حديث موضوعي دي وګوره الضعيفة ۱۵۲۰ - جـ۴ صـ ۲۹) -

۱۵۷ - **حديث** : **اختن ابراهيم وهو ابن عشرين** ومائة سنة وعاش بعد ذلك ثمانين سنة) يعنې ابراهيم چې ختنه كړي وه نو د (۱۲۰) كالوؤ او د دې نه روسته اتياكاله (۸۰) ژوندى ؤ (ابن عساكر جـ۱۵ صـ ۲۴۷) حديث

موضووع دي وليد بن مسلم پکې دی بل داچې صحيح حديث دصحيح البخاري جـ۲ صـ ۲۷۲ - مسلم جـ۷ صـ ۹۷ - احمد جـ ۲ صـ ۳۲۲ (دابوهريره (رضي الله عنه) نه داسې دي چې ، اختن ابراهيم عليه السلام وهو ابن ثمانين سنة بالقدوم = يعنې دي د (۸۰) کالو په عمر دقدوم په مقام کې سنت شوي ؤ (راجع الضعيفة جـ۵ صـ ۱۲۹ رقم ۲۱۱۲) -

۱۵۸ - **حديث : بين كل اذانين صلاة الا المغرب** - (البزار جـ۱ صـ ۳۳۴ رقم ۲۹۳) يعنې په مينځ دهر دوه اذانونو (اقامت او اذان) کې مونځ دي سوا دمابنام نه) خوحديث ثابت نه دي سند کې حيان بن عبيد الله دي مختلط او ليس بحجة دي - او حديث دصحيح ثابت حديث مخالف دی چې په هغې کې امر په دوه رکعته بين کل اذانين راغلی دی وګوره الصحيحة ۲۳۳) -

فائده: د مابنام د مونځ نه مخکې د دوه رکعتو نفلو په باره کې تقريبا دوه دېرش ۳۲ احاديث صحيحه او آثار راغلي دي چې هغه قولي فعلي او تقريري سنتو کې ثابت دي لهذا د دې نه انکار کول مکابره کول دي. د تفصيل د پاره التحقيقات في رد الهفوات وګوره.

۱۵۹- **حديث : من مات ولم يعرف امام زمانه مات ميتة جاهلية** - يعنې څوک چې مړشو او دخپلي زماني امام يې ونه پيژنده مرګ يې دجاهليت

دي) حديث لره هيڅ اصل نشته شيخ الاسلام ابن تيميه (رح۹ وايي (منها ج السنة جـ۱ صـ ۲۲) چې لا اصل له - امام ذهبئ (رح) هم په مختصر المنهاج صـ ۲۸ کې هم وايي لا اصل له والله ما قاله رسول الله ﷺ هکذا - يعني قسم په الله تعالى دا رسول الله ﷺ نه دي ويلي - البته په صحيح مسلم کې داسې الفاظ دي: من مات وليس في عنقه بيعة مات ميتة جاهلية - (الصحيحة ۹۸۴) يعني څوک چې مړشو او په غاړه کې يې داسلامي خليفه بيعت نه وي نو مرګ يې دجاهليت دي)

۱۶۰ - حديث كان اذا قراء : اليس ذلك بقادر على ان يحيى الموتى: قال بلى واذا قراء اليس الله باحكم الحاكمين قال بلى، الحاكم جـ۱ صـ ۵۱۰. يعني رسول الله ﷺ چې به كله اليس ذلک بقادر وويل الخ... نو روسته به يې بلى وويل - اوچې كله به يې اليس الله وويل الخ... نو هم به يې بلى وويل) خو احديث اګر كه مشهور معمول به دي دبعضو علماء په نزد ولي ثابت نه دي بلكي موضوعي دي سند كې يزيد بن عياض دى - حافظ ابن حجر وايي كذبه مالک وغيره - التقريب جـ۲ صـ ۳۲۹ = نسائي وايي - متروک (المغني في الضعفاء رقم ۷۱۲۵) امام ابن عراق په وضاعينو كې شمارکړي دي - تنزيه الشريعة جـ۱ صـ ۱۲۸) لهذا حديث ثابت نه دي نو عمل پري كول جائز نه دي (الضعيفة ۴۲۴۵) -

١٦١ – **حديث : كان يكره من الشاة سبعا** = الذكر والانثيين والمثانة والحياء والمرارة والقُزة والدم وان احب الشاة اليه مقدمها - (عبد الرزاق في المصنف جـ٤ رقم ٨٧٧١ والبيهقي جـ١٠ صس ٧ – وفيه مجهول - واخرجه ابن غدي جـ١ صـ ٢٤١ وابن عساكر جـ١٧ صـ ٣٢٠ من طريق فهر بن بشر حدثنا عمر بن موسى . عن واصل بن ابي جميل عن مجاهد عن ابن عباس مرفوعا -) (يعني په ګډ (پسه) کې اوه شيان رسول الله ﷺ بد ګڼل – ذكر - خصيتين - مثانه – وينه الخ... لكن حديث ثابت نه دي – دبيهقي او عبد الرزاق سند کې مجهول راوي چې واصل بن ابي جميل دي ذكر دي او دابن عدي او ابن عساكر روايت کې عمر بن موسى دي چې ، دې وضاع ؤ ابن عدي وايې بضع الحديث – يعنې حديثونه به يې جوړول - لهذا حديث ثابت نه دي . بلكه ګډ او پسه يا نور حلالو حيواناتو کې اصل قاعده دا ده چې دا به ټول پاک وي. لهذا يو اندام د دوی هم حرام يا نجس به نه وي مګر هغه چې صحيح حديث کې د هغې حرمت يا نجاست ثابت وي. او دلته ثابت نه دی.

١٦٢ – **حديث : من جمع بين الصلاتين** من غير عذر فقد اتى بابا من ابواب الكبائر - اهـ الترمذي جـ١ صـ ٣٥٢ طبع احمد شاكر، والحاكم جـ١ صـ ٢٧٥ والبزار – ٤٥٨١ – كشف وغيره) يعنې چاچې جمع بين الصلاتين وکړه بغير د عذر نه نو تحقيق ده راتګ وکړه په يوه دروازه د کبائرونه .

خو حديث باطل او اصل ورلره نشته: ابن عبد البر وايي هو حديث ضعيف (التمهيد ج۳ ص ۱۹ -العقيلي وايي -لااصل له وقد روى عن ابن عباس باسناد جيد ان النبي ﷺ جمع بين الظهر والعصر وبين المغرب والعشاء (الضعفاء للعقيلي ۹۰) يعني د دې حديث اصل نشته او دابن عباس نه په قوي سند سره د رسول الله ﷺ نه نقل دي چې هغه جمع بين الظهر او عصر او مابنام او ماسخوتن کړي وه -بل داچې سند کې حنش حسين بن قيس ابو علي الرحبي دي -حافظ وايي متروک دي -حاکم چې کله داحديث صحيح کړی نو ذهبي (رح) پرې رد کړی وايي : قلت بل ضعفوه - يعني داحديث دحنش دوجي نه ضعيف دي. لهذا حديث د دغه صحيح حديث دابن عباس چې کوم مسلم روايت کړي صحيح ابو داود ۱۰۹۲ -الارواء ج۳ ص ۳۴) خلاف دي لهذا دابه مردود وي . اګر چې ډير متحنفه يې دليل کې پيش کوي. جمع بين الصلاتين د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه کرامو نه په سفر، باران او عذر کې ثابت ده چې ټول امت د دې قائل دی سوا د احنافو نه. لهذا دا حديث ګويا د اجماع هم خلاف دی.

۱٦٤ - حديث : ركعتان بعمامة خير من سبعين ركعة بغير عمامة: (الديلمي في مسند الفردوس ج۲ ص ۱۷۲) يعني دوه رکعته مونځ کول په پټکي سره غوره دي د اويا رکعته مونځ نه بغير دپټکي نه) لکن حديث موضوع دي -احمد بن صالح پکې دی چې حديثونه به يې جوړول علامه

ابن عراق دی په وضاعينو کې ذکر کړي دي ۰ (تنزيه الشريعة جـ۱ صـ ۲۸ رقم ۱۲۲) لهذا داحديث په فضيلت دپټکي کې ذکر کول جهل دي راجع الضعيفة ۵۲۹۹ .

۱۶۵ – **حديث** : **ان لكل شي قلبا وان قلب القرآن يس** الخ... يعنې دهر شي دپاره زړه وي او زړه دقرآن سورة يس دي. (القضاعي چـ۱ صـ ۸۷) خو حديث موضوعي دي مخلد بن عبد الواحد پکې دي امام ابن عراق دي په وضاعينو کې شمار کړي دي وايې : مخلد بن عبدالواحد اتهمه الذهبي بخبر ابي بن كعب الطويل في فضائل السور (تنزيه الشريعة المرفوعة چـ۱ صـ ۱۱۷ رقم ۳۲۰) الشيخ زكريا الانصاري هم په دې دوضع حكم کړي دي (التعليق على البيضاوي جـ۱ صـ ۲۲۲ - او الالباني هم ورته موضوعي ويلي دي (وګوره الضعيفة جـ۱۲ صـ ۷۹۲ القسم الثاني رقم ۵۸۷۰).

۱۶۶ – **حديث**: **كنت كنزا** لااعرف فاحببت ان اعرف فخلقت خلقا فعرفتهم فعرفوني -)

ترجمه: زه يو خزانه وم نو ما دا نبسه وګڼل چې وپيژندی شم نو مخلوق مې پيدا کړه نو دوی مي وپيژندل نو دوی زه وپيژندلم.

خو داحديث په اتفاق دمحدثينو ناقدو محدثينو سوا دمتساهلينو باطل او موضوعي دي – شيخ الاسلام وايي: ليس هذا من كلام النبي ﷺ- يعنې دا د رسول الله ﷺ کلام نه دي (مجموع الفتاوى جـ ۱۸ صـ ۱۲۲ – نورو محدثينو هم باطل ګرځولي دي وګوره الزركشي في التذكرة صـ ۱۳۲ – امام السخاوي په المقاصد الحسنة صـ ۳۲۷ سيوطي په ذيل الاحاديث المصنوعة صـ ۲۰۳ وايي: قال ابن تيميه موضوع وهو كما قل) ابن عراق په تنزيه الشريعة جـ ۱ صـ ۱۴۸ – العجلوني په كشف الخفاء جـ ۲ صـ ۱۳۲ الالباني (رح) په الضعيفة جـ ۱۳ صـ ۵۰ رقم ۲۰۲۳) –

۱۶۷ – **حديث اكثرو ذكر الله حتى يقولوا مجنون** - (ابو يعلى ۱۳۷۲ – ابن حبان جـ ۲ صـ ۹۳ رقم ۸۱۴) يعنې دومره ذكر وكړي چې خلک درته ليوني ووايي.

داحديث هم بدعي تبليغيانو يو معمول به ګرځولي دي چې ثابت نه دي – امام ابن عدي وايي حديث باطل - يعنې داحديث باطل دي – سند کې دراج ابو السمح دي – امام احمد وايي احاديثه مناكير - يعنې حديثونه يې منكر دي – وګوره الضعيفة جـ ۱۴ صـ ۱۱۴۲ القسم الثالث رقم ۷۰۴۲).

۱۶۸ – **حديث اذا تحيرتم في الامور فاستعينوا باصحاب القبور**: يعنې كله چې تاسو حيران شوي نو دقبر والاباندې استعانت حاصل کړئ (امام ابن القيم (رح) په اغاثة اللهفان کې وايې: انه موضوع – يعنې دا موضوعي دي نور حفاظو هم ورته موضوعي ويلي – حجة الهند شاه ولي الله هم په بلاغ المبين کې ورته موضوعي ويلي دي – محمد بن بشير ظافر وايې موضوعي دي (التحذير صـ ۱۲۸) –

۱۶۹ – **حديث** : **الدنيا جيفة وطلابها كلاب** – يعنې دنيا مرداره ده او طلب کونکي يې سپي دي – امام الصغاني وايي موضوع – يعنې دا د دروغو حديث دی – التحذير صـ ۱۳۲).

۱۷۰ – **حديث** : **الشيخ في قرية كالنبي في امته** – يعنې بوډا او مشر په قوم کې لکه نبي په امت کې دي – ابن حبان (رح)، ابن تيميه او ابن حجر وايې داحديث موضوعي دي (التحذير صـ ۱۴۰) –

۱۷۱ – **حديث** : **نزول القمر في كُم النبي حيث انشق** – يعن دسپورمۍ ننوتل په لستونې درسول الله ﷺ کې چې کله هغه وچاودله علامه محمد بن بشير وايي: باطل كذب بارد – (التحذير صـ ۱۲۳ يعنې داباطل او دروغ او بې خونده کلام دی.

۱۷۲ – حديث نوم العالم عبادة: يعني دعالم خوب عبادت دي) په تبليغي فرقه کې دامشهوره ده خو باطل اوبي اصله حديث دی چې ثابت نه دي .) التحذير صـ ۱۲۲).

۱۷۳ – حديث : ناكح اليد ملعون. يعني دلاس نکاح کونکي (الاستمنا بالید) ملعون دي – علامه محمد بن بشير وايي لااصل له كما صرح به الرهاوي في حاشية على المنار اهـ التحذير صـ ۱۲۲) يعني اصل ورله نشته .)

۱۷٤ – حديث الوضوء على الوضوء نور على نور - يعني اودس کول په بل اودس نور - رڼا په بله رڼا ده ، امام عراقي وايي ، لم اقف له على اصل ولم يطلع عليه المنذري – (التحذير صـ ۱۲) يعني زه يې په اصل واقف نه يم او نه پري امام منذري خبر دي.

۱۷۵- حديث: قراءة اول سورة البقرة و آخرها: يعني د ابن عمر حديث چې اول او آخر د سورت بقرې د مړي د دفن نه وروسته د مړي سر او خپو ته ويل کېږي دا هم بدعت دی او ثابت نه دي. دري ائمة د دين: امام ابو حنيفه، امام احمد او امام مالک ورته بدعت وايي. هر چې مذکوره حديث دی کوم چې د ابن عمر روايت الطبراني جـ۱۲ صـ ۴۴۴ کې ذکر دی خو ثابت نه دی. سند کې يې يحيى ابن عبد الله البابلتي راوي دی. واهي او ضعيف دی. وګوره المغني في الضعفاء جـ ۲ صـ ۵۲۱. دوی‌م پکې ايوب ابن

نهيک دی. دی هم محدثينو ضعيف کړی دی. وګوره المغني في الضعفاء جـ۱ صـ۱۵۱ و لسان الميزان جـ۱ صـ۲۱۳.

دوهم حديث دې باره کې د عبدالرحمن ابن العلاء ابن اللجلاج دی چې دا هم طبراني په الکبير جـ۱۹ صـ ۲۲۰ کې روايت کړی. امام هيثمي په مجمع الزوائد جـ۳ صـ۴۴ کې. امام زيلعي په نصب الراية جـ۲ صـ۳۰۳ کې ذکر کې او امام بيهقي په السنن الکبری جـ۴ صـ۵۲ کې ذکر کړی دی خو ثابت نه دی. ځکه عبدالرحمن ابن العلاء ابن اللجلاج مجهول الحال دی. وګوره احکام الجنائز صـ۲۴۴.

دويم دا ضعيف اثر د صحيح حديث مخالف دی. رسول الله ﷺ فرمايي: لا تجعلوا بيوتکم مقابر فان الشيطن يفر من البيت الذي يقرا فيه سورة البقرة. اهـ (مسلم جـ۲ صـ۱۸۸).

ترجمه: يعنې تاسو د کورنو نه مقبرې مه جوړوئ (چې پکې قرآن نه لوستل کېږي) ځکه شيطان د هغه کور نه تښتي چې په هغې کې سورة البقرة لوستل کېږي.

دا حديث صريح دليل دی چې مقبره د قرآن کريم د لوستلو ځای نه دی. او دې خبرې ته د ابن عمر رضي الله عنه بل صحيح مرفوع حديث کې داسې اشاره شويده چې رسول الله ﷺ فرمايي: صلوا في بيوتکم و لاتتخذوها قبورا. (مسلم جـ۲ صـ۱۸۷)

ترجمه: يعنې تاسو په کورونو کې مونځونه کوئ او د هغې نه مقبرې مه جوړوئ. (چې مونځ او قرآن پکې نه ويل کيږي).

لهذا دا احاديث صريح دلالت كوي چې قرآن به مړي ته نه شي ويل كيدى نه په هديره كې او نه په كور كې د دې وجې نه امام ابو حنيفه، امام مالک او امام احمد مړي ته قرآن لوستل حرام ګرځولي دي.

امام ابن ابي العز الحنفي وايي: فمن قال بكراهتها كابي حنيفة و مالک و احمد قالوا: لانه محدث لم ترد به السنة و القراءة تشبه الصلاة والصلاة عند القبور منهي عنها فكذلک القراءة. اهـ (شرح العقيدة الطحاوية جـ۲ صـ۲۷۵ و شرح فقه اكبر لملا علي قاري حنفي صـ۸۹).

ترجمه: يعنې هغه څوک چې قرآن ويل مړي ته حرام ګڼي لكه ابو حنيفه، مالک او احمد دوى وايي: ځكه دا بدعت دى چې احاديث پرې نه دي راغلي او قراءت د مونځ سره مشابه دى. او مونځ كول په هديره كې منع دي نو همدارنګه لوستل د قرآن هم منع شول. د مزيد تفصيل دپاره التحقيقات في رد الهفوات صـ۵۹۳ ته رجوع كول پكار دي.

فائده: د احنافو په نېز چې كله كراهت مطلق ذكر شي نو مراد ترېنه حرمت وي دا خبره علامه عبدالحي لكهنوي په مقدمه د شرح الوقاية المسمى بعمدة الرعاية كې كړېده. لهذا اوسني احناف حضرات په دې مسئله كې د چا پسې روان دي؟ حديث خو ثابت نه دى. او نه دا د امام صاحب مذهب دى. معلومه شوه چې دوى د خپلو خواهشاتو پسې روان دي. والله اعلم.

فصل

هغه کلمات او مثالونه چې دروغجنو ترینه احادیث جوړ کړي

۱ - **اغتسلوا یوم الجمعة ولوکانت بدینار** - یعنې تاسو د جمعې په ورځ غسل وکړي اګر ه یوه کاسه په یو دینار وي (داهم د کلام دانس بن مالک نه دي حدیث نه دي چې پکې کذاب راوي دی. (المقاصد الحسنة واسنی المطالب التحذیر صـ ۹۰).

۲ - **اخروهن من حیث اخرهن الله** : یعنې ښځې روسته کړي د کوم نه چې الله تعالی دوی روسته کړي دي .

۳ - **ابراهیم علیه السلام چې اور کې وغورځول** شو نو وي ویل حبسي الله ونعم الوکیل - دا دابن عباس (رضی الله عنه) قول دي - حدیث نه دي (التحذیر صـ ۹۱).

٤ - **خیر الامور اوساطها** - یعنې بهترین د کارونو درمیانه ددې دی) داهم حدیث نه دي بلکي د مطرف بن عبد الله قول دي - قاله السیوطي عن ابن الجریر (التحذیر صـ ۹۸).

٥ - **لووزن ايمان ابي بكر** بايمان الناس لرجح ايمان ابي بكر (يعنې كه دابوبكر صديق (رضي الله عنه) ايمان دخلكو دايمان سره تول كړي شي نو دابوبكر صديق (رضي الله عنه) ايمان به راجح شي داهم حديث نه دي بلكي دعمر بن الخطاب (رضي الله عنه) قول دي چې دابوبكر صديق په مدح كې يې ويلي دي. (التحذير ص١١١).

٦ - **من عرف نفسه فقد عرف ربه** - يعنې چاچې ځان وپيژنده نو تحقيق رب يې وپيژنده، امام الصغاني وايې موضوع دي ابن السمعاني وايې چې دانه پيژندل كيږي ګويا داد يحيى الرازي كلام دي، التحذير ص١١٢.

٧ - **الناس اعداء لما جهلوا**: خلک دښمنان دي دهغه څه چې نه يې پيژني. داهم دذي النون مصري قول دي - حديث نه دي (التحذير ص١١٨.

٨ - **الناس على دين ملوكهم** - يعنې خلک په طريقه دبادشاهانو دي، داهم حديث نه دي - څوک وايې چې دادعمر بن الخطاب قول دي، التحذير ص١١٩).

٩ - **لا سيف الا ذو الفقار** ، لافتى الاعلي (ﷺ) - دامشهور كلام موضوعي اثر دي روافضو جوړكړي دى او ذو الفقار د ابو جهل د توري نوم وو. (تميز الطيب من الخبيث رقم ١٢٢٣.

فائده : داچې مشهور ده چې امام شافعي (رح) او ابويوسف ، هارون رشيد زمانه كې يوځاى شوي ؤ شيخ الاسلام (رح) وايې داباطل حكايت دي .ابن حجر وايې موضوعة مكذوبة - (التحذير صـ ١٧٢).

فائده: دعلي (ﷺ) قبر چې په كوفه كې په نامعلومه ځاى كې دي (البداية والنهاية) لكن عواموالناس او شيعه ګانو كې مشهور دي چې دا په بلخ كې دي ټول دروغ او باطل دي . دنوروز (دحمل اوله ورځ) كې عام ساده او جاهل خلک ددغه مزار جنډه جګول او حكومتي اداره كې هم ورته ډيره توجه كيدي شي بلكي بعضې داعقيده هم لري چې راندې پكې بينا كيږي = جنډه جګول - دنوروز په ورځ لمانځل دهغې مبارکي ددغې ورځې احترام كول كفر شرک او ردت دي او دي باره كې داسې خلک چې د دې ورځې احترام كوي د دې حديث لاندې راځي چې رسول الله ﷺ فرمايې: من تشبه بقوم فهو منهم. يعنې د وى د شيعه ګانو او مجوسو په ډله كې شمار دي.

فصل

دحديثو دكتابونو طبقات

اوله طبقه: شاه ولي الله (رح) وايي: په تتبع او استقراء سره داطبقه په دري كتابونو كې منحصره ده = (۱) موطاء امام مالک - صحيح البخاري - صحيح مسلم - امام شافعي وايي: اصح الكتب روسته دكتاب الله موطاء دامام مالک دي پدې كې دي مؤطات جمع كړي محدثين وايي چې ټول احاديث په موطاء كې صحيح دي او بعضې وايي چې كوم مرسل او منقطع پكې دي نو هغه دبلې طريقي نه متصل السند دي نو نتيجه داشوه چې موطاء صحيح ده دټولو وجوهُ نه = دامام مالک نه موطاء بغير دواسطي نه ۱۰۰۰ اشخاصو نقل كړي - موطاء امام مالک په خپل عصر كې دومره شهرت ته ورسيده چې ټول جهان كې مشهور شوه چې علماء او محدثينو تخريجات او متابعات او شواهد جمع كړه. (حجة الله البالغة جـ۱ صـ ۳۱۲).

د امام محمد دكتاب الآثار د حيثيت: شاه ولي الله (رح) وايي: فقس كتاب الموطاء بكتاب الله لمحمد والامالي لابي يوسف تجد بينه وبينهما بُعد المشرقين فهل سمعت احداً من المحدثين والفقهاء تعرض لهما واعتني بهما - اهـ حجة الله جـ۱ صـ ۳۰۲).

ترجمه: دامام مالک موطاء چې کله ته قیاس کړي په کتاب الاثار دمحمد اوامالي دابو یوسف سره نو د دوی په مینځ کې به لکه دمشرق او مغرب فرق وګوري او تاچیرته کوم محدث لیدلي دي یا فقیه چې دکتاب الاثار او یا آمالي دابو یوسف ته یې کوم تعرض کړي وي؟ نه یې ګوري نه یې په حدیثو کې شماروي).

دصحیح البخاري او صحیح مسلم مقام: شاه ولي الله وایي: فقد اتفق المحدثون على ان جميع ما فيهما من المتصل المرفوع صحيح بالقطع وانهما متواتران الى مصنفيهما - وان كل من يهون امرهما فهو مبتدع متبع غير سبيل المؤمنين - (حجة الله البالغة ج۱ صـ ۳۰۲).

ترجمه: دمحدثینو اتفاق په دې دي چې په بخاري او مسلم کې ټول احادیث صحیح مرفوع دي قطعا او دامتواتر دي خپلو مصنفینوته - اوهر هغه څوک چې د دې دواړو کتابونو توهین کوي (بل کتاب دحدیث پرې مقدم کوي) نو دې بدعتي دي او دمسلمانانو دلاړې نه وتلي دي) بیاوایي: چې کله ته دطحاوي (رح) معاني الاثار او مسند الخوارزمي موازنه دصحیحینو سره وکړي تجد بینها وبینهما بعد المشرقین – او دمشرق او مغرب په اندازه لیري والي به وګوري. (حجة الله ج۱ صـ ۳۰۲).

دوهمه طبقه: داهغه کتابونه دي چې دموطاء او صحيحينو مقام او مرتبي ته نه دي رسيدلي لکن ورته نزدي دي چې مصنفين يې مشهور په وثوق ، عدالت ، حفظ ، او تبحر په علم الحديث کې دي او په خپلو دغه تصانيفو کې په تساهل راضي نه دي کوم چې په خپلو تصانيفو کې شرط کړي وي - او د دې نه روسته دغه کتابونه دا حديث دمحديثنو او فقهاء قبول کړي وي او دخلکو مينځ کې مشهور شوي وي او محديثنو دهغوي دحديثو نه استنباطات او شروح دغريبو دهغې کړي وي .) په دې طبقه کې سنن ابوداود دجامع ترمذي – مجتبى دالنسائي شامل دي – شاه صاحب وايې – مسند احمد هم دي طبقي ته نزدي دي ځکه امام احمد (رح) خپل مسند اصل کرځولي دي چې په هغې سره صحيح او سقيم معلوميدي شي امام احمد وايې: ماليس فيه فلاتقبلوه - (حجة الله جـ١ صـ ٣٠٨) يعنې هغه حديث چې په مسند کې کې نه وي مه يې قبلوي).

دريمه طبقه: هغه مسانيد - جوامع - مصنفات دي چې دامام بخاري نه مخکې تصنيف شوي دي او دهغې په زمانه او يا روسته دهغې نه چې پکې صحيح - حسن – ضعيف - غريب – شاذ = منکر خطاء صواب ثابت – مقلوب تول ذکر وي اوعلماؤ کې په همدي مشهور وي او دفقهاؤ په مينځ کې متداول ډير نه وي اونه يې چا دصحت او ضعف اهتمام کړي وي لکه چې دنورو شوي وي اونه يې دغريب الحديث خدمت شوي وي نه

يي مؤرخ اسماء الرجال ذكر كړي وي چې دغه كتابونه په خپل حال پاتي شوي وي يعنې په ضعف باندې ـ دي كتابونو كې – مسند ابو يعلى – مصنف عبد الرزاق - مصنف ابن ابي شيبه – مسند عبد بن عبيد – مسند طيالیسي - كتب البيهقي – الطحاوي = الطبراني – ګويا كه ددوی قصد صرف جمع كول دهغه څه ؤ چې موندل يې – نه يې تلخيص او نه يې تهذيب غرض وي.

څلورمه طبقه : داهغه طبقه ده چې مصنفينو روسته دډيرې مودي نه جمع دهغه احاديثو كړي چې په اوله او دوی مه طبقاتو كې نه موندل كيږي او دا احايث په جوامع او مسانيدو كې پټ دي نو ددوی هغه راواُچت كړل او دغه احاديث ډيرو داسو خلكو په خولو او ژبو كې ؤ چې محدثينو دهغوي حديثونه نه ليكل لكه ډير هغه واعظين مبالغه كونكي - اهل الهواء والضعفآء خلک – اويا آثار دصحابه كرامو وي او يا دتابعينو - او يادبني اسرائيلو اخبار وي يا دحكماء وعاظو خبرې وي خو راويانو درسول الله ﷺ دحديث سره خلط كړي او حديث ترينه جوړ كړي سهوا يا عمدا - او يا دقرآن دحديث صحيح سره برابر ؤ نو بالمعنى بعضې صالحينو دغه روايت كړل چې دغه صالحينو بيا دومره غوامض دروايت نه پيژندل نو معاني يې حديث مرفوعه وګرځول او يائي اشارات دكتاب الله او سنت مستقل احاديث وګرځول قصدا عمدا او يائي يوه يوه جمله په مختلفو احاديثو كې ذكروه خودوی ترينه يو حديث جوړ كړو په يوسند سره

- دداسې احاديثو ځای بيا لاندې کتابونه دي. کتاب الضعفاء لابن حبان - الکامل لابن عدي - کتب الخطيب - ابي نعيم - الجوزقاني - ابن عساکر - ابن النجار - الديلمي - مسند الخوارزمي يکون من هذه الطبقة - د دې طبقې زيات ښه هغه حديث دی چې ضعيف دي محتملا او زيات بد حال يې هغه حديث دی چې موضوعي مقلوب يا ډير منکر دي (حجة الله البالغة ج۱ صـ ۳۰۹).

خلاصه : شاه صاحب وايي: اوله او دويمه طبقه باندې اعتماد د محدثينو دي او د دې طبقونه ګردچاپير ګرځي هر چې دريمه طبقه ده نو پدې عمل او قول نه کوي مګر هغه ناقدين او جهابذه محدثين چې تجربه کاروي اسماء الرجال - علل الحديث کې مهارت لري البته کله يې په متابعاتو او شواهدو کې پيش کوي - او هرچې څلورمه طبقه ده نود دې په جمع کولو يا دهغې نه استنباط کول د متاخرينو تعمق او سينه زوري ده او که ته غواړې چې حق ووينې نو د مبتدعينو، د روافضو، معتزلهؤ يا نورې ګمراه ډلې د دې طبقې د حديثو نه د مذهب د پاره شواهد نيسي. نو د دې طبقې نه مدد غوښتل صحيح نه دي په ميدان جنګ د علماء د حديثو مينځ کې. (حجة الله البالغة ج۱ صـ ۳۱۰ - طبع دار المعرفة بيروت).

فصل

۱- **مسند امام اعظم**: داهم دموضوعاتو نه ډک دی چې نسبت يې ابو حنيفه (رح) ته صحيح نه دي – شاه عبد العزيز (رح) وايي: بايد دانست که از تصانيف ائمه اربعه درعلم حديث امروز در دست مردم غير موطاء موجود نيست ومسانيد ائمه ديگر که درعالم مشهور است خود ايشان به تصنيف آن نه پرداخته اند بلکه ديگران بعد از ايشان آمده و مرويات ايشان راجمع کرده اند (بستان المحدثين صـ ۷۲ – ۷۷).

ترجمه: په دې ځان پوهول په کاردي چې دائمه اربعه نه په علم الحديث کې نن ورځ دخلکو په لاس کې سوا دموطاء نه بل کتاب نشته او دانور مسانيد مشهور دي د دې ائمو ، نو دانوروخلکو جمع کړي او بيائي ورته نوم دفلاني مسند ايښي دي).

هرچې مسند امام اعظم دي نودا دحسين بن محمد بن خسرو البلخي تصنيف دي امام ذهبي (رح) ليکي: محدث شهير لکنه معتزلي وکان يصحف قال ابن عساکر ماکان يعرف شيئا (المغني في الضعفاء رقم ۱۵۲۴) يعنې مشهور محدث ؤ ولي معتزلي ؤ او تصحيف به يې هم کولو ابن عساکر وايي : چې هيڅ شي به يې نه پيژندلو . لهذا په جامع المسانيد دامام اعظم کې چې څه احاديث دي اکثر موضوعات مقلوبات مضطرب

او مرسل روايات دي - دارنګه مسند دخوارزمي چې نسبت يې امام صاحب ته کيږي هم کذاب دی ځکه خوارزمي خپله مجروح دي ۰

۲ - **کتاب الاثار**: دامام محمد داهم داثارو کتاب دي ولي مصنف يې امام احمد بن حسن الشيباني دامام صاحب شاګرد دي چې دمحدثينو په نزد هم مجروح راوي دي - اکثرو محدثينو ده ته جهمي کذاب ويلی دی (وګوره ميزان الاعتدال للذهبي والضعفاء للعقيلي و کتاب السنة لابن عبدالله ابن عبدالاحمد). لهذا کتاب الاثار چې اکثر مقطوع روايات پکې دي قابل استدلال نه دي.

۳ - **اعلاء السنن**: داهم دظفر احمد تهانوي حنفي ديوبندي کتاب دی ۲۱ جلده دي چې دډيرو خرافاتو مجموعه ده - اکثر و احاديثو کې تدليس تلبيس او دمحدثينو دقواعدونه انحراف کړي دي لهذا د دې کتاب نه نقل به نقد او تنقيح ته محتاج وي او تاؤيلات بارده ته به پکې کوم اعتبار نه وي لکه چې مؤلف يې دا کار کړی.

٤ - **کنز العمال**: داهم دحديث لويه مجموعه ده. څه کم پنځوس زره احاديث پکې دي خوولي يو حديث هم سند نلري - والاسناد من الدين - اسناد د دين څخه دی لهذا داهم دډيرو خرافاتو موضوعاتو نه ډک دي

همداسې د دې کتاب نه نقل او په هغې استدلال د علم حديث نه بې خبرې ده لهذا قابل استدلال کتاب نه دي .

٥ – **اثار السنن دنيموي**: داهم ديومتعصب ديوبندي کتاب دی په مدارسو ديابنه کې تدريس کيږي - مؤلف د دې کتاب په دې کتاب کې ډير دد جل او فريب او خداع نه کار اخستی دی. صحيح احاديث يې دمخالفينو ذکر کړي ولې اخر کې بيا داسې بارد تاويل اويا دجل او دروغ ووايې چې ظاهر کې داحديث منسوخ يامرجوح ښکاره کړي. د دې د رد لپاره علامه عبدالرحمن مبارکفوري کتاب ابکار المنن في تنقيد اثار السنن لاړمي دي. ترڅو چې دده دجل فريب چالاکي معلومه شي.

٦ – **زاد الطالبين** : داهم دحديثو يوه وړه رساله ده – ولي مؤلف پکې ډير موضوعي روايات – معضل – مضطرب او مقطوع احاديث ذکر کړي - دامونږ صرف دتنبيه لپاره ذکر کړه چې ملايان يې په پټو ستر ګو مدارسو کې تدريس کوي – چې داهم تنقيد او تحقيق ته اشد ضرورت لري .

٧ – **المستدرک للحاکم** : داهم د امام ابوعبدالله الحاکم تصنيف دي جليل القدر او دحديثو ماهر ؤ اوپه المستدرک کې ده هغه احاديث روايت کړي چې دده په ګمان دا دصحيحينو په شرط دي لکن ډير داسې احاديث چې موضوعي دي هم ده روايت کړي دي د دې وجې نه امام شاه عبد العزيز

(رح) وايي: (بلكه بعضي از احاديث موضوعه نيز هست كه تمام مستدرک بانها معيوب گشته - ولهذا علماء حديث قرار داده اند: به مستدرک حاكم اعتماد نه بايد كرد مگر بعد از ديدن تلخيص ذهبي (رح) اهـ بستان المحدثين صـ ١١٠ - ١١٣).

ترجمه: بلكي بعضي احاديث په المستدرک كي موضوعي دي چې مستدرک يې پري معيوب كړی دی. ددې وجي نه علماء د حديثو دا قاعده ذكر كړي چې په المستدرک به اعتماد نه شي كيدي ترڅو چې تلخيص المستدرک د ذهبي (رح) ونه ګوري)

٢ - **علامه عبدالحي لكهنوي وايي**: قال ابن دحيه في كتابه (العلم المشهور: يجب على اهل الحديث ان يتحفظوا من قول الحاكم فانه كثير الغلط ظاهر السقط وقد غفل عن ذلک كثير ممن جآء بعده وقلده في ذلک - اهـ (الاجوبة الفاضلة صـ ٨٠).

ترجمه: ابن دحيه په العلم المشهور كې وايي: په اهل حديثو واجب دي چې د حاكم د قول حفاظت دي وكړي ځكه دي ډير غلطي والا ظاهر كې خويدلي دی او د دې نه غافل دي ډير هغه خلک چې روسته د ده نه راغلي دي او د ده تقليدئي په دې كې كړي. راجع قول الذهبي في احاديث المستدرک جـ١ صـ ٢٣٤ - جـ٢ صـ٣٠٥ جـ٧ صـ ٢١ جـ٣ صـ ١٢٢).

۳ - **علامه عيني ليکي** : قد عرف تساهله وتصحيحه للاحاديث الضعيفة بل الموضوعة - (الاجوبة الفاضلة).

ترجمه: يعني دحاکم تساهل او تصحيح دهغه احاديثو چې موضوعي او ضعيف دي پيژندل شويده)

۴- امام زيلعي په نصب الراية جـ ۱ صـ ۳۴۱ - ۳۴۲ کې دده په تساهل جامع کلام کړي دي فراجعه ان شئت.

فوائد

۱- فائـــده : علامـه عبدالحي لكهنـوي ليكـي: ان الامـور الدينيـة باسـرها محتاجـة الـى بـروز سـندها واتصـالها الـى منبعهـا او تصـريح مـن يُعتمـد عليه بها ولا يستثنى من ذلک شيئ منها الخ.... الاجوبة الفاضلة صـ۲۵).

ترجمه: ټول دیني امور (فروعي او اصولي مسائل) محتاج دي ښکاره کولو د سند ته او دهغې اتصال خپلي مرجع او منبع ته او يا تصريح دهغه مصنف چې پري اعتماد کيدي شي چې هيڅ يو مسئله بيا د دې نه مستثنی نه ده).

فائده : **امام ابن ماجه القزويني**: دی هم دحديثو حافظ ؤ واسع العلم ؤ – عبدالحي لكهنوي وايي: وانما غض من رتبة سننه ما في الكتاب من المناكير وقليل من الموضوعات (الاجوبة الفاضلة صـ ۷۱) يعنې دابن ماجه دكتاب رتبه په دې كمه ده چې پكې منكر اولږ احاديث موضوعي شته دي) امام ذهبي (رح) دابن ماجه په ترجمه كې وايي: واما الاحاديث التي لاتقوم بها حجة فكثيرة لعلها نحو الالف (۱۰۰۰) (سير اعلام النبلاء ونقله عنه الصنعاني في توضيح الافكار جـ۱ صـ ۲۲۳) يعنې هغه احاديث چې په هغې استدلال نشي كيدي په ابن ماجه كې هغه ډير دي كيدي شي چې ۱۰۰۰ وي).

فائده : **ابو نعيم والخطيب وابن الجـوزي** : امام الحافظ الذهبي ليكي: الخطيب وابونعيم وكثير من العلماء المتاخرين لا اعلم لهم ذنبا اكبر من

روايتهم الاحاديث الموضوعة في تاليفهم غير المحذرين منها وهذا اثم وجناية على السنن فالله يعفو عنا وعنهم (الرواة الثقاة المتكلم فيهم بما لا يوجب ردهم صـ ١١).

ترجمه: خطيب بغدادي - ابونعيم او نورې ير متاخرين علماء ددوی نوره ګناه نه وينم سوا د دې نه چې دوی په خپلو تاليفاتو کې موضوعي احاديث راوړي اويره ترينه نه کوي او داګناه اوجنايت دي په سنتو - الله تعالى دي مونږ ته اودوی ته هم عفوه وکړي).

امام ابن تيميه (رح) وايي: وابونعيم يروي في الحلية في فضائل الصحابة وفي الزهد احاديث غرائب يعلم انها موضوعة وكذلك الخطيب وابن الجوزي وابن عساكر وامثالهم - اهـ الرد على البكري صـ ١٩).

ترجمه: ابونعيم په حليه کې دصحابه کرامو په فضائلو او زهد کې غريب (ضعيف) احاديث راوړي معلوميږي چې هغه موضوعي دي همدارنګ خطيب = ابن الجوزي - ابن عساكر او نور ددوی په شان.

فائده: دمحدثينو اصطلاح چې لايصح هذا الحديث : دمحدثينو دا اصطلاح چې لايصح هذا الحديث دوه اړخونه لري ابو غده کوثري المذهب وايي: ومن المقرر عندهم انهم اذا قالوا في الحديث في باب احاديث الاحكام لايصح او لايثبت ونحوها فالمراد نفي الصحة الاصطلاحية وحينئذ لايلزم من نفيها نفي الحسن والضعف عن الحديث واذا قالوا

في الحديث : في باب الاحاديث الموضوعات : لا يصح فهو بمعنى قولهم فيه باطل او موضوع على السواء.اهـ التعليق على المنار المنيف صـ١١٣).

ترجمه: يعنې چې کله محدثين په يو حديث کې په باب د احکامو کې دا ووايې چې لايصح او لايثبت نو مراد ترينه نفي د صحت اصطلاحي ده چې د ده نه نفي د حسن يا ضعف د حديث نه لازميږي او چې کله دغه الفاظ په هغه احاديثو کې استعمال کړي چې په باب د موضوعاتو کې وي نو مراد ترينه باطل او موضوعي احاديث وي.

فائده: **المسند للامام احمد**: امام الاعلام امام السنة والجماعة ، امام احمد مسند احمد روايت کړي چې د ده په هکله امام ذهبي (رح) وايې: فيه جملة من الاحاديث الضعيفة مما يسوغ نقلها ولايجب الاحتجاج بها وفيه احاديث معدودة شبيه موضوعة لكنها قطرة في بحر -اهـ (الاجوبة الفاضلة صـ ٩٥) مسند احمد کې ضعيف احاديث شته چې احتجاج به پرې نه شي کيدي اوپه دې کې بعضې احاديث د موضوع سره مشابهت لري لکن دالکه قطره په درياب کې).

شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) وايې: صنف احمد كتابا في فضائل الصحابة ابي بكر وعمر وعثمان وعلي وغيرهم وقد روى في هذا الكتاب ماليس في مسنده وليس كل ما رواه في المسند وغيره حجة عنده بل يروي ما رواه اهل العلم -اهـ (منهاج السنة ج۴ صـ ٢٧ ج۴ صـ ١٥).

ترجمه: امام احمد (رح) په فضائلو د صحابه کرامو او خلفاؤ اربعه کې یو کتاب تصنیف کړي او دي کې هغه احادیث روایت کړي چې په مسند کې هغه نشته او ټول هغه احادیث چې په مسند کې روایت دي قابل حجت دده په نزد نه دي بلکې دي روایت کوي هغه احادیث چې نور اهل علم والا روایت کړي وي)

د اعتماد وړ کتابونه

اولاً- التفاسير: (۱) ابن کثير تحقيق عبد الرزاق مهدي (۲) تفسير البغوي (۳) احسن الکلام لشيخ عبد السلام ، لولاذکر اسباب النزول (۴) عمدة التفسير اختصار تفسير ابن کثير (۵) روح المعاني الافي مواضع ذکر بعض اشارات الصوفية (۶) ابن جرير الافي بعض المواضع (۷) فتح البيان في مقاصد القرآن للصديق حسن خان

ثانيا – کتب الحديث: صحيحين - البخاري ومسلم –صحيح سنن الاربعة للالباني (رح) - مسند احمد –السنن الکبرى ومعرفة السنن والخلافيات للبيهقي (رح) - سلسلة الاحاديث الصحيحة للالباني (رح) =صحيح الجامع الصغير له ايضاً –صحيح ابن حبان –مسند ابي يعلى، السنن للدار قطني المحققة.

ثالثاً : شروح الحديث : فتح الباري شرح البخاري لابن حجر - ارشاد الساري شرح صحيح البخاري للقسطلاني ، عون الباري شرح مختصر البخاري للصديق حسن خان – ۲ –شرح النووي على صحيح مسلم - ۳ – تحفة الاحوذي شرح ترمذي للمبارکفوري- عارضة الاحوذي شرح الترمذي - ۴ –عون المعبود شرح سنن ابو داود - المنهل العذب المورود

شرح سنن ابي داود - محمود خطاب - مرعات شرح المشكاة - للمباركفوري - توضيح الاحكام وسبل السلام شرح بلوغ المرام -

رابعاً كتب فقه الحديث : المحلى لابن حزم - نيل الاوطار للشوكاني - المغني لابن قدامة - المجموع شرح المهذب للنووي ، زاد المعاد في هدي خير العباد لابن القيم (رح) - الدراري المضية وشروحها للشوكاني - الروضة الندية شرح الدراري المضية للصديق حسن خان = شرح السنة للبغوي - فيض القدير شرح جامع الصغير للمناوي .

خامساً : **كتب اسماء الرجال** : الجرح والتعديل لابن ابي حاتم - تهذيب التهذيب وتقريب التهذيب ولسان الميزان لابن حجر (رح) وتهذيب الكمال للمزي - والكاشف والميزان والمغني وديوان الضعفاء للذهبي (رح) والضعفاء للعقيلي، والكامل لابن عدي - والمجروحين لابن حبان والثقات له ايضاً - التاريخ الكبير للبخاري (رح).

سادساً : **كتب العقيدة**: الدرر السنية في الاجوبة النجدية ومجموعة الرسائل والمسائل النجدية لعلماء النجد - شرح عقيدة الطحاوية لابن ابي العز الحنفي - والجامع في طلب العلم الشريف لعبد القادر بن عبد العزيز ، والتوحيد لابن خزيمة - والسنة لعبد الله بن احمد - والسنة

للالكائي= معارج القبول للحكمي ، الدين الخالص للنواب صديق حسن خان – وكتب شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب وابنائه واحفاده.

سابعاً : **كتب الجهاد**: مشارع الاشواق لابن النحاس الدمشقي - والعمدة في اعداد العدة: لعبد القادر بن عبد العزيز ، والجهاد لعبد الله بن مبارك- والدفاع عن اراضي المسلمين لعبد الله عزام و موسوعة الذخائر العظام في اربعة اجزاء ضخام لعبد الله عزام.

ثامناً : **كتب الفتاوى**: مجموع الفتاوى لابن تيميه(رح) - فتاوى الكبرى و مختصر الفتاوى المصرية له ايضا.

تاسعاً : جميع كتب ابن تيميه وابن القيم والمقدسي وابو بصير و عبد القادر بن عبد العزيز المعاصرين.

عاشراً: **التواريخ والسير**: البداية والنهاية لابن كثير وسير اعلام النبلاء للذهبي (رح).

الحادي عشر: **معرفة الصحابة**: الاصابة في تميز الصحابة - لابن حجر – واسد الغابة في معرفة الصحابة لابن الاثير – والاستيعاب لابن عبد البر.

الثاني عشر: **كتب في الرد على التقليد**: اعلام الموقعين لابن القيم (رح) - القول المفيد في الاجتهاد والتقليد للشوكاني. والاتباع لابن ابي العز الحنفي والانصاف و عقد الجيد كلاهما للشاه ولي الله.

الثالث عشر: **كتب الاحاديث الموضوعة**: الموضوعات لابن الجوزي – اللالي المصنوعة - والذيل مع تساهله للسيوطي وتنزيه الشريعة المرفوعة لابن عراق الكناني - والاسرار المرفوعة في الاخبار الموضوعة لملا علي القاري الافي بعض المواضع مع تساهله – والعلل المتناهية في الاحاديث الواهية لابن الجوزي والمنار المنيف لابن القيم (رح) والتميز الطيب من الخبيث لابن الديبع – والكشف الالهي عن شديد الضعف والواهي للسندروسي – والفوائد المجموعة للشوكاني = والاباطيل للجوزقاني – والمقاصد الحسنة للسخاوي وكشف الخفاء للعجلوني = تذكرة الموضوعات للفتني و سلسلة الاحاديث الموضوعة ٢٠ مجلدا للالباني.

الرابع عشر: **كتب الوعظ**: الترغيب والترهيب للمنذري – والداء والدواء لابن القيم (رح) وصحيح وصايا الرسول ٣ مجلدات و نضرة النعيم في ١٢ مجلدات.

الخامس عشر: **الكتب في رد البدعات** : الباعث لابي شامة = كتاب البدع والنهي عنها لابن وضاح. السنن والمبتدعات، والابداع في مضارع الابتداع للشيخ علي محفوظ، والمدخل لابن الحاج الافي مواضع العقيدة، فانه زل في باب العقيدة فالله يعفو عنه -ضياء النور لمحمد طاهر والسنة له ايضاً والاتباع للسيوطي.

السادس عشر: **التخريجات** : نصب الراية للزيلعي - والتلخيص لابن حجر ارواء الغليل للالباني.

السابع عشر: **اصول الفقه**: الاحكام في اصول الاحكام لابن حزم = ارشاد الفحول للشوكاني وبا لله التوفيق.

الخاتمة

په اخر کې داويو چې انسان دسهو او خطاء نه بچ نه دي که کوم قول او يا کلام زمونږ د قرآن وسنت او اجماع نه خلاف وي نوزه ترينه رجوع کوم . الله تعالى دي وکړي چې د دې کتاب نه علماء او عام خلک فائده مندشي او زمونږ لپاره دي الله تعالى ذريعه دنجات داخرت وګرځوي – وسبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لااله الاانت استغفرک واتوب اليک .

کتبها ذلک ايمانا واحتسابا

ابويزيد عبدالقاهر خراساني

۲۵ – ربيع الاول – ۱۴۳۳هـ

ABTALUL ISLAM

Contact:

E-mail: abtalulislam@gmail.com

Site: http://www.abtal.webs.com

فهرست		
شمبره	مضامين	صفحه
۱	مقدمه	۱
۲	نن وخت کې د امت د علماؤ حال	۲
۳	په رسول الله ﷺ باندې دروغ جوړول	۳
۴	تاسف او ګیله	۴
۵	فصل: د حدیثو په باره کې د سلفو کوششونه	۵
۶	موضوعي حدیث	۷
۷	د موضوعي حدیث ۱۵ علامات	۸
۸	د موضوعي حدیث اسباب	۱۲
۹	وضاعین ۸ اته قسمه دي	۱۴
۱۰	بعضې مشهور وضاعین	۱۶
۱۱	د موضوعي حدیث حکم	۱۷
۱۲	امت محمدي ﷺ ته چا خرافات نقل کړل	۱۹
۱۳	بعضې تفاسیر او کتابونه چې په موضوعاتو ډک دي	۲۰
۱۴	د وعظ او حدیثو ۴۹ کتابونه چې په کې موضوعات ډیر دي	۳۰

۱۵	د عبدالحي لکهنوي په تحقيق د فقهې د کتابونو حيثيت	۵۴
۱۶	اجمالي موضوعات او خرافات ذکر کول	۵۸
۱۷	د خضر عليه السلام وفات يقيني دی	۷۷
۱۸	حديث ابو حنيفة سراج امتي موضوعي دی	۱۰۵
۱۹	هغه کلمات او مثالونه چې خلکو ترېنه حديثونه جوړ کړيدي	۱۵۷
۲۰	د حديثو د کتابونو طبقات	۱۶۰
۲۱	د مسند امام اعظم حيثيت	۱۶۵
۲۲	فوائد	۱۷۰
۲۳	د اعتماد وړ کتابونه	۱۷۴
۲۴	الخاتمة	۱۷۹

په دې کتاب کې به تاسو ولولئ:

- په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د دروغو څخه ځان ساتل.
- د بعضې مفسرينو اسرائيلي او خرافي قصې رد کول.
- د مشهور موضوعي احاديثو نشان دهي کول.
- بعضې وضاعين او دروغجن خلک په ګوته کول.
- مشهور کتابونه د وعظ چې په خرافاتو مشتمل دي ذکر کول.
- د حديثو د کتابونو طبقات او د بعضو متساهلينو محدثينو ښودل.
- د پښتو په معاشره کې خرافات او بعضې قصې رد کول.
- د بعضو متساهل او حاطب ليل مفسرينو او محدثينو ښودل.
- د موجوده فقهي کتابونو په باره کې جامع قاعده ذکر کول.
- قابل اعتماد او با تو قع کتابونه معاشرې ته وړاندې کول.